# ويښ ځلميان

## د افغانستان يو سياسي تحريك

(۱۳۲۵-۱۳۵۰ هـ ش/۱۹۴۶-۱۹۷۱ع)

ليکوال

محمد علم بڅرکی

# ویښ ځلمیان

## د افغانستان یو سیاسي تحریک

(۱۳۲۵- ۱۳۵۰ هـ ش)

(۱۹۴۶- ۱۹۷۱ ع)

لیکوال

محمد علم بخرکی

## کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : ویښ ځلمیان

لیکوال : محمد علم بخرکی

کمپوز : احمد ویس وردګ

خپروونکې : افغاني کلتوري ټولنه، نیدرلنډ

د خپرېدو نومره : دوهمه

د خپرېدو کال : ۱۳۷۹/ ۲۰۰۰


# په نامه

زه

خپل دا وړوکی کتاب

د ویښو ځلمو د کاروان هغه غړي ته

ورپه نامه کوم، چې دوی ته یواځې تحریك ته

وفاداره، ثابت قدمه او مخلص وو بلکه په دې تحریك

کې یې خپلې اوږې او لاسونه هم تنیاکې کړي وو.

ددې کاروان دا ستر شخصیت

ښاغلی محمد ابراهیم خواخوږی

دی.

په درناوي

"محمد علم بخرکی"

# یادونه او منته

ددې ګټور اثر د چاپ لګښت
ښاغلي نثار احمد پوپل له خپله جېبه
کړی
چې د نیدر لېنډ- افغاني کلتوري ټولنه د
دوی ددې کلتور پالنې ستاینه
او
له دوی نه منته کوي.



# لومړی خبرې

په نیدرلند (هالند) کښې افغاني کلتوري ټولنه په دې ویاړي چې زموږ د ګران هېواد افغانستان د یوه سیاسي پړاو د تاریخ په خپرولو یې خپله ملي او فرهنګي دنده تر سره کړه او د خپلو کتابونو د لړۍ دوهمه بېلګه وړاندې کوي.

زموږ ټولنه د مشورتي مشرتوب له مشر ښاغلي محمد علم بځرکي څخه د ټولنیز او ملي شخصیت په توګه منته کوي چې په ډېر زیار، زحمت او ربښتینولۍ یې زموږ د دغه پړاو سیاسي هڅې د هېواد د تاریخ حافظې ته وسپارلې، څو نور څېړونکي او مورخان له هغه څخه د پولیتکي او یا روښانه مثال په توګه ګټه واخلي، خپله لاره روښانه ووینې، د هغه په بشپړتیا کښې نورې هڅې وکړي او د دغه غورځنګ نورې برخې

چې د قلم له خوکې پاتې دي بشپړې کړي او زموږ د هېواد په بېلا بېلا سيمو کښې د دغه غورځنګ د اثراتو او هڅو ډول وښيي.

همدارنګه زموږ ټولنه د ښاغلي الحاج نثار احمد پوپل څخه چې زموږ د افغاني ټولنې د يو ښه فرهنګپال په توګه يې همېش خپل ملي فرهنګ ته د قلم له لارې زيار خپل وياړ ګڼلی مننه کوي چې د دغه کتاب د لګښت چارې يې پر غاړه واخيستې او خپلې هڅې يې زموږ څخه و نه سپمولې.

هيله ده چې زموږ نور هېوادپال هم چې د خپل ملي فرهنګ سره ژوره مينه لري، په دغه فرهنګي سيالی کښې خپله مادي او معنوي مرسته و نه سپموي.

زموږ د فرهنګ او کلتور د ودې په هيله.

ومن الله التوفيق

په نيدرلند (هالند) کښې افغاني کلتوري ټولنه

۲۰۰۰ ع کال د اکتوبر ۵
۱۳۷۹ لمريز کال د تلې ۱۳



# لړليک

سرليک | مخ

سريزه (ډاکټر طارق رشاد) ........ لومړی
خپلې خبرې (بخرکی) ........ څلورد پرشم
شاوخوا ........ ۱
اوضاع ........ ۱۵
ويښ ځلميان ........ ۲۷
د حکومت مداخله ........ ۶۲
سياسي مابښام ........ ۹۸
پايځوړ ........ ۱۱۰
ويښ ځلميان (نظريات) ........ ۱۲۳
د ويښ ځلميانو جمعيت ........ ۱۳۴
ښاغلی غلام دستګير ........ ۱۴۱
محمد ابراهيم خواخوږی ........ ۱۴۵
مولوي بهرام خان اڅکزی ........ ۱۴۸
حاجي محمد انور خان اڅکزی ........ ۱۵۱
د هغو ويښ ځلميانو نومونه چې زما په يادښت کښې راغلي دي ........ ۱۵۳
د ليکوال آثار ........ ۱۵۹

*د لوی او بخښونکي خښتن په نامه*

# سریزه

که زمونږ د تاریخي هېواد افغانستان د تاریخ لوړو ژورو ته ځغلند نظر واچول شي او له آریانا څخه نیولې د آریایانو اقتصادي، ټولنیز جوړښت ته پام وشي او د ویدي کتابونو په وینا دغه خبرې ته هم غور وشي چې پخوانیو آریایانو د کوچیتوب په وخت کښې هم مشران او واکمنان لرل، هرې کورنۍ یا کهول ته یې "کولا" ویل چې د ژوند بنسټ یې ګڼه او د هغه مشر به "پتی" وه چې بیا به څو کهوله (کوله) سره یو ځای کېدل "ګرامه" یا "ویسه" ځنې جوړېده او د واکمن ټاټوبي ته یې "پور" وایه، د ډول ډول ارباب الانواعو او طبیعي عناصرو عبادت یې کاوه لکه "اروڼا" د اسمان رب النوع، "اندرا" د جګړې رب النوع"، "سوریا" د لمر، "اګني" د اور، "سوما" د

غرني وابنه چې په شراب جړولو کېښې ګټه ځنې اخیسته کېده، "ماروت" د باد او داسې نور ارباب الانواع. او د هر یوه په نامه به یې قرباني درلودې او خپلو پوهانو ته به یې "ریشي" وایه او د "سبها" او "سمتي" په نومونو یې جرګې او د "سامانه" په نامه یې میلې لرلې.

د اوستا په وینا چې "د آریایانو یوه ډله د کوچیتوب له حاله راوځي او کلیوالي ژوند غوره کوي نور ځړ ځایونه د هر قوم او ټبر له پاره ټاکل کېږي د کرهنې او اوبو لګولو سیستم پراختیا او پرمختیا مومي، شنه سیمه او پراخه مالداري رامنځ ته کېږي چې له هغه سره ګڼ مېښت او شتمن ښارونه د راکړې ورکړې له پاره جوړ او لاسي صنایع، مسکوکات، طب، نجوم، نساجي او فلزکاري وده کوي او د تاریخ هغه اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي پانې جوړوي چې همېش به له شمال څخه د منځني آسیا بیدیایي توریالي سپرو او کله به هم له لوېدیز څخه سامیانو، آثوریانو او نورو پر دغه سیمه د لوټېدو او یا طلایي هند ته د ورننوتلو په نیت یرغل کاوه، چې ددغه لوټماریو او تېري څخه د ساتنې او دفاع له امله په دغه سیمه کښې د غښتلي دولت د جوړېدو اړتیا پیدا شوه چې هم د پردو خطر دفع کړي او هم د خپل اقتصادي، ټولنیز سیستم ساتنه وکړي چې په نتیجه کښې د کیومرث (ګومرد یا ګوپت شاه) چې اوستا د ګومېشت په نوم یو شپون پاچا بللی دی له پښتنه د هیوشنګه یا پره ذاته قانونپوهانو (پیشدادیانو) له کورنۍ څخه د "یم" یا "جم" په نوم چې د "یما" یا "جمشید" صفت یې وګاټه یعنې د ښکلو ګلونو خاوند او یا ځلېدونکی جم یا یم، د هېواد واګې تر لاسه کړې او پر دغه سیمه یې د واکمنۍ بنسټ کښېښود چې بیا د خویندو سره د اختلاف له امله د دغه کورنۍ له پښتنه د ضحاك (او زاك، ودك یا یمګ) د زوی بیور اسپ (ضحاك) له خوا ووژل شو او د هغه د غچ اخیستلو په نیت د پروګاو (پورتوو اياثويه یا اثفیا او یا هم ابتین) زوی فریدون (فریتون یا تراتینه) راولاړېږي بیور اسپ (ضحاك) وژني او په نتیجه



کښې هر چاته په دې هېواد کښې د واك پر ګدۍ د کښېنستو هیله پیدا کېږي خو چې د دغه کورنۍ تر لسم پاچا کرشاپه (Kershapa) وروسته افراسیاب د تورانې شنګ په فرمان پر دغه هېواد یرغل کوي او د پیشدادیانو د کورنۍ واکمني پای ته رسوي.

او بله کورنۍ چې د البرز په غرو کښې د سیستان پهلوان رستم یا روت ستخمك (Rot-Staxmak) د پلار "زال" په غوښتنه پر تخت کښیني او لومړی واکمن یې کواته (Kavata) یا (کوي او یا هم کی قباد) دی د کیانیانو، کیان یا کیاني کورنۍ ده چې "کوي" یا "کي" یې د نومونو په سرونو کښې راځي چې د دغه کورنۍ بل پاچا کیخسرو یا هئوسره وه (Hausraha) د هئومه (Haoma) سپه سالار په ملګرتیا افراسیاب او د هغه ورور کیریسیه یا کرسیوز په ځنځیرونو تړي او وژني یې.

وروسته دا سپه پاچهانوکورنۍ پیل کېږي چې لومړی یې "ائورت اسپه" (Aurt Aspa) یاکی لهراسپ دی چې د کی قباد او منوچهر له پښتنه دی د "بوخت نرسیه" (معرب شکل یې بخت النصر دی) سپه سالار په ملګرۍ پر اورشلیم یرغل کوي، هغه وران او یهویان سره خپاره کوي او خپله د زردشتي دین مني. خو زردشت (زرتشترا) دده د زوی "ګشتاسپ یا ویشتا سپه" (Vishtaspa) په امر د خپل کتاب دوولس زره نسخې د سرو زرو پر څپرکو لیکي او د "واهران" په دوهه (آتشکده) کښې یې ږدي چې دا مزدك (معبدګاه) اسفندیار د بلخ بامیك په "نوارك" کښې ودان کړی و. دغه کتاب وروسته له "تورات" څخه چې په بني اسرائیلو کښې موجود او د برهمنانو د "رېګویدا" د سندرو کتاب چې لومړی برخه یې په افغانستان کښې او وروسته په هندوستان کښې بشپړ شوی دی دریم کتاب دی. دغه د "اوستا" کتاب چې د زردشت یا زرتشترا په وسیله لیکل شوی، پهلوی تفسیر ته یې "زند" وایي او پر دغه تفسیر چې کوم بل تفسیر لیکل شوی هغه ته "پازند" وایي، زردشتي دیانت

یوازې معنوي نه بلکې د کرهنې له پاره هم اقتصادي اصول لري او د عقلي پرمختیا استازیتوب کوي او د ویدي "دیویسنا" ځای اوستایي مزدیسنا نیسي. چې بیا د برونز په پړاو کښې د کرهنې د پراختیا، د دولت د سیاسي موسسې جوړېده اوپراختیا، د میتالوژیکي پړاو څخه اوښتنه ده او کومې پېښې چې تر اوسه ولیکل شوې زموږ د سیمې په هغه فرهنګ پورې اړه لري چې د کیسو سره یو ځای شوي دي چې په دیني کتابونو کښې لکه ویدا، اوېستا او نورو خدای نامو او په ملي روایتونو کښې په پر له پسې توګه رانقل شوي دي خو تر مځکې لاندې لټونې لا په هغه نه دي بریالي شوي او هغه چې موندل شوي دي د "مات" یا "ماد" د آریایي نژاده مادي پادشاهانو واکمني او مدنیت له ۷۰۱ق م څخه تر ۵۰۵ق م پورې، د پردیو هاخوا منشیانو واکمني له کورش څخه نیوله او د دوی سلسله، په ۳۳۰ق م کښې د سکندر یوناني یرغلونه او د هغه له مرګه سره، دده د افسرانو تر منځ د دغه امپراتورۍ وېشل، وروسته په ۳۲۴ق م کښې د آریایي نژاده هندي "موریا" کورنۍ لنډ مهاله واکمني او له دغه کورنۍ څخه د دریم پاچا آشوکالویه امپراتوري او دده په وخت کښې بودایي دین خپرېده د هندوکش له جنوب څخه تر کندهار پورې او د ثقافت او عقیدې په یو ځای کېدو سره فرهنګي ایزو ګلاس او ګریکو بودیك فرهنګ رامنځ ته کېدل چې مهم عناصر یې په لاندې ډول وو:

۱. باختري یا د دغه هېواد خپل کورني فرهنګي، هنري او عقیدوي عناصر.

۲. یوناني صنعت، عقیده او فکر چې د ۳۳۰ق م په شاوخوا کښې له سکندر سره پیل شوي وو.

۳. بودایي هنر، فرهنګ او دین له خپلو هندي آثارو سره چې د موریا له واکمنۍ سره یو ځای راغلل.



یوناني باختري خپلواك سلطنت، د ساکانو، پارتیانو (اشکانیانو) او پهلوایانو (د پارتیانو او ساکانو ګډه څانګه) واکمني، د افغانستان د کوشاني د ورې مدنیت چې زموږ د هېواد د ځانګړې مدنیت او فرهنګ په توګه دی او کنیشکا په ۱۲۵-۱۴۴م کښې د افغانستان د لوی امپراتور په توګه په هغه کښې ځانګړی ځای لري، وروسته د کېداریانو واکمني او همدارنګه د زابلي هپتالیانو (سپین هون یا خان) امپراتوري چې د ساسانیانو څخه یې باج اخیستی.

تر اوومې پېړۍ او د اسلام د دین تر راتلو پورې په هېواد کښې بودایي، زردشتي، لمر پرستي، شیوایي، مسیحي، نسطوري دیانتو او د ځینو ارباب الانواعو او محلي معبودانو نمانځلو دود لاره تر څو د لومړۍ اسلامي پېړۍ یعنې د ۲۴هـ کال په شاوخوا کښې عربي لښکر د ارغنداو تر ناوې راورسېد او افغانستان د اسلام دین، افکار او ثقافت د دوو پېړیو په شاوخوا کښې ومانه او د خپل پخواني تهذیب او ثقافت سره یې یو ځای او ګډ د "سند" د مهران تر څنډو ورساوه، د دغه بریاو تر څنګ د غور په سیمه کښې په ۳۵هـ کښې د سوري ماهوی، وروسته په ۱۳۰هـ کښې د امیر پولاد تر هغه وروسته په ۱۳۹هـ کښې د هغه د زوی جهان پهلوان امیر کروړ او بیا تر هغه وروسته په ۱۶۰هـ د هغه دزوی امیر ناصر اتلولۍ، ابومسلم خراساني غورځنګ، په خپلواکه اسلامي دوره کښې د طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو واکمنۍ او د غزني لویکان او هم د ۳۰۰هـ په شاوخوا کښې د کسي (سلیمان) او د غور په غرو او شاوخوا سیمو کښې د غلزیو، د کلات د غونډان تر غره او له "وازې خوا" څخه تر غزني او نورو سیمو پورې د غرغښتي، سړبني، بیټني او کرلاڼي پښتنو واکمني او د هغو روحاني نفوذ او د افغانستان په ختیزو سیمو کښې تر ملتان پورې د ملتان د لودیانو واکمنۍ، په تخارستان کښې د باینجور د کورنۍ او غرستان د

شارانو واکمني، د غزنویانو پراخه امپراتوري او همدارنګه د غوریانو واکمني، د سلجوقیانو او خوارزمشاهیانو واکمني.او د هغوی ماتې او له هغه سره د چنګېز او مغلو د خونړي تېري پیل. د چنګېزیانو په وخت کښې د کرت اولاده او افغاني امیران او بیا د ګوډ تېمور (تمر) خونړي تېري او کله منارونه جو; ول او د هغه سره د افغانانو مقابلې او د هرات د تېموریانو مدنیت؛ د لودي پښتنو او سوریانو واکمنۍ؛ په ختیځ کښې د هند تېموریان او په دغه وخت د کونړ او یوسفزو سیمه ایزې واکمنۍ او هم د دغه هندي مغلو سره د پیرروښان (بایزید انصاري) (۱۵۲۵-۱۵۸۱م) کښې مقابله او روښاني غورځنګ، د ۱۶۱۳ څخه تر ۱۶۸۹هـ پورې بیا د تورې او قلم د خاوند خوشال خټك او د هغه د کورنۍ فرهنګي زیار او هم د ایمل خان او دریا خان مېړانې او په لوېدیز کښې د پارس په سیمه کښې د صفویانو واکمني او ددغه هندي تېموریانو (مغل) او پارسي صفویانو د پراخو واکمنیو تر منځ د غلجیو، توخو او ابدالیانو سیمیزې واکمنۍ، ددغه ختیزې واکمنۍ څخه د خلاصون او لوېدیزې واکمنۍ او تېري سره په مقابله کښې په (۱۶۷۳-۱۷۱۷م) کښې زموږ د خپلواکۍ د تاریخ ځلانده څېرې او تاریخ جوړوونکي میرویس نیکه او وروسته بیا په ۱۷۴۷م زموږ د ستر مشر او د معاصر افغانستان بنسټ ایښوونکي لوی احمد شاه بابا او د هوتکیانو او درانیانو له برمه ډك تاریخ او بیا هم د انګلیس او روس له تېري څخه د خلاصون غورځنګونه او داسې نورو له ویاړه ډکو کارنامو ته پام وکړو، د دغه افسانوي او مستند تاریخ په هنداره کښې زموږ د ژوندي ملت څېره روښانه ځرګنده ده، خو د سولې ژوند پکښې لنډ او د جګړو تاریخ اوږد او غښتلی دی، کله یې د خپل ویاړلي تاریخ په پېښو کښې پر هېواد و وردانګلي او لویې امپراتورۍ یې جوړې کړې او کله د بهرنیو (خارجي) دښمنانو سره د خپلواکۍ په جګړو اخته او کله یې بیا د داخلي دښمنانو سره د



مبارزې سنګرونه تاوده ساتلي، کله د واکمنانو په خپلو کښې سره نه وه جوړه او د سلیقو توپیر به یې اختلاف ته رسېد لکه د شاه امان الله خان غازي د استاد "محمود سامي" او منشي "عبدالرحمن لودین" چې له وتلو روشنفکرانو او شخصیتونو څخه وو د شاه امان الله خان غازي سره د افغانستان د بهرني سیاست په اړه اختلاف چې نه یې انګلیسانو او نه یې روسانو ته یو پر بل ترجیح ورکول غوښتل او د دغه کتاب د لیکوال ښاغلي بخرکي په وینا "د افغانستان د چارواکو پالیسي له ډېر پخوا څخه دا وه چې بهرنۍ پالیسي یې د انګرېزانو د رضایت کسبول او روسانو ته شکایت نه پیدا کول وو، مګر داخلي پالیسي یې مطلق استبداد او زور ګیرانه وه، په زیاته بیا د غازي محمد نادر خان تر مرګ وروسته کله چې سردار محمد هاشم خان د افغانستان صدراعظم سو، ټوله بندیخانې له داسې بندیانو ډکې وې، چې د هېواد د نظر خاوندان وو، په بنداړونو او مجالسو کښې د سیاسي حتی ټولنیزو خبرو کولو جرات نه وو خلکو به ویل د یو الونه لاخبرې کوي او بې باوري موجوده وه."

کله هم مشرانو سمبولیك حیثیت درلود او ددې کتاب د لیکوال په وینا واك له نورو سره ؤ لکه: "له ۱۹۳۳م څخه د ۱۹۶۳م کال د مارچ تر لسمې نېټې پورې که څه هم محمد ظاهر شاه د افغانستان د پاچا حیثیت درلود، خو عملاً واك د هغه د صدراعظمانو یعنی سردار محمد هاشم خان، سردار شاه محمود خان او سردار محمد داؤد خان په لاس کښې ؤ."

که ټولې خبرې رالنډې کړو، یو له پردیو څخه د هېواد سیاسي خپلواکي او آزادي وه چې په هغه کښې ټول ولس برخه اخیستې ده، خو د واکمنانو په نیتو کښې د آزادیو او خپلواکیو څخه د دوی خپلې خپلواکۍ او واکمنۍ وي یعنی واکمنانو د خپلواکۍ او ښېګڼې له پاره د خلکو د فکر او عمل سره مینه نه لرله بلکې د ځان د واکمنۍ او ښېګڼې له پاره یې د دوی د فکر او عمل سره مینه

لرله؛ نو ځکه بله سیاسي هڅه له داخلي واکمنانو څخه فکري او سیاسي آزادي وه چې په هغه کښې زموږ روشنفکره پوړ (قشر) ځرګنده ونډه درلوده، ځکه نورو ټولنیزو پوړیو او طبقاتو د ځان له پاره ټولنې او ډلې نه درلودې؛ خو دغه فکري آزادي هم باید د یوې ټولنې د ځانګړو ټولنیزو، اقتصادي قوانینو، فرهنګي چارو، ټولنیزو مناسباتو، عیني شرایطو، عقایدو، ټولنیزې بساه پوهنې (اجتماعي سایکولوژۍ)، د پوهې د ودې په اندول وای نه مخکې له وخته.

خو په هر ډول زموږ ګران هېواد افغانستان د سیاسي ډلو د جوړېدو اوږد تاریخ نه لري، که له لومړیو او دوهمو مشروطه غوښتونکو او اخوان افغان یا ملي سري جمعیت څخه راتېر شو، په اوسني تعریف او تعبیر باندې یوازینۍ سیاسي ډله چې د لومړي ځل له پاره د سیاسي پروګرام او جوړښت له پلوه د سیاسي ډلې او ګوند حکم ورباندې کېدای شي هغه د ویښ ځلمیانو ګوند و.

اوس که د هغه پېښلیك ته وکتل شي، په ۱۹۴۶م کال چې د ۱۳۲۵ لمریز کال سره سمون لري، سردار محمد هاشم خان تر اتلسو کالو صدارت وروسته استعفا وکړه یا ورکړه شوه او سردار شاه محمود خان د محمد ظاهر شاه بل اکا (تره) صدراعظم وټاکل شو او په ۱۹۴۷ کال بیا د پاکستان په نامه یو نوی هېواد د نړۍ پر سیاسي نقشه راپیدا شو او هغه ولس چې زموږ پاچایانو ورباندې سرداري ګټلې او یا یې ورباندې سرداري کوله یوه برخه د انګلستان د میراث په توګه پاکستان ته پاته شوه، نو د پاکستان د اسلامي جمهوریت په جوړېدو سره د وخت پر صدراعظم سردار شاه محمود خان او شاهي رژیم سیاسي تبه راغله، نو د پښتونستان او دیموکراسي ناره یې تر خولې ووته او له دغه شعار او موقع څخه د وخت روښنفکرانو ګټه واخیسته او وروسته له دوه ویشتو کالو قربانیو څخه د ویښ ځلمیانو غورځنګ پیل او وده یې وکړه.



د ښاغلي بخرکي د لیکنې په استناد چې ویښ ځلمیان په دې پوه وو چې افغان حکومت د پښتونستان موضوع د آزاد پښتونستان له پاره نه ده طرح کړې بلکې په دې ناره دری نخښې ولي. یو خو یې د شوروي او هندوستان باور تر لاسه کړ، دوهم یې پاکستان ته سیاسي جنجال پېښ کړی چې د پښتنو سره یې منازعه (شخړه) پیدا شي او دریم په افغانستان کښې یې دننه د ملي غورځنګونو مخه پرې راګرځول او د افغان ولس مخ د اصلي او واقعي افغاني مسایلو څخه بلې خوا ته اړول وو.

دا چې زموږ لیکوال ښاغلي غوث خیبري په شلمه پېړۍ کښې د افغانستان لنډ پېښلیك تر سرلیك لاندې مقاله کښې لیکلي چې: "په ۱۹۵۱ کال کښې د لومړي ځل له پاره په هېواد کښې ملي آزادې جریدې خپرې شوي چې د مطبوعاتو د آزادۍ یوه بېلګه وګڼل شوه، په همدې دوره کښې لومړی ځل په هېواد کښې په خپل سر او په پردیو پورې تړلي ګوندونه منځ ته راغلل او فعالیت یې هم پیل کړ، په داسې حال کښې چې د ګوندونو قانون نه و نافذ شوی." دا ښتینې خبره ده چې په هېواد کښې ملي آزادې جریدې د هغه قانون پر بنسټ چې په ۱۹۵۰م کال د ولسي جرګې له خوا تصویب شو، خپرې شوې او هغه عبارت دي له انګار، ولس، وطن، ندای خلق، نیلاب او آئینه په کابل کښې چې د نیلاب او آئینې د خپرونو لاربښوونه څه نا څه د دولت له خوا کېدله او "اتم" په میمنه کښې.

په "افغانستان در پنج قرن اخیر" کښې محمد صدیق فرهنګ لیکي: "همزمان با تاسیس جراید آزاد و یا اندك پیش از آن یك تعداد حلقه های سیاسي به شکل هستهٔ احزاب نیز توسط روشنفکران در نقاط مختلف کشور به خصوص در کابل و قسمت مشرقي و کندهار بنیان ګذاری شد. از نظر قدامت تاریخي اولین حلقه هایی که بمیان آمد ویښ زلمیان بود." چې ددې کتاب لیکوال ښاغلي بخرکي ددغه ډلې د پیل نېټه ۱۳۲۵ لمریز کال چې د

۱۹۴۶م کال سره سمون لري ښوولې ده چې لومړی ځل د ادبي ټولنې په ډول رامنځ ته شوه او وروسته په سیاسي واوښته او میرغلام محمد غبار بیا د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوك کښې د ویښ ځلمیانو د ګوند بنسټ ایښوول د سیاسي ګوند په توګه د ۱۳۲۶ لمریز کال چې د ۱۹۴۷م کال سره سمون لري ښیي.

که د ښاغلي خیبري مقصد له ویښ ځلمیانو یا د ښاغلي غبار د وطن او یا د ډاکټر عبدالرحمن محمودي د ندای خلق څخه وي، دغه خبره زما په فکر له دغه ګوندونو سره سر نه لګوي، که د افرادو او اشخاصو سره د دوی کومه محاسبه وي، هغه د ښاغلي خیبري او هغو افرادو ترمنځ ده، خو دغه ګوندونو په عمومي ډول ملي صبغه لرله او د هغو سیاسي پروګرام هم ملي و او له پردو سره یې تړاو نه درلود او ویښ ځلیمان د شلمې پېړۍ له هغو ملي او مترقي غورځنګونو څخه لومړی سیاسي ګوندي بیلګه ده چې د ملي ګټو ساتنه یې د یوې ارزښتناکې ژمنې په توګه خپل ملي شعار ګاڼه چې ددې خبرې د اثبات له پاره د افغانستان د نومیالي لیکوال، شاعر او ددې ګوند د بنسټ ایښوونکو څخه د اروابناد فاضل استاد عبدالروف بېنوا راټول کړی اثر "ویښ ځلمیان" دی چې په ۱۳۲۶ لمریز کال کښې خپور شوی او د هغه په پیل کښې د مشروطه غوښتونکو د مشهور لیکوال او شاعر عبدالهادي داوي یو شعر په دغه هکله راغلی چې ددغه ګوند ملي هویت او ملي ګټو ته د دوی ژمنتینوالی له ورایه څرګندوي.

خو ځینې کورنې او بهرني لیکوال د ویښ ځلمیانو (ویښو ځلمیانو) د ملي پاڅون او غورځنګ په اړه له ژمنتیني قضاوت څخه وتي دي چې یو له هغو څخه انتولی هیمن دی چې لیکي: "د منځنیو طبقاتو اوږده کړاوونه وروسته له دوهمې نړیوالې جګړې پای ته ورسېدل، ځکه د ولسي جرګې له پاره د لومړي ځل له پاره نسبتاً



آزاد انتخابات تر سره شول او دغه ولسي جرګه یې لیبرال پارلیمان ګڼل کېږي چې نه ۱۹۴۷ میلادي کال څخه یې تر ۱۹۵۳ میلادي کال پورې دوام وکړ، په دغه جرګه کښې درو (دریو) اصلاح غوښتونکو ګوندونو ګډون وکړ چې دغه ګوندونه په روښانفکري غورځنګونو شهرت لري، چې دوه له هغو څخه وطن او ندای خلق دي.

په دې ډول یوازې فارسي ژبو استازو په دغه ولسي جرګه کښې ګډون درلود او دغه مفکوره د ښاغلي میرغلام محمد غبار، میر ګوهر او ډاکټر عبدالرحمن محمودي له خوا په ټول هېواد کښې خپره شوه.

دریم ګوند ویښ ځلمیان نومېږي، دغه ګوند د دوو فارسي ژبو ګوندونو عکس العمل و چې د هغه لارښوونې په داؤد خان پورې اړه درلوده. دغه ګوند په چټکۍ سره د روښانفکرانو، لیبرالانو او سیاست کوونکو پراخ ملاتړ ترلاسه کړ، ځکه نو د کابل اوسېدونکي دغه لیبراله ولسي جرګه د ویښ ځلمیانو د غورځنګ سره مترادفه ګڼي چې لږ تر لږه ددغې جرګې یو له دریو څخه چې د ټولو غړو شمېر یې ۱۲۰ تنو ته رسېده د دغه غورځنګ له غړو او یا پلویانو څخه جوړه وه او ددغه پارلمان په رڼا کښې د هېواد ډېر بدلونونه رامنځ ته شول."

په دغه لیکنه کښې تناقض له ورایه څرګند دی چې یو ځای لیکي: "وطن او ندای خلق د ویښ ځلمیانو په مقابل کښې واقع وو، په دې ډول یوازې فارسي ژبو استازو په دغه ولسي جرګه کښې ګډون درلود" او بل ځای لیکي "ویښ ځلمیان د دوو فارسي ژبو ګوندونو عکس العمل (غبرګون) و... چې په چټکۍ سره یې د روښانفکرانو، لیبرالانو او سیاست کوونکو پراخ ملاتړ ترلاسه کړ ځکه نو د کابل اوسېدونکي دغه لیبراله ولسي جرګه د ویښ ځلمیانو د غورځنګ سره مترادفه ګڼي."

خو د ښاغلي بخرکي په وينا داسې څرګند برېږي چې: "د ويښ ځلميانو له پاره کار له ۱۳۲۵ل کال څخه چې د ۱۹۴۶م کال سره سمون لري پيل چې لومړی ځل د ادبي ټولنې په ډول و او ارواښاد ميرغلام محمد غبار د "افغانستان در مسير تاريخ" په دوهم ټوک کښې د ويښ ځلميانو د سياسي ګوند د جوړېدو کال ۱۳۲۶ل کال ښيي، خو د ارواښاد لوی استاد علامه پوهاند حبيبي د يو ياداشت له مخې چې د ويښ ځلميانو د ګوند د بنسټ ايښوونکي محمد رسول پښتون د "آټو بيوګرافي" نومي کتاب څخه يې اخيستی دی. ليکي: آقای صافي (ارواښاد غلام حسن خان ساپي) در اين مفکوره از سابق (۱۳۱۲ش مطابق۱۹۳۳م) وقتيکه در مزار شريف در جمله مامورين مرحوم محمد ګل خان مومند وزير داخله و رييس تنظيمه ولايات شمال کار می کرديم ملهم شده بود. بعد در سال (۱۳۲۶ش مطابق ۱۹۴۷م) موقعی که من به حيث رئيس شرکت ايجنسي (افغان) از چمن به پشاور رفته بودم آقای غلام حسن خان صافي نيز از کابل به پشاور آمده در هوتل "ډينز" باهم يکجا شده راجع به تاسيس يك حزب عمومي در داخل مملکت صحبت نموديم و براين قرار داديم که تو در ولايت مشرقي و کابل و من در ولايت کندهار تحريك حزب مذکور را به راه انداخته هر زماني که زمينه را تهيه نموديم مجلس ثاني کرده، حزب را تاسيس مي نمائيم." از اين نوشته ها استنباط مي ګردد که مفکوره، هدف و مرام تشکيل اين جمعيت ملي خيلي پيش از سال (۱۳۲۵هـ ش - ۱۹۴۶م) بوجود آمده بود." د پورتني ليکنې څخه داسې څرګند برېږي چې د نهضت ددغو شخصيتونو يعنې ارواښاد محمد رسول خان پښتون او ارواښاد غلام حسن خان تر مشر تابه لاندې کار کاوه او ددغه نهضت مفکوره هم له دوی سره ډېره پخوا موجوده وه.



ادمکو موسيل او يو ويدکانکوفسکي ليکي: په ۱۹۴۷م کال کښې (په افغانستان کښې) سياسي ګوند جوړ شو چې د "ويښ ځلميانو" په نوم يې شهرت پيدا کړ.

د ښاغلي سيد مسعود پوهنيار د "ظهور مشروطيت و قربانيان استبداد در افغانستان" په دوهم ټوك اثر کښې د محترم ډاکټر توريالي انګار او هم د يو دوو موثقو شخصيتو له خوا داسې ليکل شوي: "د (۱۳۲۶هـ ش-۱۹۴۷م) کال په شاوخوا، د حاجي ګل محمد خان په کور کښې چې د خدای بخښلي ارواښاد فيض محمد انګار (د انګار د ملي جريدې د امتياز خاوند) پلار و او کوريې د کابل په قرتای (کورد های) چنداول کښې واقع و، د منورو شخصيتونو له خوا يوه غونډه شوې وه چې په هغه کښې له کندهار نه پوهاند عبدالحی حبيبي، محمد رسول پښتون، قاضي بهرام خان، عبدالهادي خان توخي، حاجي محمد انورخان اڅکزی، غلام جيلاني خان الکوزی او داسې نور او له ننګرهار او لغمان نه لکه ګل پاچا الفت، غلام حسن خان ساپي، سيد شمس الدين مجروح، مولوي قيام الدين خادم، پوهاند صديق الله رشتين او داسې نور او له کابل نه ميرغلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي، غلام محی الدين زرملوال، محمد ارسلان سليمي وردګ ، مير محمد اسمعيل بلخي، مرحوم اسمعيل مبلغ او نور داسې راغونډ شوي وو، چې د ويښ ځلميانو د تحريك په هکله خبرې وشوې او رايې وغوښتل شوې چې ددې تحريك نوم به څه وي؟ په پای کښې پرېکړه وشوه چې د تحريك نوم بايد (ويښ ځلميان) کېښودل شي."

د مير غلام محمد غبار "وطن" او د ډاکټر عبدالرحمن محمودي "خلق" ګوندونه د ښاغلي غبار په وينا چې د "افغانستان در مسير تاريخ" په دوهم ټوکي راغلي ده په ۱۳۲۹ل کال چې د ۱۹۵۰م کال سره سمون لري جوړ شول، نو څنګه کېدای شي چې عکس العمل (غبرګون) تر عمل مخکې وي. او بل "وطن" او "ندای خلق"

خپرونوچې په ۱۳۳۰ ل کال چې د ۱۹۵۱ میلادي کال سره سمون لري په خپرونو پیل وکړ چې د ویښ ځلمیانو مرامونه یې په خپلو خپرونو کښې خپرول. ښاغلي بخرکي هم دا په ډاګه کړې ده چې کله ښاغلی محمودي کندهار ته راغی، د ویښ ځلمیانو پر مرامنامه یې لاس لیك وکړ چې هغه وخت د مرامنامې (کړنلارې) متن او د ګوند د غړیتوب اصل ښیي.

او د ښاغلي سید مسعود پوهنیار د "ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان" د اثر په استناد چې لیکي: "ډاکټر عبدالرحمن محمودي د (ندای خلق) د اخبار (د اخبار مدیر هم) د امتیاز خاوند ځکه د غبار په وینا مسوول مدیر ولي محمد خان عطایي د ډاکټر عبدالرحمن محمودي زوم او د ښاغلي فرهنګ په وینا ښاغلی عبدالحمید مبارز و) په لومړي سر کښې د ویښ زلمیانو د نهضت غړیتوب و ما نه چې بیا وروسته له هغه ووت."

ښاغلی عبدالحمید مبارز په (تحلیل واقعات سیاسي افغانستان) اثر کښې لیکي: "(ویښ ځلیمان) یکبار دیگر تلاش کرد تا داکتر محمودی را باخود همراه سازد و جرگه بزرگی در باغ بابر به همین منظور ترتیب داد ولی داکتر محمودی نسبت مخدودیت که نام این حزب داشت و منحصر به جوانان می شد، ائتلاف را با آن نه پذیرفت."

او هم کله چې ښاغلی غلام حسن خان ساپی چې د ویښ ځلمو د بنسټ ایښوونکو څخه و، د ننګرهار له واکمن سره د مخالفت مضمون ولیکه په "ندای خلق" کښې خپور او دی بندي کړی شو او د ویښ ځلمو د احتجاجیه مظاهرې کولو لومړی غونډه یې د ښاغلي میرغلام محمد غبار په کور کښې وکړه او د مظاهرې پروګرام هم هلته جوړ شو چې سبا یې مظاهره پیل شوه.

ښاغلي میرمحمد صدیق فرهنګ په "افغانستان در پنج قرن اخیر" کښې لیکي: "از نظر فلسفه سیاسي هر سه جمعیت اصولاً از



دیموکراسي به شکل دولت پادشاهی مشروطه طرفداری می کردند." او دا هم وایي چې یوازې د تبلیغ لارې چارې یې بېلې وي.

بل دا چې د "وطن" خپرونه د اروابناد استاد الفت په مضمونونو او شعرونو ښکلې وه او د "ندای خلق" تر ټولو ښه لیکوال او همکار اروابناد فاضل استاد بېنوا و، همدا رنګه د "انګار" په خپرونه کښې د اروابناد ډاکټر محمودي او داسې نورو مضمونونه خپرېده، نو ځکه ویښ ځلمیانو ته یو ملي غورځنګ او نهضت ویلای شو او بله خبره دا چې ښاغلي انتوني هیمن او خیر محمد بایګان (سکندر) په "داستانهایی چند از تاریخ سیاسي افغانستان" اثر کښې د ویښ ځلمیانو د ګوند لار ښوونه په شهید داؤد خان پورې تړي او میر محمد صدیق فرهنګ په افغانستان در پنج قرن اخیر اثر کښې لیکي: "بعضی از اعضای آن (ویښ ځلمیان) با محمد داؤد خان وابستګي داشتند." او یا ښاغلی عبدالحمید مبارز په "تحلیل واقعات سیاسي افغانستان" اثر کښې، د داؤد خان اثر د زابلي له لارې د ویښ ځلمیانو پر ځینو غړو داسې ښیي "ویښ زلمیان به زودی دارای دو جناح شد که موسسین اصلي آن یعنی قاضي بهرام، عبدالهادي توخي، عبدالحی حبیبي، عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت و فیض محمد انګار از داشتن روابط با زابلي احتراز می کردند ولی تره کی، غلام حسن صافي و محمد رسول پشتون که از طرفداران زابلي بودند، جدا ګردیده و طبعاً علیه دولت کار می کردند ولې ګروپ اولی نهضت را برای تاسیس نظام دیموکراسي و مشروطیت پارلمانی به راه انداخته بودند. بعداً معلوم شد که ګروپ اول قدرت را از دسته دوم می ګیرد و این حرکت شان باعث ګرفتاري رهبران این حزب می ګردد." که پورتني خلك د زابلي له لارې د داؤد خان پلویان وای نو څرنګه اروابناد محمد رسول پښتون یوولس کاله او اروابناد غلام حسن خان صافي دوه کاله د نومړي واکمن او حکومت له خوا بندیان شول او بل ځای لیکي: "در بین

رهبران حزب صرف نور محمد تره کی از حمایت خاص زابلي برخوردار بود."

زما په نظر ددغه ګوند لاربنوونه د داؤد خان په وسیله رښتینې خبره نه ده چې مخکښې د هغه یادونه وشوه، پرعکس محمد داؤد خان ددې غورځنګ په مقابل کښې "ملي کلوپ" جوړ کړ او په "افغانستان در پنج قرن اخیر" کښې ښاغلی میر محمد صدیق فرهنګ لیکي: "(داؤد خان) در عین حال به تاسیس یك حزب دولتي بنام حزب دیموکراتیك ملي تصمیم ګرفتند و در مرحله نخست آنرا باعنوان کلوپ ملي تشکیل نمودند" او ښاغلی میر غلام محمد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوك کښې داسې لیکي: "حکومت برای آنکه این احزاب (ویش زلمیان، وطن، ندای خلق) در صحنهٔ سیاست، بدون رقیب قوي نه باشند، خود به تشکیل یك حزب بنام "دیموکرات ملي" پرداخت ولی باتمام این پیشبینی های حکومت، همینکه شورای انتخاباتي تاسیس، احزاب سیاسي تشکیل و جراید حزبي منتشر ګردید، تاریخ و محصولات آنها جز آن بود که حکومت می خواست، زیرا این جریانات سیاسي باوجود تنوع تشکیلاتی و تعدد موسساتی، عملاً در مقابل حکومت به حیث یك جبهه متحد صف آرایی نموده وبرای تاسیس رژیم دیموکراتیك و تعمیم آزادي و مساوات عمومي، و هم ضد امتیاز و انحصار سیاسي و اقتصادي طبقات حاکمه مبارزه کردند. اینست که حکومت بعداً کلیه این نهضت های سیاسي را بکوفت و پالیسي اختناق قدیم را از سر ګرفت."

او وروسته بیا د پښتونستان د خپلواکۍ تر نامه لاندې د ډلې جوړول چې ښاغلي میرمحمد صدیق فرهنګ د "افغانستان در پنج قرن اخیر" په اثر کښې لیکي: "در این هنګام جمعیت نیمه سری و نیمه علنی دیګری هم با عنوان اتحادیه آزادي پشتونستان پی ریزی شد که رهبر ظاهري آن غلام حیدر خان عدالت اما بنیان ګذار



واقعي آن محمد داؤد خان بود، این جمعیت که یك نفر از محصلان فاکولته حقوق بنام ببرك نیز در آن فعالیت داشت، در ظاهر بنام کمك به داعیه پښتونستان ... با مرام ناسیونالست افراطی تشکیل شده بود اما در واقع برای به قدرت رساندن محمد داؤد خان کار می کرد." او بل ځای لیکي: "سرګروپان آن عبارت بودند از علی محمد خان، محمد داؤد خان، عبدالمجید زابلی و فیض محمد زکریا".

خیر محمد بایګان (سکندر) په خپل د "تاریخ سیاسي افغانستان" د اثر په بل ځای کښې لیکي: "این جریان سیاسی (ویش زلمیان) نیز سرسازش با خانواده سلطنتی و مخصوصاً سردار محمد داؤد نه داشت." او نوموړی لیکوال یو بل ځای هم لیکي: "جریان های سیاسی ندای خلق، وطن و ویش زلمیان بطور مجموع نتیجه منطقي ظلم و استبداد شاهی مطلقه بر مبنای رژیم عنعنه یی ارباب الرعیتی در کشور قلمداد می شود که صریحاً بر مبانی مطالعات و اندیشه های بورژوازی مآبانه علمای اروپای غربی استوار بود."

د ښاغلي بخرکي په وینا: "د ویښو ځلمو پاځون (تحریك) یو اولسي تحریك ؤ، چې د دیموکراتیکی آزادیو د لاس ته راوړلو په خاطر، د هېواد روښنفکرو ځلمو راپرلېځه کړ، په دې روښنفکرانو کښې مذهبي مبلغین، نشلستان، سوشلستان او د ټولنې هر ډول خلك شامل وو."

د افغانستان تاریخ لیکونکی ادموکو اویودید کانکوفسکي داسې لیکي: "په دغه سیاسي ډله (ویښ ځلمیانو) کښې سلو تنو ژمنه کړې وه چې د ټولنیز او طبقاتي موقف له لحاظه بېلابېل وو، ددې غورځنګ په لیکو کښې د کوچني بورژوازی استازو، مامورانو، روښنفکرانو او روحانیونو هم ګډون درلود، ددې غورځنګ لاربنود د کندهار ځمکه وال محمد رسول خان پښتون ؤ."

خو ددې غورځنګ بنسټ اېښودونکي او مشران ارواښاد محمد رسول خان پښتون او ارواښاد غلام حسن خان صافي دي او ددې غښتلې کړۍ په لوی کندهار، لوی ننګرهار او کابل کښې وې.

ښاغلی بخرکی زیاتوي: "د دوی ټولو واحد هدف دا ؤ چې ملت ته دیموکراتیکې آزادۍ لکه د قلم آزادي، د بیان آزادي، د احزابو آزادي او داسې نورې ور حاصلې کړي. او د عیني شرایطو په تحلیل سره ټولو دا پتېیلې وه چې دا جمعیت دې مذهبي رنګ ولري، لکه د لومړۍ مرامنامې په دوهمه ماده کښې چې راغلی دی چې "د هر قوم او طبقې د علما او مشایخو احترام به کوي."

د پښتونستان په هکله ددې اثر لیکوال لیکي: "د پښتونستان موضوع هم د ویښ ځلمیانو له پاره څه معمولي موضوع نه وه؛ له یوې خوا دا موضوع د لرو برو پښتنو بنیادي حق ؤ، چې د دواړو خواؤ پښتني سیاسي احزابو دا موضوع را پر مخ کړې وه، خو له بله طرفه د افغانستان حکومت دې مسئلې ته صادق نه ؤ او پښتونستان یې د یوې سیاسي متاع په ډول پر شرقي نړۍ خرڅاوه. ویښ ځلمیان په دې پوه وو که د پښتونستان پر مسئله باندې زور واچوي، ددې مسئلې ارزښت زیاتېږي او افغاني حکومت یې بیا په ګرانه خرڅوي او که اوږه ځنې کاږي نو به یې یوه ملي فریضه تر شا کړې وي." ځکه نو ویښو ځلمیانو پرېکړه وکړه چې باید د پښتونستان موضوع د هغه ځای د پښتنو او د پښتنو د مشرانو سره وڅېړل شي چې د خدایي خدمتګارانو او د هغه د مشر پاچا خان یا خان عبدالغفار خان له پاره زما په فکر ښاغلی عبدالله بختانی او د بلوچستان انجمن وطن او خان عبدالصمد خان اڅکزی له پاره ددې کتاب لیکوال ښاغلی محمد علم بخرکی وټاکل شول.

ښاغلی بخرکی د پښتونستان په اړه داسې لیکي: "یو دا چې انګرېزانو پښتون قوم پر دوو برخو وویشه او د ډیورنډ کرښه یې تر منځ ورتېره کړه او بل دا چې پاکستان جوړېده د پښتنو د خود



ارادیت حق ته انګرېزانو اهمیت ور نه کړ او د پښتونستان د پښتنو د مذهبي احساساتو پر بنا یې پښتانه د قومي ازادۍ له حق څخه محروم کړل او رفرانډوم یې د هندو او مسلمان په نامه وکړ."

په دې وخت کښې د سرخپوشانو او خدایي خدمتګارانو غوښتنه دا وه چې "ګډ هندوستان که پاکستان او که پښتونستان" وټاکل شي. خو د سرخپوشانو چې په دې وخت کښې د پښتنو واحد لوی حزب و خبرې ته چا اهمیت ورنه کړ او د خان ولي خان په وینا د پښتونستان له ۷۰ لکو خلکو څخه چې د ټاکنې (ووټ) حق یې درلود تر دری لکو لږ و خلکو په رېفرانډوم کښې برخه واخیسته چې ددې څخه د رفرانډوم حال ښه څرګندېږي.

پښتانه په افغانستان کښې سردارانو استخدام کړي وو ځکه چې دوی پښتانه وو ولې هېڅ یې نه وو ورکړي حتی د دوی په ژبه یې خبرې نه ورسره کولې. خو په پاکستان کښې پښتانه استخدام وو ځکه چې دوی مسلمانان وو. یوه حاکمیت یې له پښتني احساس څخه او بل یې د مسلمانۍ له جذبې څخه ګټه اخیسته.

خو یوه خبره د یادولو وړ ده، هغه دا چې ویښو ځلمیانو له ۱۳۲۵ل څخه چې د ۱۹۴۶م کال سره سمون لري ورو ورو د پیوستون او سیاسي کار لړۍ پیل کړه چې په لومړي سر کښې یې په لیکلې توګه کومه کړنلاره (مرامنامه) او تګلاره (اساسنامه) نه درلوده او له دولتي ډلېیزو وسایلو او مطبوعاتو څخه یې چې د روښنفکرانو او منورینو په لاس کښې وو، د تبلیغاتي وسیلې په توګه ګټه اخیستله او د ښاغلي بخرکي په وینا د (کابل مجله) د یادونې وړ ده، چې ددې مجلې مسوول مدیر ارواښاد عبدالروف بېنوا و او ددې ډلې موسسین: عبدالروف بېنوا، ارسلان سلیمي وردګ، قیام الدین خادم، فیض محمد انګار، غلام حسن خان ساپی، ګل پاچا الفت، رشتین صاحب، نور محمد تره کی، ګڼي چې لومړۍ ځل یې ادبي ټولنه جوړه کړې وه، کله چې زمینه ورته

مساعده شوه په سياسي ډله واوښته. خو ښاغلی غلام محی الدين زرملوال په دې هکله يو پمفلټ چې د "افغانستان د مسلمانو مهاجرينو سازمان" په ۱۹۹۳م کال کې خپور کړی دی په هغه کښې يې ددې ډلې بنسټ اېښوونکی په لاندې ډول راوړي دي: عبدالحی حبيبي، عبدالروف بېنوا، فيض محمد انګار، محمد رسول پښتون، عبدالشکور رشاد، محمد ابراهيم خواخوږی، عبدالرزاق فراهي، ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم، صديق الله رښتين، غلام حسن صافی، نور محمد تره کی، نېك محمد پکتيانی، غلام محی الدين زرملوال چې هغه وخت يې تخلص (کورنی نوم) روښان ؤ. خو ښاغلي بخرکي ويلي چې د دوی يو شمېر موسسين نه بلکې ددې ډلې غښتلي او د ويار وړ ملګري وو، خو د دوی بنسټ اېښوونکي په کابل کښې وو.

د "افغانستان در پنج قرن اخير" ليکوال محمد صديق فرهنګ د ويښو ځلميانو د بنسټ اېښوونکو په اړه ليکي: "در تاسيس آن (ويش زلميان) نويسنده ګان پشتو زبان چون ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم، عبدالروف بېنوا، فيض محمد انګار، غلام حسن صافی، نور مجمد تره کی و حاجي محمد انور اچکزايی سهم داشتند."

خو ښاغلی غبار د "افغانستان در مسير تاريخ" په دوهم ټوك کښې د ويښو ځلميانو بنسټ اېښوونکي او په کابل، کندهار او ننګرهار کښې د هغه لارښوونکي (رهبران) داسې راښيي: عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، فيض محمد انګار، نور محمد تره کی، غلام حسن خان صافی (اين دو نفر اخير از دسته عبدالمجيد زابلي بودند)، محمدرسول خان پشتون، عبدالشکور خان رشاد، عبدالهادي توخي، محمد انور خان اچکزائی، قاضی بهرام خان، غلام جيلانی خان، قاضي عبدالصمد خان، فتح محمد خان خټګر، نور محمد خان قاضی خيل، محمد ابراهيم خواخوږی، محمد ناصر



خان لعل پوري، صوفي ولي محمد خان، آغا محمد خان کرزی، محمد موسی خان شفيق، غلام محمد خان پوپل، محمد طاهر خان صافی، قيام الدين خان خادم، ارسلا خان سليمي وردګ، نېك محمد خان پکتيانی، صديق الله خان رشتين، عبدالعزيز خان. عبدالخالق خان واسعي، محمد علي خان، نور احمد شاکر. محمد رسول خان مسلم، محمد حسين خان ريدی، عبدالرزاق فراهي. محمد نور خان علم، عبيدالله خان صافی، ګل شاه خان صافی. ظهورالله خان همدرد، محمد شريف خان قاضی، عبدالمنان خان دردمند، آقا مليا، عبدالصمد خان ويسا، محمد علم بخرکي وچند نفر ديګر."

او هم په لومړی سر کښې د ګوند منشي عبدالروف خان بېنوا او را وروسته عبدالرزاق خان فراهي ښيي، خو کانکوفسکي ددې غورځنګ رهبر يا مشر ارواښاد محمد رسول خان پښتون ښوولی. ولې په رښتينې توګه بنسټ اېښوونکي او مشران يې ارواښاد محمد رسول خان پښتون او ارواښاد محمد حسن ساپی دی، ددې غورځنګ بساط او سيمه ولايات وو خو تيوريسنان يې په کابل کښې ناست وو او تر ۱۳۲۷ل کال پورې يې چې د ۱۹۴۸م کال سره سمون لري، د هېواد په ويښېدو کښې کار وکړ تر څو د ويښو ځلمو لومړی کړنلاره (مرامنامه) چې څلور مادې يې درلودې، د کندهار له خوا کابل ته ولېږل شوه چې په دې توګه د ځلميانو ټولنه په ګوند بدله شوه چې ددې سره لوړه (قسمنامه) هم چې درې مادې يې درلودې موجوده وه خو په لومړي سر کښې کړنلارې (مرامنامې) ژر بدلېدې او د ۱۳۲۸ل کال د زمري پر ۲۷ نېټه د ويښ ځلميانو بله کړنلاره (مرام) تصويب شوه چې لومړی برخه يې د "ويښ ځلميانو پروګرام" ؤ چې (۹) مادې يې درلودې او دوهمه برخه يې "شرايط" وو چې شپږ مادې يې درلودې: درېيمه برخه يې "تشکيلات" (جوړښت)

وچې دري مبادي يې درلودې اوله دغه کړنلارې (مرام) سره ګړند په نوي شکل تاسيس شو

د دغه کړنلارې (مرام) په مطابقت کښې د ګندهارا ولايتي کمېټې يوه هدايتنامه تصويب کړه چې لس مبادي يې درلودې او ډېره مفصله وه او هم د ګوند د مشر له پاره حدود ټاکل شوه چې هغه هم شپږ مادې وه. د ويښ ځلميانو بله کړنلاره (مرامنامه) په ۱۳۲۹ل کال چې د ۱۹۵۰م کال سره سمون لري شايع شوه چې هغې هم لس مبادي درلودې، خو د "افغانستان در مسير تاريخ" په دوهم ټوک کښې ددې ګوند کړنلاره (مرامنامه) داسې راغلې ده: "اول تنوير افکار و تعميم معارف، دوم مجادله با ظلم و خيانت، سوم اصلاح عادات سيئه و خرافات، چهارم همراهي حق و حقانيت، پنجم وحدت ملي". او هم ليکي: "به ضميمهٔ اين منتشره يک نشريهٔ جداگانه نيز از طرف حزب (ويښ زلميان) زير عنوان ويش زلمي کيست. بقرار ذيل نشر گرديد:

۱. کسيکه به خير و اصلاح ايمان کامل دارد.

۲. خونسرد و با حوصله است.

۳. به علت اغراض شخصي به هيچکس به نظر حسد و کينه نگاه نه می کند.

۴. دروغ نمی گويد.

۵. تملق و چاپلوسي نمی کند و توقع آنرا از ديگران ندارد.

۶. به شر و نزاع تن نمی دهد

۷. به اعمار بيش از تخريب مايل است.

۸. با دين، ملت، وطن و حکومت محبت دارد.

۹. مفاد اجتماعي را بر مفاد شخصي مقدم می شمارد.

۱۰. در راه حق ترس نه دارد.

۱۱. با حق و حقانيت همراهي می کند.

۱۲. اگر مامور باشد رشوت نمی خورد و ظلم نمی کند.



۱۳. در راه وحدت ملي زحميت می کشد.

ددې ګوند د مهمو پښوخخه د شورا په اوومه دوره کښې د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي کانديدېدل او د ازاد خيالي وړانديز وچې ددې ډلې سره د ترون په بنسټ د وخت د حکومت له خوا په مرګ تهديد شو او د نومورې له خوا په پاکستان کښې د افغانستان د جمهوريت رغ پورته سو او د افغانستان د جمهوريت له پاره په پاکستان کښې د "ازاد افغانستان" د ګوند جوړېده چې ددې ګوند کړنلاره (مرامنامه) په لسو مادو کښې وه او جريدې يې هم په پېښور کښې "ازاد افغانستان" او په کراچۍ کښې "سروش" وې

د ويښو ځلميانو لومړۍ خپرونه د "انګار" په نامه وه چې ښاغلی مير محمد صديق فرهنګ ليکي: "کله چې ولسي جرګې په ۱۹۵۰م کال کښې د مطبوعاتو قانون تصويب کړ او غير دولتي خپرونو ته ازادي ورکړه شوه... د دغه کال په لومړيو کښې انګار په خپرونو پيل وکړ. چې د امتياز خاوند يې ارواښاد فيض محمد انګار و. ښاغلی غبار يې د خپرېدو پيل د ۱۹۵۱م کال مارچ او مصادره کېدل يې د نومورې کال د اپرېل مياشت ګڼي، ښاغلی زرملوال يې د خپرېدو پيل د ۱۳۲۹ل کال د کب (حوت) د مياشتې نهمه نېټه ګڼي چې شپاړسمه ګڼه (وروستۍ ګڼه يې) د ۱۳۳۰ل کال د ثور په لومړۍ ورځ خپره شوه او ښاغلي عبدالحميد مبارز بيا ۱۳۳۰ل کال ښوولی دی او سيد مسعود پوهنيار هم د "ظهور مشروطيت و قربانيان استبداد در افغانستان" په دوهم ټوک کښې د دغه خپرونې دخپرېدو نېټه د ۱۳۲۹ل (۱۹۵۰م) کال د کب (حوت) پر نهمه په کابل کښې ښوولې چې په اونۍ (هفته) کښې دوه ځله (د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ) په پښتو او دري ژبو خپرېده ښيي. او وايي: "ددې ملي نشريې عمر ډېر لنډ و، شپاړسمه ګڼه يې د حکومت له خوا مصادره شوه." او د ښاغلي غلام جيلاني الکوزي په وينا د ۱۳۲۸ل کال د حوت (کب) د مياشتې (۲۸) دی چې نورو دا نېټه نه

ده تائيد كړي. د ويښ ځلميانو دوهمه اوونيزه خپرونه د "ولس" په نوم وه چې د امتياز خاوند يې ارواښاد استاد ګل پاچا الفت ؤ چې شپږ يا اووه ګڼې يې خپرې شوې خو ښاغلی غبار ليکي: "(بعد از انکار) جريده (ولس) جای آنرا ګرفت که از سال ۱۹۵۱ تا ۱۹۵۳ با امتياز ګل پاچا خان الفت انتشار می يافت" او هم د ويښ ځلميانو د کتاب خپرېدل دي چې مخکې د هغه په اړه خبرې وشوې.

د ويښ ځلميانو په سياسي تاريخ کښې يوه مهمه پېښه ولسي جرګې ته د لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبيبي کانديدېدل، انتخابېدل، له پاکستان څخه د سياسي پناه غوښتل او د جمهوريت اعلانول وو چې په دې اړه ارواښاد مير محمد صديق فرهنګ په "افغانستان در پنج قرن اخير" کښې ليکي: "در سال ۱۹۴۹ چون موقع انتخابات شورا فرا رسيد، حکومت از مداخله در آن بطوری که در عصر صدراعظم ګذشته معمول بود خود داری نمود... يکتعداد از روشنفکران به وکالت رسيدند مانند ګل پاچا الفت از جلال آباد، محمد کريم نزيهی از اندخوی، صلاح الدين سلجوقی از هرات، عبدالحی حبيبی از قندهار..." او ښاغلی جيلاني خان الکوزی په دغه کتاب کښې چې تاسو يې لولئ داسې وايي: "د ۱۳۲۸ (لمريز) کال په پيل کښې خبر سوم، چې په کابل کښې مرحوم غبار او مرحوم ډاکټر محمودي د وکيلانو په حيث پارلمان ته انتخاب (ټاکل) سوي دي. ځکه نو موږ هم پر دې موضوع غونډه وکړه چې د کندهار څخه بايد څوك وټاکل سي، ددې غونډې په اثر فيصله وسوه چې مرحوم استاد عبدالحی حبيبي بايد ولاړ سي. په دې وخت کښې لوی استاد حبيبي په چمن کښې وکيل تجار ؤ. په غياب کښې مودی پارلمان ته وټاکه او ددې موضوع څخه مو د ليك په ذريعه خبر کړ... او په دې دوره کښې يو بل ملګری جناب نور محمد خان له پنجوايي څخه د وکيل په توګه انتخاب سو او د حبيبي صاحب سره مې د دوی معرفي وکړه." او ارواښاد مير غلام محمد غبار په "افغانستان در مسير تاريخ" کښې داسې ليکي: "هم چنان عبدالحی خان حبيبی تا جايی تحت فشار قرار ګرفت که قبل از اختتام دوره شورا از افغانستان فرار و در پاکستان پناهنده شد." او په "ظهور مشروطيت وقربانيان استبداد در افغانستان" اثر کښې دده په اړه داسې راغلي دي:

"پوهاند حبيبي به حيث يك شخص منور و ترقي خواه از رويه های مستبدانه حکومت به ستوه آمده در سنه ۱۹۵۰م زمانيکه به حيث وکيل قندهار در شورای ملي بود به پاکستان فرار کرده در پشاور پناهنده شد در اين جا جريدهٔ هفته وار "آزاد افغانستان" را انتشار داد و افغانستان را به حيث يك دولت جمهوري اعلان نمود." او ښاغلی بخرکی بيا دده په اړه ليکي: "حبيبي صاحب د کندهار له خوا په اوومه دوره کښې د ولسي جرګې له پاره کامياب سو او پارلمان ته ولاړ، چې دا دوره د ۱۳۲۸ لمريز کال د چنګاښ په ۹مه نېټه چې د ۱۹۴۹م کال د جون له دېرشمې سره سمون خوري په کابل کښې افتتاح سوه. دې شورا ته د افغانستان خلکو ډېر امېدونه درلودل او حکومت به هم دا دوره ديموکراتيکه دوره معرفي کوله. خو کله چې ولسي جرګې په اجراآتو پيل وکړ او هلته ملي نمايندګانو (استازو) بيانونه ورکړل. حکومت ته ورمعلومه شوه چې ملي مفادات او حکومتي مفادات (ګټې) سره توپير لري... حبيبي صاحب په مرګ تهديد سو... نو د ملي آرزوګانو سره سم يې د کابل سرداري شورا ترك کړه او د پاکستان څخه يې سياسي پناه حاصله کړه.

په پاکستان کښې دوی د لومړي ځل له پاره په افغانستان کښې د جمهوريت ږغ پورته کړ او يو اخبار يې د "آزاد افغانستان" په نامه په پېښور کښې خپور کړ چې په دې توګه نو لومړی جمهوري ږغ هم په افغانستان کښې د ويښو ځلمو له خوا اعلان سو. عبدالحميد مبارز په "تحليل واقعات سياسي افغانستان" کښې ليکي:

"عبدالحی حبیبي که در دوره هفتم وکیل شهر قندهار در شورای ملي بود، دوره وکالت را ناتمام گذاشته و با استفاده از رخصتي زمستاني شورا به پاکستان رفته بر نمی گردد و در آنجا حزب سیاسي آزاد افغانستان را تاسیس می نماید، وی با نشر جریده آزاد افغانستان چون ارگان نشراتي حزب سیاسي آزاد افغاستان در واقع برای بار اول در عصر ظاهر شاه در خارج کشور یك حرکت سیاسي علیه نظام شاهی را اعلام و شخص خود را به حیث رئیس این حزب و این حرکت سیاسي اعلام می نماید."

ددې ګوند له ضعیفو ټکو څخه د کندهار د جمعیت له خوا د کابل عالي شورا ته یو احتجاجیه لیك لېږل وو او په هغه کښې لیکل شوي وو چې دا تحریك (ویښ ځلمیان) د یو قوي عنصر په توګه په یوه متحده تګلاره د یو متحد هدف خوا ته روان دی خو سره له هغه هم متاسفانه د توقع خلاف ناکام دی او د هغه علل یې په پنځو مادو کښې لیکلي کابل ته واستول او د ویښ ځلمیانو په سیاسي ډله کښې د "اخوت" په نوم د بلې ډلې د جوړېدو پروګرام یې په دروو (دریو) مادو کښې لیکلی او ښاغلی فیض محمد انګار، ښاغلی محمد دین ژواك، ښاغلی نور محمد خان وکیل او ښاغلی غلام دستګیر خان پوپل یې د استازو په توګه وټاکل، د ښاغلي لیکوال په وینا ارواښاد محمد رسول خان پښتون ددې نظریې ډېر پلوي وو؛ سره له دې چې په ګوندي کدر کښې دننه اختلاف پیدا شوی وو، خو دباندې دا اختلاف نه و محسوس، ځلمیانو خپل عادي کار ته دوام ورکاوه او ښاغلی میر غلام محمد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوك کښې ددې خبرې په اړه لیکي: "همچنان در سنبله ۱۳۳۰ شمسي (۱۹۵۱) ویش زلمیان قندهار انفکاك خود را از حزب ویش زلمیان اعلام و نام حزب را "اخوت" با برنامه جدیدی اختیار کرد. حزب اخوت در میزان سال مذکور به تشکیل کمیته های مالی، تحریرات، بررسی عمومی و



تبلیغات و نشرات هم پرداخت، مگر ویش زلمیان کابل این انفکاك ویش زلمیان قندهار را نه پذیرفت و راه آشتي از سرگرفت."

د ښاغلي بخرکي په وینا د یادولو بله خبره داده چې په ۱۳۳۰ ل کال غلام حسن خان ساپی د ننګرهار د رئیس تنظیمه عبدالاحد خان سره د یوې موضوع د مخالفت په وجه په "ندای خلق" کښې یو مضمون خپور کړ چې د ملت روشنفکر پوړ (قشر) د هغه ښه هرکلی وکړ چې د حکومت د مخالفت باعث شو اود شور بازار حضرات یې راوپارول او پر صافي صاحب یې دعوی وکړه او هغه بندي شو او ځوانانو ژر غونډه وکړه او په کابل کښې یې د مظاهرې ترتیب ونیو او په سبا یې یعنی د ۱۳۳۰ ل کال د چنګاښ (سرطان) د میاشتې پر شلمه نېټه یې د استقلال لېسې څخه مظاهره پیل کړه او د افغانستان په تاریخ کښې د لومړي ځل له پاره د سیاسي عرض په هکله مظاهره او د "تاریخ سیاسي افغانستان" د لیکوال خیر محمد بایګان د وینا په خلاف چې د ۱۳۳۱ ل کال د وري (حمل) د درشمې نېټې مظاهره یې لومړۍ مظاهره ګڼلې چې دولسې جرګې د ټاکنو د اعتراض په اړه وه، چې پر نوموړې مظاهره باندې پولیسو حمله وکړه او ښاغلی فیض محمد انګار، ښاغلی عبدالرحیم محمودي او ښاغلی عبدالعزیز خاوري یې ونیول او د څه مودې له پاره یې بندیان کړل چې ارواښاد انګار وروسته له شپږو میاشتو خلاص کړای شو (لومړی ځل بند) او دوه نور مخکې خلاص شوي وو او د څه مودې له پاره یې ارواښاد محمد ابراهیم خواخوږی هم بندي کړ.

کله چې د ویښو ځلمو غورځنګ په ټول هېواد کښې ریښې وځغلولې د وخت واکداران یې وارخطا کړل او پرېکړه یې وکړه چې په هېواد کښې سیاسي غورځنګونه او سیاسي شخصیتونه له منځه واخلي، ځکه د ۱۳۳۱ لمریز کال د وري (حمل) پر یوولسمه نېټه چې د ۱۹۵۲م کال د مارچ له ۳۱ سره سمون لري په کندهار کښې د کندهار د والي عبدالغني خان (قلعه بیګي) په امر د ویښ ځلمیانو

مدیره هیات بندي شو چې په ټول هېواد کښې د ویښ ځلمیانو دوولس تنه بندیان شول. خو ارواښاد میر غلام محمد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوک کښې داسې لیکي: "درسال ۱۳۳۱ (اوایل سال ۱۹۵۲م) یکعده رهبران ویش زلمیان قندهار در محابس کابل و قندهار به زندان افتادند از قبیل: محمد انور خان اچکزایی، عبدالهادي خان توخي، غلام جیلاني خان الکوزایی، قاضي بهرام خان، قاضی عبدالصمد خان، محمد یوسف خان مجددی (در محبس کابل)، فیض محمد خان انگار، محمد علم خان اچکزایی (محمد علم خان بڅرکی) و حاجي محمد حسین خان هوتکی (در محبس قندهار) محمد رسول خان پشتون نیز در ولایت بغلان تبعید شد (ارواښاد محمد رسول خان پښتون یوولس کاله او اته میاشتې له ۸- ۱- ۱۳۳۱ ل کال څخه تر ۱۰- ۱۰- ۱۳۴۲ ل کال پورې چې له ۱۹۵۲م څخه تر ۱۹۶۳م کال پورې رسېږي په بغلان کښې سیاسي زنداني و.) "و محمد عزیز خان توخی جدا گانه محبوس گردید. یکنفر ازینها (خدایدوست خان) در سال هشتم محبوسی خود در زندان کابل بمرد، و عبدالهادي خان توخي، قاضي بهرام خان و عزیز خان توخي تقریبا دوازده سال در محبس بماندند (لومړی دا چې عزیز خان توخی د ویښو ځلمیانو غړی نه و او بل دا چې هغه په کابل کښې اوسېده او دا ځل د ویښ ځلمیانود کابل مشران او غړی نه دي زنداني شوي او هم د ښاغلي بڅرکي په وینا ارواښاد عبدا لهاي خان توخي او ارواښاد قاضي بهرام خان اخکزی لس کاله لس میاشتې او لس ورځې بندیان سوي دي)، محمد انور خان اچکزایی در سال پنجم و قاضی عبدالصمد خان، محمد یوسف خان مجددی و غلام جیلاني خان الکوزی در سال چهارم از محبس خارج شد." خو ښاغلي بڅرکي د ارواښاد محمد انور خان اخکزی، ارواښاد قاضي عبدالصمد خان، ارواښاد محمد یوسف خان حضرت مجددي، غلام جیلاني خان الکوزی او



خپله محمد علم خان بڅرکی د بند موده څلور کاله او شپږ میاشتې ښیي او د حاجي محمد حسین خان د بند موده یو کال او شپږ میاشتې ښیي او دا هم وایي ښاغلی خدایدوست خان وروسته له اوو کالو په محبس کښې وفات شو.

ښاغلی بڅرکی دا هم لیکي: "پوهاند رشاد د ګوند له خوا پارلمان ته کاندید (وټاکل) شو او سره له هغه چې د کندهار ښاریانو هغه انتخاب کړ او په انتخاباتوکې یې بری تر لاسه کړ خو د کندهار د والي عبدالغني خان (قلعه بیګي) د مخالفت په وجه چې د ویښ ځلمیانو سره یې لاره د پوهاند رشاد د رایو صندوق د پولیسو په ذریعه ضبط او دی د ښاروالي له تالاره راوایستل شو چې دغه موضوع ارواښاد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوک کښې داسې راوړې ده: "ویش زلمیان در قندهار در مبارزات انتخاباتي شورای ملي قندهار شرکت ورزیده و یکنفر از اعضای حزبی خود را (عبدالشکور خان رشاد) کاندید وکالت برای دوره هشتم شورای ملي نمودند ولی حکومت با اعمال قوه در جای کاندید مذکور، عبدالغفور خان خروتی را به وکالت تحمیل کرد."

وروسته د ویښ ځلمیانو د مشرانو تر بندي کېدو، پاتې ځلمیانو او روشنفکرانو په سیاسي او ټولنیزه اړه د پرمختیا پر لوري حرکت غوره کړ، چې د ښاغلي بڅرکي په وینا ددې ډول حرکت غوره کېده په انفرادي ډول او د ښاغلي جیلاني خان الکوزي په وینا: "کله چې د ویښ ځلمیانو یو شمېر مشران بندیان او په کابل کښې ددې ګوند د مرکزي کمیټې ځینې غړي تطمیع سوه، د پاته ویښ ځلمیانو رهبري پوهاند رشاد پر اوږه واخیسته چې تر پخوایې زیات په شدت او حدت مبارزه شروع کړه."

بله موضوع چې ددې کتاب لیکوال ته ارزښت لري د کندار بلواده چې د ۱۳۳۸ ل کال د لیندۍ (قوس) د میاشتې پر دېرشمه نېټه چې د ۱۹۵۹م کال د ډیسمبر د یوویشتمې نېټې سره سمون

لري ده دده په وینا د بلوا علت نه یوازې د ښځو لوڅ مخي وه بلکې اقتصادي او مالي ستونځې وې او د ویښ ځلمیانو درېدل د ښځو د لوڅ مخۍ په دفاع او د هغه د دولتي پروګرام سره نژدېوالی ښيي، د ښځو د لوڅ مخۍ د نهضت د مخکښانو نارینو نومونه اخلي او د دوو مخکښو ښځو لکه مېرمن نفیسې سلیمي او مېرمن ساجدې بځرکې یادونه کوي چې اروابناده ساجده بځرکې ددې کتاب د لیکوال مېرمن وه.

په ۱۳۴۳ل کال کښې د نوي اساسي قانون د نافذېدو سره د ویښ ځلمیانو د پایځوړ زمانه پیل کېږي، د نور محمد تره کی بېلېدل او د ا. خ. د. ګ. جوړول، د ښاغلي محمودي د پاتې خلکو له خوا د شعلهٔ جاوېد ګوند جوړول، د محمد رسول خان پښتون، ښاغلی خادم او څه نورو مخورو افغانانو لکه ښاغلی فرهاد، فدایي او داسې نورو له خوا د افغان ملت ګوند جوړول، دغه رنګه راوروسته د ښاغلی موسی شفیق او نورو د اسلامي جمعیت (ګوند) د جوړېدو هڅه کول او پاتې هسته په پرله پسې ډول غونډې او د ګوند د جوړېدو هڅه کول او په پای کښې یې د شهید میوندوال د "اصلاحاتو پروګرام او عقاید" د یوې مودې له پاره منل خو د خپلو ځانګړو سیاسي طرحو او غوښتنو سره چې د ویښ ځلمیانو پروګرام وُ، دوی د یوې مودې له پاره د یوې ائتلافي ډلې په توګه د مترقي دیموکرات ګوند سره وو څو د ښاغلي بځرکي په وینا: "پوهاند عبدالحی حبیبي، پوهاند رشاد، ښاغلی بېنوا صاحب، ښاغلی فیض محمد انګار، مدیر صاحب غلام جیلاني خان، نور محمد خان وکیل، محمد ابراهیم خواخوږی او داسې نور په اغلب ګومان د ۱۳۵۰ل کال په وروسنیو کښې چې د ۱۹۷۱م کال سره سمون لري د مترقي دیموکرات ګوند څخه رسماً ووتل خو محمد علم بځرکی، عبدالغني خان میونډي، غلام دستګیر خان پوپل او ځینې نور کسان په دغه ګوند کښې پاتې شول." د مترقي دیموکرات ګوند



څخه چې د "مساوات" خپرونه یې درلوده وتلو خلکو چې د ویښ ځلمیانو له هستې څخه وو او همېش د ویښ ځلمیانو پروګرام او لاره ورته د منلو وړ وه او د ملي ګټو له پاره یې هاند او هڅه کوله، د ظالمو واکمنانو او پردیو واکمنیو سره یې څرګند مخالفت درلود، وروسته په علمي او فرهنګي چارو کښې ډېر وځلېده.

اوس که خپلې خبرې رالنډې کړو او د ښاغلي بځرکي پر لیکنه وړغېږو دا ټولو ته څرګندېږي چې د ښاغلي بځرکي لیکنه تر ډېره حده ملفوفه نه ده چې په ډیپلوماتیکه ژبه دې موضوع ګونګه او حقایق په ناڅرګند ډول وړاندې کړي، یوازې یوازې دوه، درې ځایه چې موضوع روښانه شوې خو د اشخاصو نومونه ارادتاً او د یو لړ سیاسي ملحوظاتو په خاطر نه دي راوړه شوي، نور نو ددې اثر ټولې برخې لوڅې او پاکې دي او تاریخي رښتینوالی په ډېرې امانتدارۍ ساتل شوی دی؛ یو څو ځایه لکه د سردار محمد هاشم خان له وخت څخه د مخه په ۱۹۰۹م کال کښې د اخوان افغان په نامه سیاسي جمعیت ته تلل چې د امیر حبیب الله خان په وخت کښې وو او یا د ویښ ځلمیانو د با قاعده تشکیل څخه په ۱۳۳۰ل کال کښې چې د ۱۹۵۱م کال سره سمون لري د لیکلو اسنادو پیدا کول وو د ۱۳۲۸ل کال لومړۍ مرامنامې (کړنلارې) ته تلل او داسې دوه، درې نور ځایونه کرونولوژیکي وراني راغلې ده چې هغه هم د موضوعاتو د اووډنې (ترتیب) پر بنسټ ډېره وراني نه ده.

یوه خبره ډېره د پاملرنې وړ ده هغه دا چې کله د یوې نېټې او یا موضوع په هکله اختلاف موجود دی هغه اختلافات یې ټول راوړي دي لکه د ښاغلي زرملوال په وینا د انګار جریده لومړنۍ ګڼه د ۱۳۲۹ل کال د کب(حوت) د میاشتې پر نهمه نېټه او د ښاغلي جیلاني خان الکوزي په وینا د ۱۳۲۸ل کال د کب پر ۲۸ نېټه خپره شوې ده (د ښاغلي سید مسعود پوهنیار په اثر "ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد" کښې هم د انګار جریدې لومړۍ ګڼه د ۱۳۲۹ل

کال د کب (حوت) نهمه نېټه لیکل شوې چې په اوونۍ کښې دوه ځله د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ په پښتو او دري ژبو خپرېده چې شپاړسمه ګڼه یې مصادره شوه؛ او اروابناد غبار هم د انګار د جریدې په هکله د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوك کښې داسې لیکي: "ارګان نشراتي اول حزب (ویښ ځلمیان) جریدهٔ انګار به امتیاز فیض محمد خان انګار منتشر شد (تاسیس مارچ ۱۹۵۱ و توقیف در اپریل سال مذکور)، باز جریده ولس جای آنرا ګرفت که از سال ۱۹۵۱ تا سال ۱۹۵۳ به امتیاز ګل پاچا خان الفت انتشار می یافت).

هم له مترقي دیموکرات ګوند څخه د ویښ ځلمیانو د هغې ډلې د وتلو نېټه چې د ښاغلي بخرکي په وینا د ۱۳۵۰ل کال په وروستیو کښې او د ښاغلي جیلاني خان په وینا په ۱۳۴۸ لمریز کال کښې ده یو څه د تأمل وړ ده او زما د معلوماتو په اساس ددغه ډلې د وتلو رسمي نېټه چې په "کاروان" جریده کښې یې خبر تېر شو او د نومړو خلکو نومونه هم خپاره شول د ښاغلي بخرکي د نېټې سره سمون لري او یا هم د ښاغلي زرملوال او ښاغلي بخرکي د نظر اختلاف د ویښ ځلمیانو د موسسینو او یو شمېر غړو په هکله او یو، دوه داسې نور چې لوستونکي یې هم تأمل ته رابللي تر څو خپل قضاوت وکړي او د اثر رښتینوالی نور هم ثابت کړي، خو د ښاغلي بخرکي د حساب تصفیه چې په لومړي سر کښې د کندهار د برخې مالي چارواکي ده لږ زایده معلومېږي.

د ښاغلي لیکوال له لیکنې څرګندېږي که کوم څوك او یا موضوع د دوی له قلم پاتې شوې وي عمدي نه ده، د بل ځل چاپ او بشپړونې له پاره دې دوی ته راواستوي په دې معنی ده چې دوی نور هم ددغه اثر د بشپړونې له پاره هڅه کوي په تېره بیا د لوی ننګرهار او کابل روشنفکران چې اکثر د ویښ ځلمیانو غړي او یو شمېر یې بنسټ ایښوونکي هم وو او همدارنګه د نورو سیمو روشنفکران.



په هر ډول ښاغلي بخرکي زمونږ د ملي، سیاسي او ټولنیز شخصیت په توګه چې د ملي او ټولنیزو هیلو ښکارندوی دی په ژور فکر او تېز نظر هر څه چې د دوی تر سترګو شوي او یا یې په هغه کښې ګډون درلود په ډېره امانتداری لیکلي او د تاریخ پاڼو ته یې سپارلي دي او په یوه تاریخي پراو کښې یې د افغانستان د سیاسي تاریخ بنسټیز اثر رامنځ ته کړ چې د تاریخ له تونډو او تېزو څپو څخه د نن تر ساحله رارسېدلی او درانه لوستونکي د هغه لوستلو ته رابولم.

په درنښت

ډاکتر طارق رشاد

# خپلې خبرې:

که څه هم د ویښ ځلمیانو لومړی اساس او بنسټ په کابل کښې ایښودل سوی دی، خو کله چې یې ریښه کندهار ته راورسېده ددې ځای آب و هوا، مکان و زمان ښه ورته مساعد وو او همدلته یې وزرې وغوړولې.

دلته دې تحریك دومره وده وکړه چې د نور افغانستان د ویښو ځلمو اجرآت یې تر سیوري لاندې راوستل، نو په دې اساس کوم جریان چې ستاسو حضور ته وړاندې کېږي هغه عموماً د کندهار د ویښو ځلمو دی.

ما کوښښ کړی دی چې د ویښ ځلمیانو سیاسي نظریات، سرگذشت او واقعات زما د معلوماتو سره سم وړاندې کړم. ان دا چې منفي اړخونه یې هم پټ نه کړم. که څه هم ما تر وسه وسه ټول هغه څه چې زما په معلوماتو



کښې وو تاسو ته وړاندې کړل، خو بیا هم اعتراف کوم چې د ویښ ځلمیانو دا کتاب بشپړ کتاب نه سي کېدای او هم د هېواد د هغو ټولو ویښ ځلمیانو څخه هیله کوم چې ددې کتاب تر بیا چاپولو وړاندې نور معلومات راکړي، چې په بل چاپ کښې یې ځای کړم.

که ددې کتاب په مطالبو کښې څه زیات و کم راغلي وي محترم لوستونکي دې یقین ولري چې د بد نیت پر بنا نه دي لیکل سوي. هیله لرم چې څوك آزرده نه سي.

ځینې موضوعات څه مفصل لیکل سوي دي، داسې ښکاري لکه بې مورده چې وي، خو څرنگه چې د خپل وخت ریکارډ دی ضایع کول یې مناسب نه وو، ددې کتاب ځینې برخې بېخي کتابي شکل نه لري او د یوې دایرې او روزنامې (ورځنۍ پېښلیك) په ډول راوړه سوي دي، په تېره بیا د ځلمیانو برخه، خو رویداد او واقعاتو ته د تسلسل ورکولو یو لوی مجبوریت وو او ما کټ مټ د زماني په تسلسل لیکنه وکړه، چې د یوه ډاکومنټ او باوري سند په توگه پاتې او ورك نه سي.

ددې کتاب پر لیکلو مې ځکه په دې وخت کښې لاس پورې کړ، چې د عامې قاعدې له مخې په اجتماعي مسایلو کښې لوی واقعات کوچني واقعات خوري او ترشا کوي څرنگه چې په افغانستان کښې روسي یرغل راغی نو ډېر احتمال و چې د مؤرخینو او لیکوالانو نظر وربانډې وښویېږي او تر نظره ولوېږي.

دلته دا خبره بیا تکراروم چې د ویښ ځلمیانو پېښې او خلك چې په کتاب کښې ذکر سوي دي، ټول زما د شخصي یادښتونو څخه راوړل سوي دي. که کومو خلکو یا پېښو د ویښ ځلمیانو جریان ته مثبت یا منفي تأثیر وربخښلی وي

او ما نه وي ليکلي ډېره ډېره بخښنه غواړم ځکه د ارادې له مخې دا کار نه دی سوی، خو که چېرې داسې پېښه وي نو هيله کوم چې موضوع دې د ويښو ځلميانو د با صلاحيته دوو درو غړو په تصديق تر ما راورسوي چې په دوهم وار چاپېدو کښې اصلاح يا کم و زيات سي.

دا خبره د توضيح وړ بولم: په کتاب کښې چې کومې مرامنامې راوړل سوې دي او د هغو مرامنامو په پای کښې محدودو څو تنو لاسليکونه کړي دي، ددې معنى بايد دا وانه خيستل سي چې فقط هم دغه څو تنو دا مرام تائيد کړی دی، بلکې واقعيت دا دی چې مرام نامې به د باصلاحيته ځلمو سره وې هغوی به هر چېرې چې ځلمي پيدا کول مرامنامه به يې پرې دستخطوله چې د هغو جملو څخه زما په آرشيف کښې ليکل سوې مرام نامې موجودې وې.

پخوا تر دې، د کتاب په هکله ما د ارواښاد عبدالرؤف بېنوا سره خبرې کړې وې زما نظر داسې وُ چې پر دې موضوع يا بېنوا صاحب او يا ارواښاد پوهاند حبيبي صاحب څه نا څه وليکي خو بېنوا صاحب راته ويلي وو چې ته يوه مسوده جوړه کړه، موږ به يې بيا وګورو، نو به په ګډه يو شی ځنې جوړ کړو، خو اوس چې د دوی دواړو په مخه ښه سوه، کار يواځې راته پاتې سو نو مې د خپله وسه سره سم چې څه مواد سره راټولولای سوای هغه مې دا دی ستاسو مخې ته کښېښودل.

په درناوي

محمد علم بخرکی، ګلستان

۲۵/٦/۱۹۸۷



# [۱]

# شاوخوا

د افغانستان په معاصر حزبي تاريخ کښې د ويښ ځلميانو تحريک د ډېرو حزبو د پلار حيثيت لري، چې مور يې وطن دی "مادر وطن" که د "وطن حزب"[۱] دا سياسي ټوکه په ورين تندي ومني نو به په ډاګه ووايم، چې د معاصر افغانستان د ټولو احزابو مور او پلار "ويښ ځلميان" او د وطن حزب دی، چې دا نور احزاب بيا د دوی څخه پيدا سوي دي او که د "وطن حزب" د موروالي څخه ځان کاږي نو زما مطلب د وطن څخه هېواد دی چې موږ ورته "مادر وطن" وايو.

خو په هر ډول د معاصر افغانستان په حزبي تاريخ کښې "ويښ ځلميان" چې کوم بنيادي اهميت لري د هغه څخه هېڅ مبصر سترګې نه سي پټولی، نو څرنګه چې پر دې موضوع باندې تر اوسه د يوه سياسي تحريک په حيث په ځانګړي ډول څه نه دي ليکل

۱ - په دغه وخت کښې چې ويښ ځلميان وو په کابل کښې حزب وطن هم موجود وُ.

سوي، نو زه د هغو معلوماتو له مخې چې د يوه ويښ ځلمي په حيث يې لرم دا جرأت کوم چې د تاريخ دا پټه او ورکه غوټه د خپل وسه سره سم وسپړم، خو که کومې معلوماتي کوتاهۍ موجودې وي، هيله ده چې بخښنه وکړئ.

نو دا دی د بشر د عالي ارادې په نامه په کار پيل کوم:

کله چې مونږ د يوه حزب خاميو يا چټکتياو او يا صحيح والي ته ګورو، دا ور نه ده چې يواځې پخپله هغه حزب په مجرد ډول وڅېړو. دا ډول څېړنې چې په مجرد ډول کېږي، که شخصي وي که حزبي او يا که د کومې ټولنې وي، قضاوت سم لور ته نه بيايي.
۱۹۴۶ کال چې د هجري شمسي د ۱۳۲۵ کال سره سمون خوري د ويښ ځلميانو د پيل کولو نېټه ده.

په دې وخت کښې نړۍ د دوهم نړيوال عمومي جنګ څخه خلاصه سوې ده، فقط يو کال تېر سوی دی چې جهان د امنيت او سولې په فضاء کښې ساواخيستله او ددې جنګ په پای کښې د افغانستان پر ختيځ اړخ نوی هېواد د پاکستان په نامه جوړ سو، د پښور او بلوچستان پښتانه او بلوڅ د مسلمانۍ په نامه په دې هېواد کښې شامل او ورګډ کړل سول. د پاکستان پښتنو هغه چې نيشنلستان وو، د خپل بېل هېواد "پښتونستان" دعوه وکړه، خو د وخت واکدارانو دې آواز ته د قناعت وړ جواب ورنه کړ کوم ريفرانډوم چې وسو په هغه سره د پښتنې "قوم پرستو" لکه په پېښور کښې "خدايي خدمتګاران" او په بلوچستان کښې د "وطن انجمن" قناعت نه سو حاصل، دی ريفرانډوم پښتانه نور هم وپارول ځکه ددې ريفرانډوم شعار او ناره بالکل د پښتني دود او کلچر مخالفه ټاکل سوې وه؛ د پښتنو څخه غوښتل سوي وو چې په پاکستان ګډېږي که په هندوستان؟ يعنې په مسلمانانو ګډېږي که په هندوانو؟ ددې شعارو څخه ښکاره وه چې د پښتنو پر ملي دود، عنعنه او رواج تېری کېده، په دې ترخ کښې د "خدايي خدمتګار" حزب چې په شمالي



پښتونخوا کښې واحد پښتني نماينده حزب وُ دا غوښتله چې علاوه پر پورته شعارونو د هغه پر څنګ دې د پښتونستان نوم هم وي، خو دا نوم ونه منل سو.

خان ولي خان په خپل کتاب "اور بيان اپنا" په ۱۲۲ مخ کښې راوړي دي چې د پښتنو د اويا "۷۰" لکو صاحب رای خلکو څخه صرف ۳ لکو خلکو په ريفرانډوم کښې برخه اخيستې ده، چې په دې توګه او په دې بنياد د پاکستان حکومت او پښتانه سره اړ سول.

د بل طرفه د افغانستان د حکومت د چلاو پاليسي د ډېر پخوا څخه داسې وه چې خارجي پاليسي يې د انګرېزانو رضايت کسبول او روسيانو ته شکايت نه ورپيدا کول وو، مګر داخلي پاليسي يې مطلق استبداد او زورګيرانه وه، په زياته بيا د محمد نادر خان تر مرګ وروسته کله چې سردار محمد هاشم خان د افغانستان صدر اعظم سو په دې وخت کښې افغانستان نه په سياسي لحاظ او نه په اقتصادي لحاظ کوم داسې کار کړی دی، چې قوم ته دې سياسي يا اقتصادي آزادي ور په برخه کړي، خو يوازې کار چې يې کړی دی هغه حکومت کول وو، هغه هم په داسې توګه چې د دهمزنګ، ارګ او نورې ټولې بنديخانې د داسې بنديانو نه ډکې وې چې هغه د هېواد صاحب رای خلک وُ په دې توګه د محمد هاشم خان د صدارت په څورلسو کلو کښې په هېواد کښې د نظر وړ کوم شخصيت نه سو پاته او د وطن صاحب نظر خلک يا په بنديخانو کښې له منځه ولاړل او يا د استبداد په وجه د خپلو کورو په زېرخانو کښې پاته سول او يا د خپلو ارمانو سره په خپلو ادېرو کښې ښخ کړل سول.

په دې وخت کښې حکومت د افغانستان د نفوسو سرشمېرنه دوولس "۱۲" مليونه ښوولې. خو دا دوولس مليونه خلکو د ژونديو بتانو حيثيت درلودی په هېڅ کښې د مسلسلو ظلمو او ناوړه بېړو په وجه دومره مجال نه وُ پاته سوی چې څوک دې ژوندی بت ونه بلل سي په باندار ځايو او مجلسو کښې سياسي حتی حکومتي او

ټولنيزې خبرې كول لا بندې وې. ځكه چې دوى به ويل: په اوس وخت كښې "دېوالونه لا خبرې كوي" او خلكو په خپل كور كښې ژوند په نهايت احتياط او عدم اعتماد سرته رساوه. يوه لار چې پاته وه هغه د بندګۍ وه، دا نو د سړي خپله خوښه وه چې د خداى بندګي يې كوله كه د حكومت او كه د دواړو؟ خو اكثرو خلكو د دواړو بندګي خوښه كړې وه، ځكه چې عافيت هم په دغه طريقه كښې و.

د افغانستان دې مظلوم قوم د پورته ذكر سوي استبداد سره سره په وارو وارو غوښتي دي، چې د سردارانو محمدزو د حكمرانۍ له ټولي ځخه افغان اولس ته نجات وركړي په دې لار كښې افغاني ځوانانو د خپل ژوند او سر په سودا داو وهلي وُ د ګران وطن د آزادۍ د لارې شهيدانو خپل منزل د ډېر پخوا ځخه لا راشروع كړى وُ.

په ۱۹۰۹ع چې له ۱۲۸۸هـ ش سره سمون خوري د اخوان افغان په نامه يو سياسي جمعيت په كار پيل وكړ دا ډله د مشروطه خواهانو ډله وه، چې ددې ډلې اكثر غړي ګرفتار او بنديان سوه، ددې ډلې د ځينو كسانو نومونه په دې ډول دي:

مولوي محمد سرور واصف كندهاري او دده ورور سعدالله كندهاري د مولوي احمد جان الكوزي زامن، لعل محمد كابلي، جوهر شاه غوربندى، محمد ايوب پوپلزى كندهاري دا كسان ټول ووژل سول او په شهادت ورسېدل. ددې ډلې نور ۳۵ تنه بنديان سول چې تر كافي مظالمو ګاللو وروسته يا په بنديخانو كښې مړه سول او يا مړ ژوانده راخوشي سول. كله چې امير حبيب الله خان د لغمان په كله ګوش دره كښې، په مرموز ډول ووژل سو (۲۰ د فروري ۱۹۱۹) نو يې د ۱۸ كلنى استبدادي حكومت دوره هم پاى ته ورسېده او امان الله خان را مخې ته سو په دې وخت كښې له يوې خوا د روسيې لاس ومنځنۍ آسيا ته راوغځېده او ويې غوښتل



چې د خپل فوق العاده مختار نماينده "پاكوف زاخارو ويچ سورتيس" په ذريعه په ټوله منځنۍ آسيا كښې پر مسايلو كنټرول حاصل كړي خو د افغانستان پر دا بل اړخ په هندوستان كښې ملي نهضتونو ورځ په ورځ تاو اخيسته او د انګرېزي غلامۍ ځخه يې د خلاصون هڅه كوله، انګرېزانو له يوه پلوه د هندوستان د داخلي آزادۍ غوښتونكو نهضتو سره مقابله درلوده او له بله پلوه په افغانستان كښې د امان الله خان د پوځو ځخه (چې د كاملي آزادۍ اعلان يې كړى وُ) خطر درلود. انګرېزان مجبور سول چې د افغانستان عام و تامه آزادي ومني، د امان الله خان دې اقدام د جهان توجه دې خوا ته راواړوله؛ د هندوستان ملي نهضتو خپل نجات د افغانستان په ملګري كښې وپاله او د "راجا مهندرا پرتاب" په مشرۍ يې په كابل كښې د هندوستان يو مؤقتي حكومت اعلان كړ، د هندوستان ددې مؤقتي حكومت اعلان د مولوي عبيدالله سندهي او عزيز هندي په لاسليك خپور سو، په دې اعلان كښې د هند د خلكو ځخه غوښتل سوي وو چې د خپلې آزادۍ په خاطر د انګرېزانو سره مقابله وكړي او خپل حقوق لاس ته راوړي.

په دې وختو كښې افغانستان د جهان تر ټولو نه لوى قدرت انګرېزانو ځخه د كاملې آزادي تر لاسه كولو په وجه په ټول جهان كښې مشهور سوى وو. ځرنګه چې افغانستان د انګرېزانو د بدې ځخه تازه خلاص سوى وُ، نو يې د خارجي پاليسى تمايل چپې خوا ته ډېر وُ، په داخلي پاليسى كښې امان الله خان غوښتل چې ځه نه ځه د افغاني سياسي منورينو او ځوانانو آرزوګانو ته مثبت ځواب ووايي، خو ځرنګه چې يې خارجي پاليسي شرقي او غربي توازن له لاسه وركړى وُ غربيانو په تېره بيا انګرېزانو دا موقع امان الله خان ته ور نه كړه چې دى دې په كورنيو سياسي اصلاحاتو لاس پورې كړي.

"ښاغلی محمود سامي "چې د امان الله خان استاد ؤ" او هم "ښاغلی عبدالرحمن لودین" د امان الله خان سرمنشي چې د خپل وخت د روښنفکرانو ښتلي شخصیتونه وو، د افغانستان پر دې موقف باندې چې د خارجي سیاست موازنه غلطه ده، خواشیني وو، دوی استدلال کاوه چې په دې صورت کښې غربیانو ته په افغانستان کښې د لاس وهلو پلمه پیدا کېږي او بل که چېرې د روسیې دا لوی حکومت چې زموږ سره پر پوله پروت دی وغواړي چې زموږ کوچنی وطن افغانستان په ځان کښې گډ کړي نو به موږ تر غربیانو د دوی سره په زیاتو مشکلاتو اخته سو ځکه غربیان به د یوروپ څخه راسره جنګېږي خو روسیان به پوله په پوله راسره جنګېږي. د ښاغلي لودین او سامي دا پالیسي نه وه خوښه چې یوه ته دې پر بل ترجیح ورکړی سي په دې نظریه باندې امان الله خان سخت برهم او تر دې اندازې عصبي ؤ چې یو وخت یې پر خپل استاد سامي صاحب تفنګچه راوایستله خو د مجلس نورو کسانو یې لاس تکیه کړ، فیر یې ونه کړ.

په هر صورت امان الله خان د ملي حقوقو احترام درلود، خو څرنګه چې دمخه مې وویل خارجه پالیسي یې ښویېدلې وه، ویې نه کولای سول چې افغانستان ته ثبات ورکړي او د "ملي حقوقو" پر پخو بنیادونو آزاد افغانستان جوړ کړي.

تر امان الله خان وروسته د محمد نادر خان او دده د کورنۍ دوره وه، په دې دوره کښې افغان ملت بیا د باران څخه ناوې ته سو.

کله چې نادر خان پر ١٦ دعقرب ١٣١٢هـ ش (اووم د نومبر ١٩٣٣) د عبدالخالق نومي زده کوونکي له خوا ووژل سو نو دده زوی محمد ظاهر شاه د افغانستان پاچا وټاکل سو. که څه هم اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پادشاه سو خو په حقیقت کښې د حکومت ټولې واکې د محمد هاشم صدراعظم په لاس کښې وې. په



سیاسي اعتبار تر محمد نادر خان وروسته سیاسي چارې د محمد ظاهر شاه د اکاګانو په ذریعه اجرا کېدلې ځکه د پاچهی په لومړي سر کښې دی کوچنی ؤ د مملکت ټولو چارو یې په صدراعظم اړه لرله او صدر اعظمانو هم د دولت په صدارت واراچولی ؤ.

دوی د پښتو دې متل ته عملي جامه وراغوستې وه چې "ژرنده که د پلار ده هم په وار ده" د صدارت لومړی وار محمد هاشم ته ورسېده، بیا شاه محمود خان صدراعظم سو. بیا سردار محمد داؤد چې د محمد ظاهر شاه د بېل اکا زوی ؤ صدراعظم سو.

د صدر اعظمانو ددې مختصر تذکر څخه مې هدف دا دی چې که څه هم محمد ظاهر شاه د افغانستان د پادشاه حیثیت درلود، خو عملاً د هېواد خیر و شر د صدر اعظمانو په لاس کښې وو، د هغې ورځې څخه چې نادر خان وفات سو بیا تر هغه وخته چې افغانستان ته دموکراسي او مشروطه نظام راځي او ډاکټر محمد یوسف صدراعظم کېږي. پادشاه یو بې واکه واکمن و، (د ١٩٣٣ تر ١٥ مارچ ١٩٦٣ پورې).

دې زمانې ته په افغانستان کښې د نادري کورنۍ توره دوره ویل کېږي. دغسې خو توره دوره په افغانستان کښې تر امیر دوست محمد خان را په هیسته شروع وه، چې د محمد زو د حکومت بنیاد ایښونکی دی. بیا تر ١٩٦٣ پورې چې ډاکټر محمد یوسف صدراعظم کېږي (١٨٢٦ تر ١٩٦٣).

د همهغه ابتدا څخه د محمد زو کورنۍ د اداري او مملکتداري د اصولو چم نه زده کړ او نه یې زده وو. تر پایه پورې د ملت په مقابل کښې جبار و قهار وو د ظلم کولو لارې یې تر تدبیر خوښې سوې وې ځکه دې لارو ته د عقل او هوښیارۍ ضرورت نه ؤ. دې مسلسلې بېعقلۍ نه یواځې محمد زو ته آرام او عزت نه کړ ورپه برخه، بلکې ټول ملت او وطن یې تقریباً یو نیم قرن د بدبختیو سره مخامخ وساته.

د معاصر افغانستان د ملي مبارزې تاریخ ګومان کوم چې پر دوه مخه سرې کتلې سي، د مبارزې یو اړخ هغه دی چې افغانستان د ملي استقلال د ساتلو له پاره د خارجي اقوامو سره کړې ده او کوي یې. ددې ډول مبارزې افتخار د افغانستان ټول اولس ته ورپه برخه دی او ټل یې په دې مبارزه کښې نر، ښځې، کوچنې او سپین ږیرو برخه درلودلې وه او د قوم، قبیلې، سیمې او مذهب تر توپیر پرته ټولو یکښې حصه اخیستې ده او اخلي یې. خو یو باریک مګر ډېر غټ توپیر د افغانستان په مبارزو کښې ښکاره کېږي او هغه دا چې:

اولسي مبارزې تل د هېواد د ازادۍ په خاطر سوې دي او کېږي خو د حاکمانو په نیتو کښې د اولسي ازادیو ځخه مراد د دوی خپل حاکمیت او حکومت بر قراره ساتل دی. دا توپیر د محمدزي سردارانو د حکومتو په دوران کښې له ورایه ښکاره دی. ځکه نو دوی ډېرې داسې معاهدې چې هغه د اولس په تاوان او د وخت د حکومت د برحاله پاته کېدو په خاطر وې له انګرېزانو، روسانو او ایران سره لا د هلمند د اوبو معاهدې کولې. د وطن د استقلال د ساتلو او ګټلو دا مبارزه چې ذکر سوه ټول اولس په ګډه حاصلوله او ساتله یې. خو د "فکري استقلال" مبارزې او د هغه حاصلولو یواځې د هېواد روښنفکره پوړ ته کتل. ددې حق لاس ته راوړل داسې نه وو لکه د "وطن استقلال" چې حاصلېده. هغه داسې چې د "وطن استقلال" د خارجي دښمن ځخه ګټل کېده خو د "فکر استقلال" د کور د غله ځخه اخیستل کېده او بل توپیر یې دا دی چې د وطن د استقلال په حاصلولو کښې د وطن اکثریت په مبارزه لګیاوي. خو د فکري استقلال له پاره د روښنفکرانو ډېر لږ اقلیت مبارزه کوي او هغه هم د خپلو خلکو په مقابل کښې. اصلا د فکر د استقلال مبارزه د جهل او علم مبارزه ده.

دا خبره جوته ده تر څو چې فکري ازادي د اجتماعي قوانینو سره سمه نه وي راغلې، د وطن استقلال او سیاسي ازادي څه



مفهوم نه لري. یا په بله توګه د سیاسي آزادۍ حاصلول ځکه دباغیرتو قومونو د ژوند مقصد وي چې ټولنه بیا د فکري آزادۍ په صورت کښې انساني عالي مدارج طی کوي او په بشري ټولنه کښې هغه قوم سرخ رویه او کامران وي او ک، پر عکس سیاسي آزادي د یوه ټولي واکدارانو انحصار وګرځي نو به هېواد تر مطلق استبداد لاندې وي، فکري آزادي به نه وي اولس به د جامدو قوانینو لاندې د څو تنو له پاره ژوندی وي، دا څو تنه که واحد حزب وي او که یو خاندان پر اولس باندې یې چندان فرق نسته. په دواړو ډولو کښې رژیم استبدادي بلل کېږي.

د همدغو اساساتو پر بنا د افغانستان منورینو کوښښ پیل کړ چې هېواد ته یو مشروطه نظام راولي خو خود غرضه حاکمانو هر وخت په افغانستان کښې ددې مفکورې مخالفت کړی دی او د هغه فجایعو مرتکب سوي دي چې په لیکلو یې قلم سوځي.

د افغانستان د آزادۍ له پاره قربانۍ ورکول که څه هم د ډېر پخوا ځخه را شروع وو خو موږ فقط دا وروستي ۲۲ کاله د ویښ ځلمو تر وخته (۱۹۵۱ع ۱۳۳۰ هـ ش) پورې وړاندې کوو، چې ددې وخت واکدارانو د ملت سره څه کړي دي او ملت څومره قربانۍ او کومې قربانۍ ورکړې دي چې دلته د یوې تاریخي وثیقې په ډول پاته سي او د دغو خلکو نومونه د آزادۍ د لارې پتنګانو ته د شمع هدایت حیثیت ولري.

هغه خلک چې قربانۍ یې ورکړې دي او څه ډول قرباني یې ورکړې دي په دې ډول دي:

شېر محمد بندي د نثار احمد بندیوان په ذریعه چې د موتي د سرای بندیوان و مړ کړ سو او دده ځوانه لور یې په زور وغوښتله.

علامه میر قاسم د آزادۍ د لارې مجاهد اوږد بند تېر کړ او نور دغسې عبدالحکیم رستاقي په پټه ووژل سو. دغه رنګه:

خواجه هدایت الله خان چې د هزاره جاتو رئیس تنظیمه وُ په شهادت ورسېد، د جنوبي د خوا حاکم امرالدین خان مړ کړ سو. دغه رنګه:

جرنیل پینه بیګ خان، فیض محمد خان د سپینو باروتو متخصص، تاج محمد خان یغماني، عبدالرحمن خان لودین، دخنګلاتو رئیس فقیر احمد خان، د انقرې سفیر څرخي غلام جېلاني خان، د ماسکو سفیر غلام نبي خان، غلام رباني د غلام جېلاني سفیر زوی، شېرمحمد خان نائب سالار، علي اکبر خان طرزي کنډک مشر، میر مسجدي خان، میرزا احمد مهدي خان، د برق رئیس اعظم، خواجه بشیر خان د منشي نظیر زوی، دوران خان، محمد یوسف خان کندهاری، د کابل د لاهوری دروازې میرزا محمد خان، ۱۲ کلن هلک فرمان خان، د نجات (اماني) مکتب معاون غلام جان، تلګرافي عبدالفتاح خان، د ښوېدن محصل محمد کریم خان، د معارف د وزارت مامور شیر محمد خان، ابراهیم قاري زاده، د جرمني سفیر امین جان د شجاع الدوله ورور عزیز، محمد عزیز خان، د انیس د اخبار مدیر غلام محی الدین خان، محمد اکبر خان ترجمان، د جرمني د سفیر امین خان ورور چې نوم یې معلوم نه دی، موسیو دین محمد خان، اسماعیل خان د ناظرمظفر خان زوی، د کابل قوماندان خانباز خان، محمد ولي خان، وکیل پادشاه، دغه رنګه د ګذرګاه سید غلام حیدر پادشاه په شاهي ارګکښې مسموم سو.

علاوه پر پورته شهیدانو دا لاندې کسان بې له کومې محاکمې او پوښتنې په ۱۵-۱۵ کالو بند محکوم سوي دي:

عبدالهادي داوي، میرزا عبیدالله کندهاری، یوسف حقیقي، د کندهار وکیل عبدالعزیز خان، میرغلام محمد غبار، میرعبدالرشید، انورخان بسمل، ابراهیم صفا، غلام دستګیر قلعه بیګي، کنډک مشر حبیب کندهاری، جناب رحماني، رضا ترجمان، شېر مست



کندهاری، میرمحمد شاه خان، محمد نعیم تلګرافي، سید ظهور الدین، امین هراتی، سرور جویا، رحمت الله تند نویس، کبیر منشي نظر، قاضي محمود سنجري، قاضي اسلم سنجري، محمود یاور، د فواید عامې وزیر عبدالرحیم خان صافی، خلیل الله صافی، محمد عمر تاتا، محمد امین غونډ مشر. دغه رنګه په سوونو نور کسان چې بې ګناه او بې محاکمې بندیان سوي دي. دا خلک کله چې به ژوندي د بندیخانو څخه راووتل په اجباري توګه به د هېواد داسې سیمو ته فرار کړل سول چې د هغه ځای آب و هوا به نامساعده وه او پاتې ژوند به یې هلته په خپله له لاسه ورکړ.

دغه رنګه په ۱۹۴۹ع کښې یارو خان سلیمانخېل، قربان هزاره او حیدر هزاره د حکومت له خوا مسموم سول او ووژل سول، دغه رنګه شېر محمد خان د دفاع د وزارت یاور بې له محاکمې بندي او کور او ځای یې ضبط او چور سو.

په ۱۹۵۰ کښې د نوروز د دسیسې په نامه عالیقدر جناب سید اسمعیل "بلخي"، خواجه نعیم، د ګوسوار هزاره زامن، د سرخ پارسا وکیل سید اسمعیل او په لسو نور خلک ورسره بندي سول خو بې له کومې محاکمې او محاسبې. د پورته مظلومانو لست[1] د اروانباد حبیبي صاحب څخه اقتباس دی خو دلته مې ځکه څه په تفصیل د نوموړو مبارزینو نومونه راوړل، چې یو خو د دوی مبارک نومونه د حافظې څخه ونوزی او بل هغه شرایط خلک تخمین کړي په کومو کښې چې د ویښ ځلمیانو با شهامته تحریک را پاڅېدلی دی او وده یې کړې ده.

د استبداد دا داستان خو مو ولیده او دا هم درمعلومه سوه چې د هېواد په ختیځه خوا کښې د پاکستان جمهوري اسلامي حکومت په وجود راغی او د پښتانه قام تقریباً سم نیمی تېر هم ددغه اسلامي جمهوریت تر سیوري لاندې سو. هغه تېر چې د محمدزو کورنی

---

۱ - جریدهٔ جمهور اسلام، پېښور یکم ستمبر ۱۹۵۱، حبیبي صاحب"

ورباندې سرداري کټلې وه او هم يې سرداري ورباندې کوله د پاکستان د اسلامي جمهوريت د نوم په اوږدو پر سردارانو سياسي تبه راغله، د ويني فشار يې زيات سو، د ډموکراټيکې پرتې يې شروع کړې، د پښتونستان ناره ځنې وسوه، د ډيورنډ لاين يې ملغی اعلان کړ، وطنوالو ته يې د ډموکراسۍ وعده ورکړه، بېله دې چې د خپلې سياسي، اجتماعي، اقتصادي، تاريخي او جغرافيايي اوضاع تحليل وکړي.

د پښتونستان په ناره خو د پاکستان سره د مخالفت اعلان وسو، روس او هندوستان خو يې پرې خوشاله کړل، مګر ددې نارې په وجه افغانستان ته څه په لاس ورغله؟ افغانستان چې ټول په وچه کښې راګېر دی بحري بندرونه نه لري او اوږد سرحد يې د پاکستان سره دی، د پښتونستان په ناره خپل اقتصادي دريځ ته څنګه سمون ورکولای سوای؟

د افغانستان اجتماعي دريځ په تېره بيا د محمدزو د کورنۍ واکداري د هېواد پر لمن تور ټکی دی. هر پاچا د خپل ځان د ساتلو له پاره د وطن ځمکې، سرحدونه، اوبه سودا کړي دی او د دښمنانو سره با قاعده معاهدې سوې دي. روسانو او انګرېزانو لوی افغانستان پنځه خپلو کښې سره شلاونډ (تقسيم) کړ، خو محمدزو سردارانو خپلې تربور ګلوۍ سره کولې، د روسيانو او انګرېزانو په مقابل کښې وطن دوستي نه وه. اوس چې پاکستان جوړ سو، دوی ته لوی افغانستان ورپه ياد سو او د پښتونستان ناره يې وکړه.

پر دې موضوع به بحث نه کوو، چې د تاريخ په سير کښې ملي حقوق د افغانستان خلکو ته سردارانو ډېر ورکړي دي او که په اوسني پاکستان کښې پښتني اولس په پاکستاني جمهوريت کښې ډېر حاصل کړی دی؟

کله چې د افغاسنتان خودسره حکومت د پښتونستان ږغ کاوه، نو بې دا فکر کړی وای چې:



آيا ممکنه ده چې دا قوم دې د ۱۵۰ کالو دا تور تاريخ هېر کړي او بيا دې لاس په لاس کښې ورکړي؟

آيا د افغانستا اقتصادي سمون د پاکستان بې رضا ممکنه دی؟ د افغانستان واکدارانو اوضاع نه وه تحليل کړې، په پټو سترګو يې اذان وکړ. دا وُد واقعاتو عيني تحليل چې افغان اولس پرې پوه وو.

مګر ددې ټولو خبرو باوجود، ددې معنی دا نه ده چې د پښتونستان موضوع د پښتنو موضوع نه ده، يا اولسي موضوع نه ده.

د پښتونستان موضوع که د افغانستان د حکومت له نقطه نظره وځېړل سي دا يو محض فرېب وُ، خپل اولس ته او هم روس او هندوستان ته هغه په دې معنی:

اصل واقعيت داسې دی چې د پښتونستان موضوع ويښو ځلمو او د اولس نورو روشنفکرانو په ښه توګه تحليل کړې وه، دا ورته معلومه وه چې د وخت د حکومت په وس نه پوره وه او نه ده چې داسې پښتونستان دې جوړ کړي چې هغه په افغانستان کښې ګډ وي او په دې حقيقت هم ويښ ځلميان پوه وو چې افغان حکومت د پښتونستان موضوع د آزاد پښتونستان له پاره نه ده ښه ګوته کړې بلکه په دې ناره يې يو غشی درې نښانه ويشتلي دي يو خو د روسيې او هندوستان اعتماد حاصلول وو، دوهم بځپله پاکستان ته پای پچک پيدا کول وو چې د پښتنو سره يې تنازع تيدا سي او دريم هدف يې دا وُ چې په افغانستان کښې دننه د ملي تحريکو مخه پرې راوګرځوي.

نو ځرنګه چې حکومت په دې هکله مخلص نه وُ او دا خبره له ورايه ښکاره وه نو د ځلميانو په برنامه کښې هم پښتونستان د يوې سياسي حربې په توګه شامل وُ. چې حکومت ته داسې کومه بهانه په لاس ورنه سي، چې د هغه په وجه ډموکراسي او مشروطيت تر شا سي.

دا ؤ هغه سیاسي سترنج چې د پښتونستان پر نامه د ویښو ځلمو او حکومت تر منځ روان ؤ.

خو دا چې پښتونستان د پښتنو موضوع ده او ویښ ځلمیان دې موضوع ته په ډېر اهمیت قایل وو، د ځلمو خیال ؤ چې پښتونستان د لرو برو پښتنو د حقوقو تر ټولو لوی سوال دی، چې باید د پاکستان سره په سیاسي توګه حل سي. نه باید په دې مسئله کښې ناپاکې خولې لکه د افغانستان د حکومت شاملې وي.

ددې مسئلې نور تفصیل به په راتلونکي کښې د ویښو ځلمو د نکته نظره ولولئ.

دا وه هغه شاوخوا چې د ځلمیانو تحریک پکښې راپورته سو.



[۲]

# اوضاع

## الف- ارتجاع:

زموږ په سیمو یعنی "افغانستان، پاکستان او ایران کښې قدامت پرستي داسې ریښې ځغلولې دي، چې هېڅ یو سیاسي تحریک چې هغه مترقي بڼه ولري وده نه سي کولای د ارتجاع ددې خصلت څخه حکومتونو همېشه استفاده کړې ده. دوی له یوه طرفه خپل ارتجاعي خوی وقایه کوي او له بل طرفه څرنګه چې پر ملي بودجه یې قبضه ده، د ډېرو روپو په مصارفو د عوامو ارتجاعي عقیده ورتقویه او وقایه کوي.

حکومتونه تل کوښښ کوي، چې زاړه خیالات او سیاست سره ګډ وساتي چې ددې ګډ سیاست څخه خپلو شومو اغراضو ته ځان ورسوي او مادي او معنوي استثمار د ملت د توان څخه لاس ته

راوړي، ځو چې د بین المللي ارتجاع په ګټه او د هېواد په ضرر مسئله پای ته ورسېږي. ملتونه نه سي کولای چې په ډاګه د حکومت له دې بدمرغۍ سره مقابله وکړي ځکه چې حکومت د یوه طرفه پر ارتجاعي قوتو قبضه لري او د بل طرفه یې ملي توان (ملي پانګه) په لاس کښې وي. نوې راپورته سوې ملي سیاسي ډلې که د آزاد قضاوت درلودونکي وي نو په ډېره آسانۍ یې په خپله ارتجاعي چپلاخه تهدید کړي او که داسې وو چې دا نوې راپورته سوې حزبي ډله د حکومت ارزو او ارمان ؤ، نو طبعاً حکومت پرې تقویه کېږي او پر عکس د ملت او اولس د تباهۍ او بربادۍ سبب وي.

حکومت نوازه ډله او هم پخپله حکومت نه پرېږدي چې اولس د آزاد قضاوت او ساینتیفیک طرز تفکر خاوند سي په دې صورت کښې د ملت انفرادي انرژي ضایع سي. ددې پر ځای چې خلک د مخ خوا ته وګوري او مخ په وړاندې ولاړ سي د شاخوا ته ګوري او کوښښ کوي چې د شاپر لور حرکت وکړي، ځرنګه چې دا غیر طبیعي رجحان دی، نو حکومتونه دا غیر طبیعي کار د خورا ډېرو مصارفو په بدل کښې سرته رسوي. د ملي بودجې خورا لویه برخه د اولس د اغفال او بیده کېدو له پاره په مصرف رسېږي، چې په دې توګه د اولس د نشې زمانه وراوږده کړي.

د ویښو ځلمو تحریک هم ددغه ډول حکومت او هم په دغه ډول زمانه کښې سر راپورته کړ، په حقیقت کښې د ویښو ځلمو پاځون (تحریک) یو اولسي تحریک ؤ، چې د ډموکراتیکو آزادیو د لاس ته راوړلو په خاطر د هېواد روشنفکرو ځلمو رامنځ ته کړ، په دې روشنفکرانو کښې مذهبي مبلغین، سوشلستان، نیشنلستان او د ټولنې د هر ډول خلکو څخه شامل وو. د دوی ټولو واحد هدف دا ؤ چې ملت ته ډموکراتیکې آزادۍ لکه د قلم آزادي، د بیان آزادي، د احزابو آزادي او داسې نور ور حاصلې کړي. خو ځرنګه چې د



ارتجاعي حکومتو خاصه ده تل د ملي آزادیو په مقابل کښې مذهبي عقاید راپاروي او د کفر په سوټي یې له منځه باسي.

دې ټکي ته ویښ ځلمیان د مخه لاخیر وو او همېشه یې کوښښ کاوه چې حکومت ته داسې وسله په لاس ور نه کړي چې د خلکو عقاید د دوی پر ضد راوپاروي ځکه د یوه طرفه ټولنې اجتماع ارتجاعي خوی درلود، د بل طرفه پخپله د ویښ ځلمو اکثریت هم د سوچه مسلمانانو ؤ، البته سوچه نیشنلستان او سوشلستان هم پکښې ګډ وو. د اجتماع د عیني شرایطو په تحلیل سره سوشلستانو او ملي خلکو هم دا ښه بللې وه چې مذهبي رنګ باید پر جمعیت پروت وي او مذهبي علما باید خوشاله وي. لکه چې د خپل لومړني مرام په دویمه ماده کښې یې په واضح ډول راوړې دی، چې "د علما او مشایخو ولوکه د هر قوم او هرې طبقې وي احترام به کوي" ویښو ځلمو همېشه د مذهبي علماؤ سره مرستې کولې او هر ډول ممکنه قدرداني به یې د دوی پرځای کوله. خو متأسفانه چې ددې علماؤ خوی هم د قبایلي خانانو ؤ، هر چا چې به ډېر قدرت درلود او ډېر څه بې ورکولای سوای. دا سپین لنګوټي خانان د هغو وو، ځرنګه چې د حکومت واک او توان تر مور ډېر ؤ، نو جاه طلبه تش په نامه علما هغې خوا ته ورړغښتل او حکومت به زموږ پر ضد استعمالول د هغو د نومو د اخیستلو څخه ارادتاً ډډه کوم خو سره له دې په لومړیو دوو کلو کښې ویښ ځلمیانو خورا وده وکړ، چې ددې خبرې تصدیق "افغان ملت" اخبار داسې کوي:

"ناڅاپه د آتش فشان په توګه د ویښ ځلمو تحریک راپورته سو، خو دستي یې په مقابل کښې موانع او خنډونه پیدا سول، ملایان شیخان، د دولت شورا، د کابینې ګروپونه، د پولیس او ژاندارم قوه ورته په مخکښې ودرېده. ځوک پکښې بندیان سول او ځوک بیا پکښې ورټل سول."[1]

---

۱ - د "افغان ملت" اخبار ګڼه ۱۳۴۵-۳-۳۱.

دلته دا خبره د یادونې وړ ده، چې مذهب په خپل ځان کښې د وخت سره سم په ټولنیزه اصلاح کښې ستر رول درلودلای سي او هر چېرې د بشري علاج له پاره د هدایت ډېوه کېدای سي په تېره بیا ابتدایي انسانانو ته. خو په ډېر تأسف باید ووېل سي، چې په افغانستان، پاکستان او ایران کښې د ملت د آزادۍ پر ضد کار ځنې اخیستل سوی دی. حکومتونه خپل ځانګړی مصالح د مذهبي تبلیغاتو په پرده کښې سرته رسوي او بدمرغه علمانما د حکومت د خوشامد په خاطر دا نه تلافي کېدونکې ګناه کوي، چې طبعاً د اولس پر روشنفکره ځوانانو ددې ډول روش او پالیسۍ اثر د بغاوت او فرار په توګه ښکاره کېږي. ځوانان د عقایدو او د عقایدو د ټېکدارانو محاسبه غواړي خو حکومتونه دا ډول خلک زندانونو ته ورغورځوي. او د افکارو دا خلیج ورځ په ورځ د روشنفکرانو او د مرتجع حاکمانو او ملایانو تر منځ ډېرېږي.

## ب - پښتونستان:

د پښتونستان موضوع هم د ویښو ځلمیانو له پاره څه معمولي پیچیده موضوع نه وه. له یوه پلوه دا موضوع د لروبرو پښتنو بنیادي حق ؤ چې د دواړو خواوو پښتني سیاسي احزابو دا موضوع را منځ ته کړې وه، خو له بله طرفه د افغانستان حکومت دې مسئلې ته صادق نه ؤ او پښتونستان یې د یوې سیاسي متاع په ډول په شرقي نړۍ خرڅاوه. ویښ ځلمیان په دې پوه وو که د پښتونستان پر مسئله باندې زور واچوي ددې مسئلې ارزښت اضافه کېږي او افغاني حکومت یې بیا په ګرانه بیه خرڅوي او که اوره ځنې کاږي نو بې یوه ملي فریضه تر شا کړې وي، په دې وخت کښې ویښ ځلمیان د پاڼ او پراګ تر منځ وو.

له بله پلوه دا هم ویښو ځلمو ته ډېره ګرانه تمامېده چې د حکومت سره مخالفت وکړي او دوی ته کومه پلمه په لاس ورکړي.



خو له بله طرفه د پښتونستان موضوع هم څه معمولي موضوع نه وه چې پرېښودل سي. ځلمیان په دې پوهېدل که دا کار افغاني حکومت په لاس کښې واخلي نو یقیناً د ټولو پښتنو به ډېر لوی سپکاوی وسي. حکومت موږ ته معلوم ؤ چې هېڅکله یې ملي مسایل د ملت د بهبود په خاطر نه دی حل کړی او همېشه یې کوښښ کړی چې حکومتي مصالح په نظر کښې وساتي ځرنګه چې ملي مصالح او حکومتي مصالح په افغانستان کښې تفاوت سره لري، نو نه سي کېدای چې د افغانستان حکومت دې د پښتونستان موضوع د پښتني اولس په خیر پای ته ورسوي. له بل طرفه ځرنګه چې حکومت د افغان اولس نماینده نه ؤ او دا خبره ټول جهان ته تر لمر وتلې سپینه وه، نو ځکه د افغاني حکومت مطالب هم، په نړیواله تله کښې کم وزنه وو. موږ نه غوښتل چې د حکومت په دې خوله دې د پښتونستان رنګه مقدسه آرزو چې د لرو بر د ټولو پښتنو نمایندګي ولري په نړیواله تله کښې وتلل سي.

په دې وخت کښې د افغانستان حکومت اریان ؤ، هغه په دې معنی چې نه خارجي ممالک د افغانستان د پښتونستان رغ ته په کوم ارزښت قایل سول او نه د پاکستان حکومت په دې ناره لکه ځوني چې د افغان حکومت خیال ومرعوب سو او نه په دې ناره د افغانستان په داخل کښې سیاسي نهضتو عقب نشیني وکړه. البته د هېواد په داخلي تحریکو کښې دا یو تفاوت راغی چې پخوا به ارتجاعي حکومتونو ملي آزادي غوښتونکي د کفر په نامه د مذهب په سوټي زندان ته استول اوس یو بل سوټی د پاکستانیت هم ورسره پیدا سو چې ملي آزادي خواهان پرې خپه کړي او د زندان تورو کوټو ته یې وروغورځوي. د افغانستان د روشنفکرانو ښتونه د لومړي ډول سوټي سره د ډېر پخوا څخه اموخته وو خو دا دوهم ډول سوټي ته یې څټ نه و جوړ یا په بله توګه د ملي روشنفکرانو

غوړونه په دې اموخته وو چې کافر ورته وویل سي، خو په دې هیڅ نه وو اموخته چې څوک یې دې "ملي خاین یا غدار" وبولي.

ویښ ځلمیان په دې وخت کښې په ډېر سخت مشکل اخته وو، له یوه پلوه حکومت د خپلو هر اړخیزو ناکامیو په وجه هرې خوا ته خوله اچوله او له بل طرفه پښتونستان چې د پښتنو ناموس و مخ پر ناکامۍ روان سو. په داسې حالاتو کښې ویښ ځلمیانو یوه غونډه د "هادي" صاحب په کور کښې وکړه، چې د حزب کندهاري مشران تقریباً ټول حاضر وو، پر حالاتو باندې غور وسو او د پښتونستان موضوع وڅېړل سوه، وروسته تر هغه چې د موضوع هر اړخیزه څېړنه وسوه نو داسې فیصله وسوه چې باید په دې موضوع کښې د بلوچستان له انجمن وطن او خان صاحب عبدالصمد خان سره مذاکره وسي، ځکه دا مسئله یوه ملي مسئله ده نه حکومتي. د بله پلوه دا مسئله د پاکستان د پښتنو سره په نېغ ډول اړه لري. ویښ ځلمیان باید داسې یو قدم پورته نه کړي چې هغه د آخوا د پښتنو د تګلارې سره توپیر ولري، بلکه موږ ویښ ځلمیان باید د صوبه سرحد او بلوچستان د آزادي غوښتونکو پښتنو سره ګام پر ګام سم ولاړ سو.

ویښ ځلمیانو ددې تفاهم او یکرنګۍ راوستلو له پاره زه وټاکلم، چې د خان صاحب عبدالصمد خان سره وګورم او پر دې مسئله ورسره وړغېږم. د ویښ ځلمیانو نظر او طرز تلقي دوی ته وراندې کړم او ددوی نظر ویښ ځلمیانو ته راورسوم.

دغه رنګه د موضوع په ارتباط دوه تنه محمد رسول خان پښتون او مدیر صاحب غلام جیلاني خان وټاکل سوه چې د کابل د حزبي ملګرو سره مسأله مطرح کړي. موږ درې سره د خپلو- خپلو دندو د سر ته رسولو له پاره روان سوو.

کله چې ما خان صاحب په خپل پلرني کور عنایت الله کارېز کښې ولیده او موضوع مې ورسره مطرح کړه. دوی وفرمایل:



موږ د افغانستان محمدزي سرداران ډېر ښه پېژندلي دي په تېره بیا له هغه وخته څخه چې موږ یې انګرېزانو ته ورپرېښودلو او پخپله په ارګ کښې کرار کښیناستل.

د پښتونستان د موضوع په باره کښې موږ هم دا حس کړې ده چې دافغانستان د حکومت حمایت زموږ مسئله بلې خوا ته کشوي، تر ګټه یې تاوان ډېر دی. د پاکستان حکومت او د پاکستان غیر پښتني آبادۍ ته بې موجبه شکوک او شبهات ورپیدا کوي چې په دې صورت کښې زموږ سیاسي مشکل نه یواځې حاصلېدای نه سي. بلکه موږ نور هم په مشکلاتو اخته کوي.

موږ هغه رنګه پښتونستان چې افغان حکومت یې اعلانوي- (آزاد پښتونستان یا په افغانستان ګډ) نه غوښتی دی او نه یې غواړو. موږ د پښتونستان د صوبې نوم غواړو چې په دې صوبه کښې به د بلوچستان پښتانه او د صوبه سرحد پښتانه سره یو ځای وي، البته په خپلو سیاسي حدودو او حقوقو کښې دننه دننه.

د دغه ډول پښتونستان د غوښتلو له پاره موږ ته د بل کوم حکومت د مرستې اړتیا نشته. دا چې افغان حکومت د ریډیو او اخبارو په ذریعه څه وایي د هغه مسوولیت خو موږ نه اخیستی سو او نه یې قبلولای سو. خان صاحب وفرمایل چې: دا موضوع ما د افغان قونسلګرۍ و یوه مامور ته هم په واضحو الفاظو وکړه او ځنې ومې غوښتل چې د خپل حکومت رسمي مقاماتو ته دا خبره ورسوي.

پاته سوه د پښتونستان د صوبې مطالبه، دا پخپله د پاکستاني پښتنو کار دی بلکه زموږ او د پاکستان کار دی. که د پاکستان پښتنو سیاسي شعور بېداره او ویښ و نو هیڅ ځواک او طاقت نسته چې د پښتنو دا حق دې ځنې وخوري. که د پښتنو د رای یووالی د پښتونستان د صوبې د جوړېدو په هکله راغی نو به پښتانه د ریفرانډوم غوښتونکي سي او حکومت د اکثریت په مقابل کښې مجبور دی چې دا شرط ومني او که پښتانه پخپله د موضوع

واهمیت ته رسېدلي نه وو، نو دا نقص په خپله په موږ کښې دی.
آزادي داسې نعمت نه دی چې بل څوک یې وروګټي او ور یې کړي. بلکه دا نعمت په خپلو خولو او که ضرورت ؤ په خپلو وینو ګټل کېږي او هم دغه د آزادۍ نهال د وینو په اوبو پالل کېږي.
دوی اضافه کړه: تر څه اندازې پورې چې له ما سره اړه لري، زه به د خپل ژوند تر آخري سلګۍ پورې د پښتونستان سرتېري یم.
دوی په پای کښې ویښو ځلمو ته سلام راکئ او ویې ویل:
که دلته موږ په پاکستان کښې د حکومت تر فشار لاندې یو او خپل حق ته نه سو رسېدلای، تاسو هم د افغانستان د حکومت تر تهدید او فشار لاندې یاست. له موږ سره که زیاتي او ناندری کېږي خو غیر پښتني خلک یې کوي، چې د هغه په مقابل کښې موږ پښتانه خپله صف بندي په آسانۍ سره کولای سو، خو تاسو د هغه ناروا کړو په مقابل کښې چې درسره کېږي ځکه صف بندي نه سئ کولای، چې د خپلو له لاسه څخه دي، محمدزي سردارانو تل د خپلوانو په وینو سرداري کړې ده. خان صاحب وفرمایل چې ویښ ځلمیان له موږ سره دونې کومک نه سي کولای څونې چې موږ د دوی سره کولای سو خو دا یو شی البته زموږ او ستاسې مشترک دی او هغه دا چې د ظالم په چپلاخه تاسې او موږ دواړه وهل سوي یو موږ او تاسې ته په کار دی چې پر له پسې او مسلسل په مسایلو کښې مشوره سره ولرو، حقایق د دواړو خواو څخه باید افشا او رسوا کړل سي، حکومتي تبلیغات ګمراه کوونکي دی، که ددې خوا دی او که د آخوا. په پای کښې د خپل مجلس دا یوه خبره دوی په تاکید او په خورا ټینګ عزم وکړه، چې ویښ ځلمیانو ته ووایه چې د پښتونستان موضوع د پښتنو ده دلته تر اوسه لا شکر پښتانه سته او دا مسئله به ترسره سي او که چېرې له بده مرغه پښتنو ملګري ونه کړه نو چې یواځې زه جوړوم لا به هم داکار کېږي.



په دې توګه زما او د خان صاحب مجلس پای ته ورسید او ما د پورتني مجلس راپور (رپوټ) د ویښ ځلمیانو مرکزي کمیټې ته وړاندې کړ. ویښ ځلمیانو د همدغه روحیې له مخې ما ته هدایت وکړ چې د خان صاحب محمد ایوب خان سره د مرستې په توګه په کار کښې شریک سم، له خان محمد ایوب خان سره ما درې څلور میاشتې کار وکړ. څو هغه وو چې د افغانستان حکومت موږ بندیان کړو او دا کار سره وشلېده.

## ج- ویښو ځلمیانو پښتونستان ولې تائیداوه؟:

غواړم پر دې موضوع څه ووایم، په نړۍ کښې هر قوم د بین المللي قوانینو سره سم دا حق لري چې د خپلې خوښې سره سم د خود ارادیت حق ولري خو دا حقیقت څه پټ نه دی چې په دا شلم قرن کښې د پښتنو سره دوې خورا لویې نادودې سوې دي:
یوه دا چې انګرېزانو، پښتون قوم پر دوو برخو ووېشه او د ډیورند کرښه یې تر منځ ور تېره کړه.
بل دا چې پاکستان جوړېده، د پښتنو د خود ارادیت حق ته انګرېزانو اهمیت ورنه کړ او د پاکستاني پښتنو د مذهبي احساساتو پر بناء یې پښتانه د قومي آزادۍ د حق څخه محروم کړل او ریفرنډوم یې د هندو او مسلمان پر نامه وکړ.
په دې وخت کښې د سرخپوشانو او خدایي خدمتګارانو غوښتنه دا وه: چې باید درې شعاره یعنې "ګډ هندوستان، که پاکستان او که پښتونستان" وټاکل سي. خو د سرخپوشو (چې په دې وخت کښې د پښتنو واحد لوی حزب ؤ) خبرې ته چا اهمیت ورنه کړ.
د خان ولي خان په قول دا ریفرانډوم په دې ډول ؤ:
چې مسلم لیګ په ریفرانډوم کښې یواځې ددې له پاره دلچسپي درلوده، چې د ډاکټر خان صاحب وزارت په صوبه سرحد کښې مات کړي.

خدايي خدمتګارانو په صوبه سرحد کښې ځکه د ريفرانډوم کولو سره مقاطعه او مخالفت وکړ چې ددې ريفرانډوم څخه د پاکستان جوړېدل يقيني وو. هغه خو هغسې هم جوړېده که دوی رښتيا واقعي ريفرانډوم غوښتلای نو د هندوستان او پاکستان د ناړې تر څنګ يې يوه دريمه ناره هم بايد ځای کړې وای چې هغه د پښتون او د آزاد پښتون رياست دی.

ولي خان ليکي چې دا مطالبه نه سوه منظوره، کله چې ريفرانډوم وسو، نو يې نتايج داسې وو:

ټول ووټونه: ۵۷۲۷۹۹

خومره ووټونه چې ولوېده- ۲.۹۲۱۱۸

د پاکستان په حق کښې ووټونه- ۲۸۹۲۴۴

د هندوستان په حق کښې ووټونه- ۲۸۷۴

ولي خان وايي: د سرحد د با قاعده اضلاعو د ۳.۵ لکه نفوسو څخه يواځې ۲٦ لکه خلک د ووټ (رای) ورکولو اهل وو او که په دغه کښې ټولې علاقې، ٦ ايجنسی او سرحدي رياستونو (چې هغو په ريفرانډوم کښې ووټ نه وُ اچولی) آبادي چې هم ۳۵ لکه کېږي جمع سي نو به ټوله ۷۰ لکوته ورسېږي چې په دغو کښې صرف ۳لکو لا ووټ نه دی اچولای چې ددې څخه د ريفرانډوم حال ښه معلومېدای سي.[1]

د پښتانه په تاريخ کښې دا دوې نادودې چې پورته ذکر سوې نه هېرېدونکې نادودې دي، د انګرېزانو چې څه په وس وو هغه دښمني يې د پښتانه قوم سره وکړه، د پښتون قوم اقتدار اعلی پر دوو برخو ووېشل سو، يوه خوا پښتانه د افغاني "يو يونټ طرز حکومت" له لاسه يعنی د "مرکزي طرز حکومت" له لاسه تر کابل قربان سول، خو پاکستاني پښتانه د خپلو پاکو او سپېڅلو مذهبي احساساتو په هغه ورېښمينه زندی چې دوی ورته ريفرانډوم وايي

---

۱ - کتاب د خان ولي خان، "اوز بيان اپنا" صفحه ۱۲۲، د پاکستان چاپ.



بنديان سول. پښتانه په افغانستان کښې سردارانو استخدام کړي وو ځکه چې دوی پښتانه وو خو په پاکستان کښې پښتانه ځکه استخدام دي چې دوی مسلمانان دي، يو حکومت يې د پښتني احساس څخه استفاده کوي او بل يې د مسلمانی د جذبې څخه خو پښتون قوم په دواړو خواوو کښې خپله محرومي ويني، که په افغانستان کښې پښتانه د اصلاحاتو غوښتنه وکړي، حکومت يې په ډېره بېدردی د ملي خيانت په جرم د ځمکې له مخې څخه محوه کوي او که په پاکستان کښې پښتانه د ځان د تشخص له پاره د پاکستان د نورو صوبو په شان ځان ته ټاکلی نوم پښتونخوا وغواړي، نو دستي حکومتي ماشين په کار پيل کوي او د کفر ټاپه وربانديې لګوي.

پښتانه په دواړو حکومتو کښې حق لري چې ځانونه سنبال کړي. ځکه دوی دری نيم- څلور زره کاله پر دې سيمه زېږېدلي او ښخ کړه سوي دي. هغه وخت چې د افغانستان نوم نه و، پاکستان نه و، اسلام نه و، خو پښتنواله او پښتانه وو. څرنګه چې پښتانه ځان ته ډېر اوږد تاريخ لري او ځان ته بېل کلتور او سيمه لري، نو نه ښايي نور قومونه په افغانستان او پاکستان کښې دا فکر وکړي چې پښتانه به په ځانو کښې مدغم او هضم کړي.

د پښتنو دې حق ته قائد اعظم محمد علي جناح هم قايل و:

قايد اعظم د کراچی په ډان اخبار "۳۱ جولای ۱۹۴۷" کښې راوړي دي، چې: "پښتانه د ډموکراټيک حکومت د تشکيل او د دوی د حقوقو د پېژندلو حق لري"

سره له دې ټولو خبرو په ډېر تاسف بايد وويل سي، چې په افغانستان کښې تر يو څو خانانو او ملکانو پرته ټول پښتني اولس تر ډېر سخت ظلم لاندې ژوند تېر کړی دی او هم دغه وجه ده چې پر دې سيمه د تاريخ په اوږدو کښې ارامي نه ده راغلې او تر هغه وخته چې ددې با شهامته او غيرتي قوم حقوق لاس ته نه وي ورغلي او يو سوی نه وي، ګاونډي قومونه په ارامه نه سي

پاتېدلای. دا د ګاونډیو هېوادو اشتباه ده، چې ګوندې دا قوم به هضم کړي. ددې قوم دا خاصه ده چې نیول یې اسانه دی خو هضمېده یې ډېر ګران کار دی. بلکه په تاریخ کښې د چا نه دي په یاد چې دې قوم دې بل ته سر ټیټ کړی وي.

ویښ ځلمیانو چې پخپله هم سوچه پښتانه او افغانان وو، د پورته اساساتو پر بنا پښتونستان د پښتنو حق باله خو دا حق نه په زاریو پاکستان ورکاوه او نه دې مسئلې ته د افغانستان حکومت صادق و، ځکه نو ویښ ځلمیان معتقد وو چې د پښتنو دا مقدس مرام باید د پښتني اولس په مسالمت امیزه مبارزه لاس ته راسي.



[۳]

# ویښ ځلمیان

## صورت حال:

ویښ ځلمیانو په ۱۹۴۶ کال چې له ۱۳۲۵هـ ش سره برابر دی په خپل پیوستون او سیاسي کار پیل وکړ. په دې وخت کښې ځلمیان چې شاته ګوري ډېر تاریکه او بېرېدونکي مناظر ویني خو آینده ډېر ورته روښانه ښکاره کېږي. مګر حال ورته د خوف او رجاء تر منځ دی.

په دې کال له یوه طرفه سردار محمد هاشم خان د ناروغۍ په وجه د صدارت د څوکۍ څخه استعفا کوي، چې په دې وجه خلک یو څه د اطمینان سا کاږي او خوشالېږي خو سم له لاسه بیا ښاغلی عبدالرحیم خان د عامو ګټو وزیر د حکومت د مخالفت په تور، تور زندان ته لېږل کېږي، ددې څخه خلکو ته بیا د توري دورې یادونه ور په یادېږي.

د سردار محمد هاشم خان تر استعفی وروسته د شاه محمود خان د صدارت وار راځي، کله چې دی صدراعظم سو، د عدل، انصاف او د دموکراسۍ نغارې په هېواد کښې وډنګولی سوې. ملت دې دیموکرات صدراعظم وباله، په کندهار کښې ده ته د "مېړاني" او د "اولسي لیډر" لنګوټه ور پر سر سوه.

د ویښ ځلمیانو ډلې په لومړي سر کښې کوم ټاکلی مرام یا منشور نه درلود خو فقط د عامه اذهانو د بېدارولو له پاره یې سرکاري مطبوعات چې د منورینو په لاس کښې وو، استعمالول، په دې جمله کښې د "کابل مجله" د یادونې وړ ده، ددې مجلې مدیر ارواښاد عبدالرؤف بېنوا وُ، د دې وخت د خپرونو مقصد په ځوانانو کښې د ملي حس راویښول او د ځوانانو یو له بله تعارف او شناخته کول وو او هم په دغه رنګه ځوانان پر یوه منبر یا سټېج راټولول او انسجام ورکول وو. د کابل ځخه مترقي نشریات د هېواد ټولو روشنفکرانو پیل کړل او د کابل پښتني پوهان لکه ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین، ارسلان سلیمي صاحب او دغسې نورو ډېرو با دردو منورینو په دې ملي نهضت کښې برخه واخیستله، په دې توګه په اولس کښې ورو ورو ملي احساسات راپیدا کېدل او راویښېدل.

په دې پاځون (تحریک) کښې ملایان، صوفیان، متجدد، عصري ځوانان او قدامت پرسته شامل وو، چې دا ټول د یوه مقصد له پاره پر یوه ځُم راټول سوي وو. هر یوه ددې ځُم ځخه د خپلې لوټې په اندازه د آزادۍ شراب راایستل او ځان یې پرې مستاوه، د ټولو غرض دا وُ چې هېواد ته د فکر آزادي، د تعلیم آزادي، سیاسي آزادي او داسې نور راسي. دې ځُم یعنی "ویښ ځلمیان" د دردمندو زړو مداوا او تسکین وکړ، کرار کرار یې په اجتماعي توګه پخوالی پیدا کړ، په ټول افغانستان کښې یې ازانګې خورې سوې، داخلي او خارجي شهرت یې پیدا کړ.



د "افغان ملت" اخبار په قول: د ویښ ځلمیانو نهضت ددې ځمکې د تل ځخه ناځاپه داسې را اوچت سو، لکه یو آتش فشان چې انفلاق وکړي. په دوو کلو کښېږې یې افغانستان ونیوه؛ شعرا، ادیبان، نطاقان او خطیبان یې پیدا کړه، د هر چا افغانستان ته تمه پیدا سوه، د دیموکراسۍ نظام وښودل سو.[1]

## مؤسسین:

هغه کسان چې دا ډله یې جوړه کړه په کابل کښې ښاغلی عبدالرؤف بېنوا، ښاغلی ارسلان سلیمي، جناب قیام الدین خادم، ښاغلی نور محمد تره کی، ښاغلی فیض محمد انګار، جناب غلام حسن خان صافی، رښتین صاحب، ډېر محترم ګل پاچا الفت صاحب. دغو کسانو لومړی په کابل کښې یوه ټولنه جوړه کړې وه او په کورونو کښې یې دوستانه مجلسونه درلودل. ځرنګه چې په سیاسي ډول زمینه ورته مساعده سوه، نو دا دوستانه او ادبي ټولنه په سیاسي ټولنه را واوښته او د ولایاتو سره یې تماس پیدا کړ.

په دې وخت کښې حکومت هم د اعتدالي نشریاتو ځخه چندان بد نه وړل، په تېره بیا هغه نشریات چې د دیموکراسۍ تشریح، د حکومت ستاینه او د پاکستان غندنه پکښې وه حکومت تر ډېره حده په ورین تندي منل. نوموړو موسسینو د حکومت دا ځای مونډلی و او هم په دغه ترخ کښې دوی د ملي اتحاد او اتحادیې جوړولو کوښښ شروع کړ. اثرات یې د هېواد ټولو ولایاتو ته ورسېدل. په تېره بیا کندهار او ننګرهار ته؛ ځرنګه چې دا تحریک د پښتو ژبو ادیبانو او پوهانو په لاس را شروع سوی و، وده یې هم په پښتو ژبو ولایاتو کښې ډېره وه. د نورو ولایاتو حال خو ماته دونې نه دی معلوم، البته کندهار تر یوې اندازې پورې ځېړلی سم.

---

۱ - د افغان ملت اخبار، ۳مخ. د غبرګولی ۳۱ نېټه ۱۳۴۵هـ ش کابل.

د کندهار خلک چې طبعاً څه زيات شوخ، اجتماعي احساس ورباندې غالب او چپي تمايل يې ډېر دی کله چې د کابل څخه د ويښو ځلمو د تحريک څپې ررسره وموښتلې منورينو او ځوانانو ورته "ښه راغلاست" ووېل او په ډېر لږ وخت کښې ددې سيمې ځوانانو، سپين ږيرو، دينداړو او آزاد خيالو لاس په لاس کښې سره ورکړ او دا کاروان را روان سو. هغه هم په دونی چټکی، چې جهان ورته حيران سو او ګوته يې ورته په غاښ ونيوله.

ددې تحريک د عمل ډګر کندهار او نور ولايات وو، خو نيوربسنان يې په کابل کښې ناست وو، درې کاله په ښغمه زړه ځلمو د هېواد په ويښېدو کښې کار وکړ يعنی د ۱۳۲۵ تر ۱۳۲۷هـ (له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۸) پورې.

د ويښو ځلمو لومړی مرامنامه د کندهار له خوا کابل ته راولېږل سوه چې په دې توګه د ځلميانو جمعيت په حزب بدل سو او غړو خپل مرام ته مسووليت پيدا کړ، اوس به نو د حزب په تفصيل پيل وکړو.

## "د ويښ ځلمو لومړی مرام نامه" په دې ډول وه:

لومړی: د اجتماعي نظام سمون، د اسلامي او ديموکراسي اصولو سره سم بې له تعصبه په داسې ډول چې شئونات د هرې طبقې او هر قوم په هغه کښې برابر وسائل سي او هر څوک په مساوي ډول حقدار وي چې په دې حزب کښې برخه واخلي او ټول يو نصب العين د وطن "ترقي او يووالی" تعقيب کړي.

دوهم: حزبي خلک د هر ډول مشروطه او ديموکراسي نظام سره چې حکومت يې اعلان کړی (څرنګه چې هغه طبيعی د حزب ددغه مرام سره موافقت لري) او په تېره بيا د پښتونستان د تحريک



په لاره کښې چې زموږ يو مشترک مرام او نصب العين دی پوره مرسته او معاونت کوي.

دريېم: حزبي خلک د فرقه وارانه جذباتو نه ايسته کول، د خپل مذهب احترام کول. هر چا ته د ځان حق ورکول او د بل په حق ورکولو کښې له هغه سره مرسته کول. د زړونو تأليف د علماء او مشايخو عزت (که څه هم د هر قوم او هرې طبقې وي) ساتل، د هر راز خرافاتو او غلطو رواجو، رشوت، غوړه مالی او داسې نورو په مخ کښې درېدل، د عاجزانو سره مرسته او همدردي، د علم او پوهنې په خپرونو کښې سعی کول د ځان لومړی دنده ګڼي.

څلورم: حزبي خلک اقتصادي تنظيم او مجادله د هغو اشخاصو په مقابل کښې چې په اقتصادياتو کښې د نورو خلکو په ضرر کار کوي او خپل ځان ته بې د اجتماعي منفعت له ملاحظې څخه پرته زياته ګټه کوي او هم داسې له نورو خاينانو سره چې د وګړو پر مثبتو حقوقو باندې تېری کوي، مجادله خپل فرض شمېري.

"والسلام علی من اتبع لهدی"

قَسم:

زه د لوی خدای عزوجل په دغو پاکو مقدسو اسماؤ "والله-بالله-تالله" د خپل ضمير او وجدان په محضر کښې قسم خورم، چې په لاندينی موادو به عمل کوم او د هغو نه به مخالفت نه کوم:

۱. حزبي خلک ټول ورونه او نږدې خپلوان ګڼم او د دوی سره به هيڅ وخت خيانت نه کوم.

۲. هر ډول اوامر چې د حزب د مرام د څلورو مادو سره سم وراندې کېږي په هغو به عمل کوم او د دغه مرام د تعميل په لاره کښې به هيڅ راز شخصي اغراضو ته دخالت نه ورکوم.

۳. پخوا تر تحقیق او پخوا تر هغه چې زه اجرایي هیئت ته خبر ورکړم، هر وخت او په هره بهانه به له حزب، څخه نه جلا کېږم او نه به هر راز نامعلوم فکر او ذهنیت ته تسلیم کېږم.

د قسم په دغو واړو درو مادو زما عقیده ده او په پوره ایمان سره یې منم.

محمد دین ژواک، غلام دستګیر جان، غلام حسن، فیض محمد انګار، عبدالرحمن، غلام قادر د ارغنداو، نورالحق، پیر محمد د حاجي لعل محمد زوی، نور لاسلیکونه هم شته چې نه ویل کېږي او: عبدالشکور رشاد چېل لاسلیک پر ځای داسې لیکلي دي:

"بسم الله الرحمن الرحیم

ددې مرامنامې ټوله مواد په استثنا د یوې مادې چې هغه مې پخوا تر امضاء د اجرائیې هیئت په مخ کښې توضیح کړه، منم."

ګومان کوم چې دا مرامنامه لومړی مرامنامه ده او هم په کندهار کښې د کندهاري ځلمو له خوا تصویب سوې ده.

په ابتداء کښې ځلمیانو د تحریري کارروایيو څخه ډډه کوله او ددې څخه یې وېره وه چې چېرې دا اسناد د حکومت لاس ته ونه رسېږي او د زجر موجب ونه ګرځي. هر څه چې بې کول د خوف او امید تر منځ بې کول چې پورته مرام ددې خبرې ښکارندوی دي.

دوی له یوه طرفه نه غوښتل چې حکومت دې خپه او خوابدی کړي او له بله پلوه یې غوښتل چې اولسي نیمګړتیاوې سمې کړي.

## د کندهار اولسي روښنفکران:

په دې وخت کښې چې حزب په وجود راځي یا په بله توګه چې حزب په وجود راولی په کندهار کښې دغه شاځلمیانو کار کړی دی او حزب یې د نیست څخه اوج ته رسولی دی:



ښاغلی محمد رسول خان پښتون- غلام جیلاني خان مدیر، قاضي عبدالصمد خان، حاجي محمد انور خان اڅکزي، مولوي محمد بهرام خان اڅکزي، عبدالهادي خان هادي، حضرت محمد یوسف آغا.

او په دې حزب کښې دوهم پوړ خلک چې نسبتاً ځوانان او د فعالیت ونډه یې زیاته وه او د کشرانو په ردیف کښې شامل وو عبارت وو له:

ښاغلی عبدالشکور رشاد، آغامحمد خان کرزي، محمد ابراهیم خان خواخوږی، حاجي محمد حسین خان، محمد حسین خان ریدی، صوفي ولي محمد خان، محمد علم بخرکی، نور احمد شاکر، شېر احمد جان، محمد علي خان، حاجي لعل محمد خان، محمد آصف خان او مسلم صاحب څخه.

که څه هم دا وخت (۱۳۲۶-۱۳۳۱هـ ش /۱۹۴۷-۱۹۵۲ع) د کندهار ډېرو منورینو او روښنفکرانو د ویښ ځلمیتوب نارې ته لبیک ویلی وو، خو هغه کسان چې په دې تحریک کښې ډېر فعال وو په پورته ډول د هغو ذکر وسو.

اول پوړ خلک چې په کندهار کښې یې د رهبرانو حیثیت درلود، دوی به اکثر حزبي فیصلې په کورونو کښې کولې او دویم پوړ ځلمیانو ته بې اوامر صادرول او د دوی د فیصلې په حکم به کار کېده. په ابتدايي یو- یونیم کال کښې خو د کار دا طریقه وچلېده، مګر کرار- کرارد حزبي تکامل سره سم غړو ته دا خواهش پیدا سو چې حزب باید وارده او صادره ولري، د تصویباتو کتاب باید موجود وي او د خزانه داری سیستم باید منځ ته راسي. ځوانانو چې د زمانې تودې او سړې اروېدلې وې خولیدلې یې نه وې او یا یې وینه ډېره توده وه د حزب لومړي مشران یې دې ته مجبورول چې هر کار باید د تصویباتو په کتاب کښې موجود او ثبت وي، خو د کندهار حزبي مشران چې د حاکمه قدرت ټولې ناروواوې ورته

معلومې وې په با ضابطه ډول کومې نوشتې کولو ته تر ډېره وخته اماده نه وو او تقریبا یو نیم کال د حزب ټول اجراآت په شفاهي توګه اجرا کېدل، خو په اخر کښې په ۱۳۳۰-۸-۱۴ (۱۹۵۱-۱۱-۵) د لیکل کېدلو فیصله وشوه.

## په کندهار کښې د حزب با قاعده تشکیل:

وروسته تر هغه چې ځوانانو، ځلمیانو د حزب مشران مجبور کړل چې جزب باید با قاعده شکل ولري. نو داسې فیصله وشوه چې:

غلام جیلاني خان "مدیر صاحب" دی د حزب د مالي چارو د آمر په حیث، حاجي محمد حسین خان دی د محمد علم بځرکي پر ځای د خزانه دار په توګه، نور احمد شاکر د خزانه دار د معاون په توګه شېر احمد جان او محمد حسین ریدي دی د تحصیلدار په حیث. دغه رنګه محمد علي خان، حاجي لعل محمد خان، صوفي ولي محمد خان د اعانې، چندې، اوقافو او د عایداتو د نویو مدرکونو د پیدایښت ناظمان مقرر شول.

په دې توګه مالي چارو ته تنظیم پیدا او هم هغه مدرکونه معلوم شول چې حزبي پانګه پرې جوړېده.

زما د خزانه دارۍ په وختو کښې ځینې حزبي مصارف په دې توګه وو:

- د محمد حسین خان ریدي کره د کندهار د علماو د مجلس له پاره چې کوم مصارف وشوه د (شېرچایو) له پاره اتیا افغانۍ.
- د حزبي اجراآتو له پاره کابل ته د محمد رسول خان پښتون د لېږنې مصرف ۵۰۰ افغانۍ.
- د ښاغلي ډاکټر محمودي صاحب د ناروغۍ د حال معلوملو ټیلیفوني مصرف شل افغانۍ.
- غلام حسن خان صافي ته ضروري ټیلیفون شل افغانۍ.



- د زنګاوات مولوي صاحب ته یو من بوره ورولېږل شوه، قیمت شپږویشت افغانۍ.
- دغه ډول د حزبي مطلبو دری عریضې اعلیحضرت ته ورولېږل شوې چې د ډاکخانې مصرف یې واضح نه دی.
- د لیکوالو د یوې جلسې د جوړېدو له پاره ښاغلي آغامحمد خان کرزي ته ور حواله شوې، یو سل او دېرش افغانۍ.
- دغه رنګه سید عبدالوهاب آغا ته د غرمې د ډوډۍ د مصرف له پاره پیسې ورحواله شوې چې د کندهار مشایخ سره راټول او د ویښ ځلمو موضوع ورته واضح کړي.
- محمد حسین خان ریدي ته په کور کښې د مجلس د جوړېدو له پاره حواله شوې.
- دحزب له خوا ښاغلي حاجي محمد انور خان کاکا صدارت ته تلګرام مخابره کړ چې په موسی قلعه کښې خلکو ښاغلی عبدالرؤف بېنوا انتخاب کړی دی خو د ګرشک حکمران په انتخاباتو کښې مداخله کوي. ددې تلګرام مصرف اوولس "۱۷" افغانې شوې او تازیخ یې دی ۲۷ د حمل ۱۳۲۸ (مطابق ۱۶ اپرېل ۱۹۶۹ع.)
- د کندهار د زمیندارانو له خوا د اقتصاد وزارت ته تلګرام مخابره شو، چې د یوه شرکت د جوړېدو اجازه واخلي، تاریخ اغلباً د حمل ۱۶ کال ۱۳۲۸ هـ ش مصرف یې دېرش 'افغانۍ.
- یعقوب جان آغا ته د دین محمد خان په ذریعه ورکړې شوې، دوه سوه افغانۍ.
- کله چې جناب محمد ابراهیم خواخوږی صاحب د معلمۍ په دوره کښې د ځوانانو د تنویر کولو په ګناه د حکومت له خوا بندي کړ شو، جمعیت په بندیخانه کښې دده پر حفظ الصحه او داسې نورو باندې درې سوه نوي (۳۹۰) افغانۍ مصرف کړې تاریخ یې دی د ثور لومړۍ ۱۳۳۰، کندهار

- علاوه پر پورته ذکر سوو تلګرافو پينځه تلګرامه نور هم مرکز ته مخابره سوي دي خو د تلګرافونو اغراض واضح نه دي.
- د معروف او ارغسان د خواينو د ډوډۍ مصرف يو سل دوشپيته افغانۍ په رسيد کښې ښوول سوی دی.

په دې ډول نور هم ډېر مصرفونه سوي دي چې د موضوع د اوږدوالي په وجه صرف نظر ځنې کړو. څرنګه چې د مصارفو څرنګوالی د يوه حزب په معنوي حيثيت کښې يو خاص مقام او مفهوم لري او د حزبي کړو طريقه ځنې څرګندېږي نو مې ځکه دا څو پاڼې ورته وقف کړې. اوس به نو راسو بېرته حزبي جريان ته، د حزبي جريان مرامونه په لومړي سر کښې خورا ژر ژر سره بدلېدل او يو متحد مرام نه وو موجود، چې دا هم يو ددې دليل دی چې دې حزب تر اوسه لا خپل تکاملي پړاوونه تېرول. د ويښو ځلمو تېر مرام ته که په اوسنيو سترګو وکتل سي خورا ډېرې نيمګړتياوې يې درلودې او که د هغه وخت د ايجاباتو په نظر ورته وکتل سي، نو څرنګه چې حزب وده کړې وه، ارتجاع يې غلې کړې وه او د ملت اعتماد يې کسب کړی وُ. نو هرې سياسي نيمګړتيا ته بايد د وخت د مصلحت نوم ورکړه سي.

## د ويښ ځلميانو بل مرام:

اوس به نو د يوه بل مرام چې د اسد پر ۲۷ نېټه ۱۳۲۸ په کابل کښې تصويب سوی دی ذکر وکړو:

بسم الله الرحمن الرحيم

I- د ويښو ځلميانو د حزب پروګرام:

۱. د معارف تعميم او د اذهانو تنوير

۲. ملي وحدت تقويه کول.

الف : د پښتنو د يووالي له پاره کوښښ کول.



ب : د پښتونستان د جوړولو له پاره زيار ايستل.

ج : د لويې پښتونخوا (لوی افغانستان) ټول اوسېدونکي يو شان ګڼل او د قومي او قبيلوي امتيازاتو او اختلافاتو پرېښودل او ورکول.

د : د ټولو اقليتونو د مشروع او قانوني حقوقو رعايت کول.

ه : په متقابل صورت په پښتو او فارسي سره رغېدل.

۳. له ظلم خيانت، غدر، تملق، رشوت او دروغو څخه ځان ساتل او دهغو سره مجادله کول.

۴. د خرافاتو او بدو رسومو اصلاح کول.

۵.اجتماعي همدردي او خوشبيني پيدا کول.

٦. قومي او ملي مفاد پر شخصي مفادو مقدم ګڼل.

۷. له هېواد څخه ناپوهي، ناروغي او لوږه لېرې کول.

۸. د دين او ملت او خپل ملي حکومت سره مينه درلودل.

۹. وطني شيان حتی المقدور استعمالول او له بد خرڅۍ او عياشۍ نه ځان ساتل.

## II- شرايط:

۱. هرڅوک چې په دې حزب کښې داخلېږي، هغه به د حزب د مرام د مخ ښيولو سره د صداقت او وفادارۍ تعهد او حلف کوي.

۲. د حزب ټول غړي به په هر کال کښې د حزب خزانې ته يوه اندازه پيسې تحويلوي چې اقل حد بې پنځوس افغانۍ وي.

۳. د حزب هر غړی به کوښښ کوي چې د حزب له پاره ملګري پيدا او ډله زياته کړي.

۴. د حزب د مرام او اصولو تبلیغ د حزب په غړي لازم او واجب دی.

۵. -د خپلې ډلې د ملګرو سره به د ضرورت په وخت کښې هر ډول مرسته کوي.

۶. هر څوک چې نوی په حزب کښې داخلېږي عمر یې باید د اتلسو کلو څخه کم نه وي.

## III- تشکیلات:

۷. دا حزب به یوه مرکزي کمیټه ولري، چې په کابل کښې به وي او نورې ایالتي کمېټې به هم لري چې په ولایاتو او اطرافو کښې به تمرکز لري.

۸. هره کمیټه به یو رئیس- یو منشي- یو معاون او یو خزانه دار ولري.

۹. هره کمیټه به په لازمو وختو کښې جلسه کوي، د ټول حزب عمومي جلسه به په کابل کښې هر کال یو ځل کېږي او په ټولو ټېرو مسایلو باندې به بحث کوي. فیصلې به یې فوراً د ټولو کمیټو له خوا تر اجرا لاندې نیولې کېږي.

نوټ: ولایتي کمیټې ددې پروګرام مطابق چلېږي.

دا حزب چې په ۱۳۲۵هـ ش (۱۹۴۶ع) کال کښې په ابتدایي صورت جوړ شو، د ۱۳۲۸ کال د اسد په ۲۷مه نېټه په نوې بڼه بدل سو، پروګرام ورته وټاکل سواو له دغه تاریخ څخه په نوي شکل تأسیس سو، نېټه د اسد ۲۷ کال ۱۳۲۸هـ ش.

دا وو د حزب هغه مرام چې په کابل کښې تصویب سو په دې وخت کښې حزب ډېر منسجم و.

دغه رنګه یوه بله هدایتنامه د کندهار ولایتي کمیټې پاس کړه چې په لاندې ډول یې رانقل کوم:



## هدایتنامه:

۱۰. باید کوښښ وکړو چې د خلکو غوږونه ورخلاص او قوم د عصري جریاناتو څخه خبر کړو او په خپلو صحبتو کښې ټل د قوم د آبادۍ، یعنې د زراعت او تجارت او داسې نور مسایل تر بحث لاندې ولرو.

۱۱. خلک د پوهې او معارف خواته باید تشویق کړل سي، خلک که په جومات کښې وي او که په ښوونځي کښې باید خوانده سي.

۱۲. د قوم مشران باید په هرو پینځلسو ورځو او یا یوه میاشت کښې یوه پلا سره کښیني او هم په هرو شپږو میاشتو کښې یوه جرګه ولري چې په دې جرګه کښې لږ تر لږه د هر قوم پنځوس تنه حاضر وي. دا کسان باید په داسې ځای کښې سره یو ځای سي چې د اولسي میلې شکل ولري. د قوم ځوانان به غړې سره باسي، آسان به ځغلول کېږي، د قوم سپین ږیري او عالمان به د میلې په پای کښې خلک اتحاد او اتفاق ته رابولي او ددې میلې مقصد به ورته اعلانوي.

۱۳. د هرې علاقې په مرکز کښې باید دا لاندې هیئت وټاکل سي:

الف: واقوامو مشران.
ب: منشي.
ج: نغدي تحصیلدار.
د: خزانه دار.

په هره میاشت کښې د قوم هر غړی باید د رسید په مقابل کښې یوه افغانۍ په محلي خزانه کښې جمع کړي، البته ښه خبره به دا

وي چې پخپله د هغه قوم مشر دا پيسې ټولې کړي او خزانې ته يې تحويل او رسيد واخلي.

۵- کوم کسان چې پيسې ورکوي د هغو د نومونو لست بايد د منشي سره وي او دغه رنګه يو مجموعي لست چې د هر قوم د بانفوذو خلکو نومونه پکښې ليکل سوي وي مرکز ته به يې ورکوي او په مرکزي دفتر کښې به هغه موجود وي.

۶. په هره مياشت کښې يوه پلا بايد د مرکز سره مخابره وسي. زياته هر څومره چې وي پروا نه لري.

۷. د پيسو د جمع کېدو راپور مرکز ته ورکول ضروري دی، چې د هيئت د څلورو سره کسانو امضاء ورباندې وي.

۸. هغه پيسې چې په محلاتو کښې سره راټولېږي. د هيئت د غړو په سلا چې دوی يې د عمومي مصلحت وړ بولي لګوي. خو ددغه ډول مصارفو راپور به مرکز ته ورکول کېږي چې وکتل سي، چې مصارف له کومو مدارکو کېږي.

۹. ددې له پاره چې د يوه مرکز خزانه تقويه سي، ښه به وي چې د زکات او خيرات يوه حصه او يا د جمع سويو پيسو څخه يوه پينځمه او يا شپږمه برخه په مياشت کښې مرکز ته ورکړي.

۱۰. هغه کسان چې د عمومي مفادو په خاطر د کندهار مرکز او يا کابل ته لېږل کېږي او يا دعوت ورکول کېږي چې محلاتو ته دې ورسي. ددوی مصارف د محلي خزانې څخه کېږي (فقط کال ۱۳۲۸ هـ ش.)

دا وه هدايت نامه، خو تر دې هدايت نامې لاندې کوم چا لاسليک نه دی کړی، دا هدايت نامه د کندهار مديره هيئت تصويب کړې ده په فارسي ژبه ليکل سوې ده او ما په پښتو راواړوله.

په حزب کښې د شموليت قواعد په لومړي سر کښې په دې توګه وو:



هر څوک چې په علمي لحاظ په څه پوهېده او د ټولنې غړی به وُ او يا په بله توګه ټول منورين او روشنفکران په دې ډله کښې داخل شمېرل کېدل، په وروسته- وروسته کښې چې ډلې د حزب شکل اختيار کړ نو به غړو پر هغه لومړي مرامنامې باندې لاسليک کاوه چې له يوه طرفه به يې معنی دا وه چې د حزب په مرام پوه سوم، له بله پلوه به هغه سړی د حزب غړی سو دې طريقې تر ډېره وخته دوام پيدا کړ خو په اخر کښې د شموليت کارډ جلا سو او مرامنامه جلا سوه د "شموليت د کارډ" اخرنی شکل په لاندې ډول وُ:

<table dir="rtl">
<tr><th>اسم</th><th>ولد و شهرت</th><th>پيشه</th><th>مختصر سوانح</th></tr>
<tr><td></td><td></td><td></td><td rowspan="2"></td></tr>
<tr><td colspan="3">بنده باکمال افتخار شموليت و وفاداري خود را به جمله قسميه "والله- بالله- تالله" در جمعيت "ويښ ځلميان" بدينوسيله اعلام نموده و با تمام مقدسات سوګند ياد ميکنم که حتی الامکان با جمعيت و افراد ويښ ځلميان در عموم حالات عادي و فوق العاده مطابق مرام نامه همدردی و همکاری نمايم- دستخط-</td></tr>
<tr><td colspan="2">د شاملينو د تعهد ورقه-</td><td colspan="2">کال ..................</td></tr>
</table>

په پورته ډول د شموليت کارډ په دري او پښتو ژبو دواړو کښې موجود وو خو زما سره يې د دري نمونه وه چې په ټايپ ليکل سوې ده. دلته دا خبره د يادونې وړده، کله چې ويښ ځلميانو په افغانستان کښې فعاليت کاوه- په افغانستان کښې د احزابو قانون

وجود نه درلود او نه دا حزب په اصطلاح رسمي حزب وُ. ځکه چې اصلاً په هېواد کښې داسې قانون وجود نه درلود چې په هغه سره یا د هغه له مخې کوم حزب رسمي سي. په مملکت کښې د وحشت قانون رویکار وُ، په دې وحشت کښې ویښ ځلمیان راپیدا سول ویښ ځلمیان لکه څرنګه چې په "تعهدنامه" کښې لیکل سوی دی یو جمعیت وُ مګر دې جمعیت دومره وسعت او شهرت پیدا کړ چې د جمعیت تر ساحې وووت او حزب ورته وویل سو، دې حزب د "مشر" له پاره هم حدود ټاکلي وو، چې دا دی په لاندې توګه کټ مټ د هغه نقل راوړم:

## مشر باید څه وکړي؟

۱. سیدالقوم خادمهم- "الحدیث"

۲. د قوم مشر چې غواړي د حزب مقدس مرام پر مخ بوځي، نو ورته پکار دي چې تر هر څه وړاندې پر خپلو شخصي اغراضو پښه کښېږدي او د هر چا سره په پاک زړه او پاک نیت مخامخ سي.

۳. د قوم مشر باید احساسات مغلوب نه کړي او په هر کار کښې څرنګه چې مصلحت وي وګوري او د عقل او تدبیر له مخې اقدام وکړي.

۴. د قوم مشر باید د ښو اخلاقو یوه نمونه سي او باید ډېر ځان ته متوجه وي.

۵. د قوم مشر د هر چا مهربان دوست وي او د هغه چا دښمن وي چې هغه دده د ملک دښمن وي او دی نه سي کولای چې هغه دې دوست وګڼي. والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم(د الفتح سوره، ۳۹ آیت).

په مشر توب کښې دغو شیانو ته ډېر ضرورت دی، لکه: صداقت- امانت او اعتماد، ایثار او شجاعت، د وعدې ایفا، صله



او رحم، حوصله او تحمل، قناعت او توکل، پاک نیت او مهربان زړه، بلکه عوض څخه کارکول، د حق ویلو او حق کولو جرات لرل.

۶. هر حزبي سړی باید دې ته تیار کړه سي چې د حزب مرام په ښه ډول خپور کړي او د خلکو محبت او خلوص حزب او د حزب مشرانو ته وروګټي او د خپلو ملګرو په زیاتولو کښې کوښښ وکړي او هم ملي بودجه تقویه او د مرکز سره خپل ارتباط وساتي. "کندهار ۱۳۲۹"

افغانستان له پخوا څخه د استبدادي رژیمونو زانګو وه. ددې هېواد "رسمي مامورینو" یا نوکر شاهی حزبي اخلاق بیخي نه درلودل. ځکه نو د احزابو قانون دوی ته یو نا بلده شی و. د حکومت رسمي مامورین له پخوا څخه په خود سری اموخته وو، د ملي منافعو له پاره ملي اتحاد دوی د ځانو په ضرر بالله، د ملي حقوقو غوښتنه دوی جرم ګاڼه، ځکه دوی ګومان کاوه، چې ملي حق هغه دی چې زې ټاکم او یا یې زه وبولم، پردې بنیاد باندې په هېواد کښې داسې حزبونه نه وو موجود چې حکومت هغه رسما ثبت کړي وي.

د ویښ ځلمیانو هغه مشران چې د تملق پسنده سردارانو سره په تماس کښې وو دوی ته دا ور فهمولې وه، چې د هېواد منور قشر د دولت په حمایت مور سره راټول کړی دی او تش د دیموکراسی په نامه دوی د دولت او حکومت خدمت کوي چې دا د وخت د حکومت په لویه نیکنامی تمامېږي. شاه محمود خان صدراعظم خو بیخي د خپل حکومت دوره دیموکراتیکه دوره و بلله دغو مشرانو چې په مستبد حکومت د دیموکراسی لنګوټه وتړله د ملت ځوانان یې دواقعي دیموکراسی په لور او امید راروان کړل. حکومت غوښتل چې په ظاهري توګه خلک او جهان دوی دیموکراټ وبولي خو ملت په دا لړ وخت کښې ډېر راوېښ سوی و، ملي مطالب

راژوندي کېدل، د احزابو مرامنامې جوړېدې او د حزبي مشرانو د کړو چوکاټ ترل کېده. نور نو ملت د حکومت په درواغو او دسیسو نه غولېده، لکه څرنګه چې د مرام نامو او د مشر د کړو د لایحې او ترتیب څخه ښکاره ده.

## د ویښ ځلمیانو بل مرام:

دا مرام په ۱۳۲۹هـ ش (۱۹۵۰ع کال) کښې شایع سوی او زما په ارشیف کښې موجود وو چې زه یې عینا رانقلوم:

۱. د اسلام د دین او صحیح ملي اخلاقو تائید او متابعت کوي. د معارف، مطبوعاتو او تبلیغي انجمنونو[1] په ذریعه د نامشروع او مضرو رواجونو اصلاح، خپله اخلاقي وظیفه بولي.

۲. ویښ ځلمیان په سیاسي داخلي ډګر کښې د شاهي مشروطه نظام طرفداري کوي او د پادشاه مقام د دولت د مشر په حیث محترم ګڼي.

۳. د افغانستان د خاورې د تمامیت او استقلال ساتنه خپل ملي فرض بولي.

۴. کوښښ کوي چې د فکر، بیان، قلم او د ملي شورا او بلدیو د انتخاباتو ازادي د ملي اقتدار د تحکیم او د تشکیلاتو د سمون له پاره په اساسي صورت رائج کړي. د قوانینو په ترویج او د اجتماعي عدالت په قایمولوسره د ظلم او انارشۍ لیرې کول لازم ګڼي.

۵. د معارف راوستل او خلک باسواده کول د وطن په ټولو برخو کښې په مساوي صورت ضروري بولي. ددې مادې په عملي کولو کښې به نر، ښځه، لوی او وړوکی فرق نه لري.

[1] - تبلیغي انجمن لکه څرنګه چې په پاکستان کښې د یوه جمعیت نوم دی دلته په دې معنی نه دی بلکه په خپله واقعي معنی دی.



۶. زیار کاږي چې فرقوي او قبیلوي روح د ملي وحدت په روح تبدیل کاندې. د مذهب، نژاد، ژبې، قبیلې او ولایت فرق د ملي وحدت مانع نه ګڼي او د افغانستان ټولو اوسېدونکو ته چې افغاني تبعه وي په مساوي حق قایلېږي.

۷. د ښارو ځمکو د ابادولو، ښارونو د جوړولو، د برقي کارخانو د درولو، د کار پیدا کولو، د اقتصادي ظلم او ناهمواری د اصلاح کولو او ملي صنایعو په تېره بیا د لاسي صنعتونو د قوي کولو په واسطه د وطن د غریبو طبقو سره کومک کوي.

۸. د مملکت صحي وضعیت تقویه کول، له ساری ناروغیو سره مبارزه کول، د غذا او ژوندانه د طرز او فکر د اصلاح له لارې د قوي نسل تربیه لازم ګڼي.

۹. په خوراک، پوښاک او استوګنه کښې علمي او اقتصادي سادګي غوره بولي او مراعات یې کوي.

۱۰. د پښتونستان ازادي د خپل ملي سیاست په اساساتو کښې شامله ګڼي.

د ویښ ځلمو په مرامنامو که سړی په مجموعي ډول غور وکړي، د حزبي مرام نامو اطلاق ورباندې نه کېږي بلکه دا یو ډول ملي ارزو ګانې وې چې د اولس منورې طبقې د حکومت څخه غوښتلې او ملي ځوانانو ته یې هغه مطالب ورپه ګوته کول، چې د هېواد د نشریاتو څخه استفاده ځنې وکړي او ملي نیمګړتیاوې ورته معلومې سي. د وخت د تقاضا په حساب شاعرانو د ویښ ځلمیتوب داسې تبلیغ کاوه. وګورئ د خواخوږي صاحب شعر:

## ویښ ځلمی څوک دی؟

د خواخوږي صاحب دغه شعر چې د کندهار په طلوع افغان ورځپانه کښې په ۲۴/۶/۱۳۲۷ل کښې چاپ سوی دی. ده د خپل

وفات شخه درې ورځې د مخه په خپل قلم ليکلی او زما د زوی "ننګيالي بځرکې" په ذريعه کوټې ته راولېږه چې دا دی زه يې د هغه ورځې په تمثيل دلته راوړم او دا د هغه وخت تقريبا د ټولو روشنفکرانو د طرز تفکر نمونه ګڼلای سو:

## ويښ ځلمي څوک دي؟

ويښ ځلمي هغه چې د ملکه جهالت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې تل ظلم او رشوت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې د قوم د اصلاح له پاره
شپه او ورځ هاند کاندې نفاق او خيانت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې تېر ته کړي رښتيا خبرې
غوړه مالي، موزه پاکي بيځای ذلت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې خونخوار، خاين ميدان ته باسي
په حق ويلو، اورولو جنايت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې بشري راحت د ځان بولي
په نور د علم امتياز او فوقيت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې د کونډې په درد سي درمن
عبث کارونه، خرافات ناوړ عادت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې د اسلام په مبارک نور سره
ستمګاري، تل باداري کبرو نخوت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې کاذب او غولوونکي خلک
قوم ته ښيي له سرېتوبه خجالت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې پوهنې او عرفان په قوت
د پښتانه ناروغه قوم څه کسالت ورکوي
ويښ ځلمي هغه چې اخلاق حميده سره خپل
بد اخلاقي، ايله ګردي او رذالت ورکوي



ويښ ځلمي هغه چې "خواخوږي" وي د قوم او ملت
د ځان ځاني ريښه په رحم او شفقت ورکوي

"دغه پورته اشعار د ويښ ځلميانو مرام د قوم او کندهار ولس له پاره په ساده ژبه بيانوي، ځکه چې هغه وخت حزبونه رسمي نه وو مرامنامه نه سوای نشرېدلای."

خواخوږی

اوس به نو د ويښو ځلمو څه نور اجراات راوړاندې کړو:

## د جمهوريت اعلان:

په دغه ترځ کښې چې حکومت په ديموکراسۍ ځان معرفي کوي او هم خلک د حکومتي اعضاو د خطا ايستو په غرض ورته ديموکراتيکه دوره وايي. په دې وخت کښې ويښو ځلمو چې کوم کار وکړ هغه د ښاغلي پوهاند حبيبي صاحب په اولسي جرګه کښې د کندهار له خوا کاميابېده وو.

حبيبي صاحب د کندهار د خلکو له خوا په اوومه دوره کښې د اولسي جرګې له پاره کامياب سو او پارلمان ته ولاړ، د شورا د اوومې دورې افتتاح د ۱۳۲۸ کال د چونګاښ په ۲۸ نېټه (د ۱۹۴۹ د جون ۳۰) په کابل کښې وسوه. دې شورا ته د افغانستان خلکو ډېر اميدونه درلودل او حکومت به هم دا دوره ديموکراتيکه دوره معرفي کوله. خو کله چې اولسي جرګې په اجراآتو پيل وکړ او هلته ملي نمايندګانو بيانونه ورکړل، حکومت ته ورمعلومه سوه چې ملي مفادات د حکومتي مفاداتو سره توپير لري او د حکومت هيلې ملي شخصيتونه نه تاييدوي نو په دې توګه د ملي نمايندګانو او حکومت تر منځ توره کټو تېره سوه. حبيبي صاحب په مرګ تهديد سو او ژوند يې په خطر کښې ولوېد، دوی ونه کولای سول چې د حکومت هرې وړ ناوړې خبرې ته سرټيټ کړي. نو د ملي ارزوګانو سره سم

يې د کابل سرداري شورا ترک وهله او په پاکستان کښې يې سياسي پناه حاصله کړه.

په پاکستان کښې دوی د لومړي ځل له پاره په افغانستان کښې د جمهوريت رغ پورته کړ او يو اخبار يې د ازاد افغانستان په نامه له پېښوره څخه راوايسته، چې په دې توګه ګويا لومړی جمهوري رغ هم په افغانستان کښې د ويښو ځلمو له خوا اعلان سو. د افغانستان د جمهوريت له پاره حبيبي صاحب په پاکستان کښې د يوه حزب اعلان هم وکړ، چې نوم يې "ازاد افغانستان" و، ددې حزب مرام په لاندې ډول و:

١. د استقلال ساتنه.

٢. د يوه ازاد ملي حکومت قيام.

٣. ملت د اسلام، علم، او مدنيت په چوکاټ کښې يوې مترقي لارې ته سوق کول.

۴. د ټولو غير اسلامي او غير حقوقي امتيازاتو لغوه کول او د مساوات ټينګښت.

۵. حاکميت د ملت حق دی.

٦. حاکمه حکومت ته تر سقوط ورکولو وروسته د لويې جرګې په واسطه د داسې حکومت جوړول چې د خلکو له پاره، د خلکو له خوا او د خلکو په ذريعه وي.

٧. ملي حکومت به د دا دوه ويشتو کلو ملي خائنان محاکمه کوي.

٨. کومې سرمايې چې بهر ته لېږدول سوې دي بېرته به يې لاس ته راوړي.

٩. د غير قانوني ماليانو لغوه به راځي.



١٠. نوی اساسي قانون به د اسلام او مدنيت په اساس جوړېږي.[1]

په دې توګه ځلميانو د هرې خوا د ازادۍ تحريک شروع کړ او هم يې دننه په افغانستان کښې د ټول منور قشر ارزوګانې او د ارتجاعي پوړ ناوړې په خپل کامل قدرت رسوا کولې. په هر ځای په هر اخبار او رساله کښې انتقادي مضامين خپاره سول، غرض ارتجاع له هرې خوا وترټل سوه، حکومتي ارتجاعي سياست وغندل سو، په اولسي ارتجاعي حرکاتو باندې بد وويل سوه او هم ارتجاعي اشخاص رسوا کړل سول.

ښاغلي لوستونکي ښه پوهېږي چې همېشه د ارتجاع پناه د ارتجاعي عقايدو په غېږ کښې وي. هېڅ چېرې ځوک پناه نه ورکوي مګر ارتجاعي عقايد. د حکومتي سياست د رسوا کېدو له پاره علاوه پر هغه چې د ټول افغانستان ډېرو روشنفکرانو افشاګرۍ وکړې خو پخپله د ويښ ځلميانو افشاګرۍ او نشريات تاکلی دريځ لري چې په لاندې ډول يې ذکر کوم:

## د ويښ ځلميانو نشريات:

### ١- د انګار اخبار:

ښاغلي فيض محمد انګار، د انګار اخبار په خپله ځانګړې پانګه راوايست، چې د ويښو ځلمو د افکارو نمايندګي يې کوله.

"دې اخبار د ١٣٢٩ د کب د مياشتې په نهمه نېټه په پښتو او دري ژبو په خپرونو پيل وکړ او شپاړسمه ګڼه يې د ١٣٣٠ د غويي د مياشتې په لومړۍ نېټه خپره شوه او نور يې د نشر اجازه ورنه کړه او بې محاکمې توقيف سو.

"زرملوال"

١ - د مهابت خان په جومات کې، د جمعې تر لمانځه وروسته، د حبيبي صاحب اعلان نېټه د اګسټ ٣١، ١٩٥١، پېښور.

دې جريدې د دولت نـادودې پـه ښه تـوګه ښکـاره کـولې او د ملت پـه تنوير کـښې يـې د قـدر وړ خدمتونـه کـړي دي. د ويـښو ځلمـو ټولـو ليکوالانـو همکـاري درلـوده د اخبـار پـه توزيـع او ترتيـب کـښې ښاغلـو نـور محمـد تـره کـي او اغـا محمـد خـان کـرزي مرسـته ورسـره کولـه. دا اخبـار لـږ عمـر وچلـېد، چـې بيـا د حکومـت لـه خـوا بـې لـه کومـې محاسبې او محـاکمې بنـد کـړل سـو او د اخبـار چـاپوونکـي ګـستېنر حکومت د سپايانو پـه زور يـو وړ او ضـبط يـې کـړ.

دا چـې دا اخبـار ولـې بنـد کـړل سـو کومـه باضابطـه اعلاميـه نـه ده خپره سوې او اروابناد فيـض محمـد انـګار تـه هـم دا نـه وه ورمعلومـه خـو حکومتـي منـابعو داسـې اوازې خپرولـې چـې انـګار اخبـار عامـه ذهنيتونـه مشـوش کـول، ځکـه نـو د کورنيـو چـارو وزارت لـه خـوا د بندېدو امر ورته وسو او پوليسـو يـې ګـستېنر يـووړ.

۲- د اولس اخبـار:

وروسـته تـر هغـه چـې د انـګار اخبـار مصـادره سـو ښاغلـي ګل پـاچـا الفـت چـې د هـېواد لـه سـترو ليکوالانـو څخـه و، د اولـس پـه نامـه يـوه اوونيزه جريـده خپـره کـړه چـې يـې د ويـښو ځلمـو نمـايندګي کولـه، دا جريده هـم پـه ګـستېنر چـاپېدلـه د انـګار اخبـار او اولـس دواړو پـه پښتـو او دري ژبـو مضـامين خپـرول، د ځلمـو دا جريـده د سـردار محمـد داود پـه شـفاهي امـر چـې پـه هغـه وخـت کـښې د دفـاع وزيـر و بنـده سـوه. د همدغـه جريـدې پـه واسـطه نړيوالـو تـه ورمعلومـه سـوه چـې د ويـښو ځلميـانو ليـډران او سـرګرم کارکنـان افغـانـي حکومـت بـې لـه کومـې محـاکمې بنديـان کـړي دي چـې بيـا وروسـته د کـراچـۍ ډان اخبار هم موضوع افشـا کـړه. او بيـا د فرانسـې د لوموند پـه اخبـار کـښې موضوع افشا سـوه.

۳- د ويښ ځلميـانو کتـاب:

د ويـښ ځلميـانو پـه نشـرياتو کـښې دې کتـاب ډېر لـوی تاثـير درلودلی دی، اصلا پـه دې کتـاب کـښې چـې کومـې مقـالې يـا مضـامين



نشـر سـوي وو د هـېواد د روشـنفکرو خلکـو هغـه ارزوګانـې وې چـې دوی د ويـښ ځلمـو څخـه درلـودی. ددې مضـامينو راټولوونکـي اروابناد عبدالـروف بېنـوا و، کـه څه هـم پـه دې کـښې مختلـف او راز راز مضـامين وو او ډول ډول خلکـو دا مضـامين ليکلـي وو، خـو د ټولـو ليکوالانو هغـه ارزوګانـې وې چـې د ويـښ ځلميـانو څخـه يـې درلـودې نـو يـې ځکـه ددې مقالو مجموعې تـه "ويـښ ځلميـان" نـوم ورکـړ او د يـوه کتاب پـه شـکل شايع سـو. دې کتـاب د ويـښو ځلمـو سياسـي ايډيالوژي تـه ښه ځلا ورکـړه، کـه څه هـم دا کتـاب پـه کـابل کـښې د پښتو ټولنې له خـوا نشـر سـو خـو بيـا هـم حکومتـي سياسـت يـې ټکـانی کـړ. ددې کتـاب نشرېده د ويـښو ځلمـو پـه تـاريخ کـښې يـو خـاص اهميت لري دا کتـاب پـه "١٣٢٦هـ ش (١٩٤٧ع) کـښې چـاپ سـو.

هغه کسان چې د ويـښ ځلميـانو پـه کتـاب کـښې يـې مضمونونـه نشـر سـوه: شـمس الديـن مجـروح، صـلاح الديـن سـلجوقي، نجيـب الله توروپانا، ګل پاچـا الفـت، حبيبـي صـاحب، محمـد قديـر تـره کـی، سيد قاسم رشتيا، مـير غـلام محمـد غبـار، عبدالرحمـن محمـودي، عبدالمجيـد زابلـي، غـلام حسـن صـافي، محمـد هاشـم مجـددي، مـير اصغـر شـعاع، برهان الديـن کشـککي، قيـام الديـن خـادم، صديـق الله رشـتين، محمـد ارسـلان سـليمي، نـېک محمـد پکتيـانی، محمـد شـريف قـاضي، مولانـا عبيـدالله صـافی، عبدالطيـف رشـيد، محمـد ابراهيـم صفـا، عبدالـروف بېنوا، محمد شـاه کاکـا خـېل، ظـهورالله همـدرد، مېرمـن حمـيرا، مېرمـن حميـده، عبدالمنـان دردمنـد، رشـيد لطيفـي، عبـدالله غونـډ مشر. ضيـاء قـاري زاده، يوسـف ائينـه، محمـد ابراهيـم ثـابت، يـار محمـد نظـامي، سـرور جويـا، سـراج الديـن سـعيد، غـلام احمـد فکـور، غـلام حضـرت حسـرت، رابعـه حسـرت، مېرمـن ماګه رحمـاني، محمـد ابراهيـم خليـل، محمد طـاهر خليـل زاده او محمـد حسـين طـالب.

د افشاګرۍ پـه سلسـله کـښې ويـښو ځلمـو يـو بـل پـامفلټ پـه لانـدې توګه چاپ کـړ:

## ۴- د شوربازار حضرت څوک دی؟

دا نشریه په دري او پښتو شایع سوه، خو په افغانستان کښې نه ده چاپ سوې اغلبا دا کار به په هند کښې سر ته رسېدلی وي، قیاس داسې کېږي چې د پامفلټ د چاپېدو په وخت د ویښ ځلمو ځینې نامي غړي په هندوستان کښې وو ښایي د دوی په وسیله دا کار سرته رسېدلی وي. که څه هم ویښ ځلمو ددې خبرې اعتراف نه دی کړی خو عمومي اوازه دغه وه، ځکه چې دا کتاب د ویښ ځلمو په ذریعه خلکو ته توزیع کېده او خلک په افغانستان کښې د ارتجاع په فجایعو خبرېدل. دا کتاب اغلبا په ۱۹۴۸ع (۱۳۲۷هـ ش) کښې په افغانستان کښې شایع سو، چې محتویات یې د سیاسي ارتجاع افشا ګري وه او دا پکښې ښکاره سوی وه چې څرنګه ملي خاین خان او سیاسي خاین حکمران د ناعاقبت اندېشه پیر په ملګری معصوم ملت لوټوي.

دا کتاب په ډېر پټ ډول چاپ او خلکو ته توزیع سو حتی موږ حزبي غړي لا هم ددې کتاب په جزئیاتو نه وو خبر.

په دې ډول ویښو ځلمیانو، افشاګري، توضیح او ملي ضروریات ښکاره کول او په اولس کښې یې ګرانښت ورځ په ورځ ډېرېده. په هره اندازه چې به د حزب ګرانښت په اولس کښې ډېرېدهٔ په هغه اندازه ارتجاعي قوتونه (حاکم، خان، ناپوه اخوندزاده ګان) سره وارخطا کېدل او ددوی ناپاکه اتحاد د ملت په مقابل کښې په تېره بیا د روشنفکرو په مقابل کښې سره نژدې کېده. د وخت حکومت خپله څېره د ویښ ځلمو په نشریاتو کښې په واضح ډول ولیده او ورته ښکاره سوه چې د اولسي ارزوګانو سرته رسېده، زموږ پای ته رسېدل دی. دغه رنګه فکر خانانو او ارتجاع هم وکړ.



په افغانستان کښې د سرداري[1] حکومت د ډېر پخوا څخه لا دا پالیسي راغلې وه چې په اولس کښې یې اولسي ډله او په خلکو کښې یې ملي شخصیت نه پرېښود، داسې حزب او داسې شخصیت چې هغه اولسي کرېټ او د حکمرانی استعداد درلود، په هره توګه چې وای هغه یې له منځه ایسته، نو څرنګه چې ویښ ځلمیانو ورځ په ورځ د ملت په زړو کښې ځای نیوه او ددې امکان پیدا سوی و چې ملي شخصیتونه دې پکښې پیدا سي چې هم اداري چارې پرې پوره وي او هم ملي محبوبیت ولري. دې اندېښنې د سلطنت اعلی مقام وارخطا کړی و او د وخت حکومت ځان مجبور باله چې د ملت په مقابل کښې د دسیسه سازی او توطیه ګری څخه کار واخلي. د سلطنت مقام د ویښ ځلمیانو په مقابل کښې سنګر ونیو، د ارتجاع لمن یې ټینګه کړه او ارتجاع هم د خپل کفر سوټی له تېکي څخه راوایسته هر چېرې چې به روشن ضمیره روشنفکره اولسي ځلمی په لاس ورته. ارتجاع به ورته کافر کړ، خان به ورته راغوځار کړ او حکومت به هغه حلال کړ. مګر سره له دې ویښ ځلمیانو خپل تاریخي رسالت د حاکمه قدرت او ارتجاعي عناصرو په مقابل کښې له لاسه نه دی ورکړی او هر چېرې چې به د ملت په تاوان څه کېدل د هغو افشاګري به د عامه اذهانو د بېداری په خاطر او د هر ډول قرباني ورکولو باوجود، روانه وه.

## د غلام حسن خان صافي محاکمه:

په دې ترڅ کښې یوه بله پېښه داسې وسوه چې د ننګرهار رئیس تنظیمه عبدالاحد خان د یوه نامعلوم وېښته پر سر زیارت جوړ کړ او هغه ته یې "موی مبارک" ووایه. دا واقعه اغلبا په ۱۳۳۰ه ش

---

[1] - محمد زی قوم په اولسي حساب دوه ډوله دی. یو سردار محمد زی، بل محمدزی، سردار محمدزی استثمار کوونکی مضر شخصیت او ملت ته مسوول دی. ځکه د سیاسي واکو او قدرت خاوند دی. خو محمد زی قوم د پښتانه ورور او د پښتانه سره په غم کښې شریک خلک دي. بځرکی

(۱۹۵۱ع) کښې پېښه سوه. پر دې موضوع باندې جناب غلام حسن خان صافي چې د حزب د تکړه غړو څخه و د محمودي صاحب په اخبار "ندای خلق" کښې د "۱۳۳۰جوزا" یو انتقادي مضمون نشر کړ چې مطلب یې داسې و: څرنګه چې ددې ویښته تاریخي ماهیت معلوم نه دی او نه چا دا خبره تصدیق کړې ده چې واقعا دا د مبارک ویښته دی، نو په دې لحاظ د جناب رئیس تنظیمه دا کار چې پر یوه نامعلوم ویښته زیارت جوړوي، د خرافاتو د ترویج پروپاګند دی او قوم د ګمراهۍ وخوا ته سوقوي.

د نداء خلق اخبار دا ګڼه چې د صافي صاحب مضمون پکښې چاپ سو د ملت په روښنفکره پوړ کښې ښه استقبال سوه، دې مضمون د حکومت ارتجاعي بڼه نوره لا روښانه کړه حکومت د ویښ ځلمو پر خلاف لکه څرنګه چې بې همېشه کول، د حضراتو کورنۍ راوپارولـه او د شوربازار حضرت پر صافي صاحب دعوه دایره کړه، څرنګه چې "ګل کوزه او کوزه ګر" دواړه د یوه کوره وو او ویښ ځلمو ته یې سلا یوه وه نو پر صافي صاحب فیصله راووته چې: "صافي صاحب دې تر هغه وخت بندي وي څو پر تندی یې د اصلاح اثار لیده کېږي."

ښاغلي لوستونکي ښه پوهېږي چې داسې یو حکم د محکمې له خوا صادرېدل چې نه یې د بند موده معلومه وي او نه یې د جرم نوعیت! داسې حکم په څه اندازه د خودسرۍ محکمې حکم کېدای سي؟ چې هغه خو نه ملت ته مسوولیت لري او نه وجدان ته او نه د تاریخ پروا لري، نـه د زمانې د علم څخه شرم ورته درېږي.

په هر صورت کله چې ځوانان په موضوع خبر سول دستي یې د ښاغلي غلام محمد غبار (چې د وطن د جمعیت" یو په زړه ډک شخصیت و) کره غونډه وکړه او په کابل کښې یې د مظاهرې کولو ترتیبات ونیول، فیصله داسې وسوه چې د استقلال د لیسې څخه به مظاهره شروع کېږي.



په دې سهار د استقلال لیسې ته ډلې ډلې ځوانان را شروع سول او د افغانستان په تاریخ کښې د لومړي ځل له پاره د سیاسي غرض په خاطر جلوس او مظاهره جوړه سوه چې دا هم د ویښ ځلمیانو د ابتکاراتو څخه ګڼل کېږي. په زرو خلک راټول سول، مظاهرې سر وصورت اختیار کړ، خو په دې مظاهره چیانو کښې د شوربازار د حضراتو د کورنۍ ځینې ځوانان هم راغلي وو، ددې له پاره نه چې د ملت د غم سره غم شریکي وکړي بلکه ددې له پاره راغلي وو چې اخلالګري وکړي.

پر دې موقع چې مظاهره پیل کېږي رحیم محمودي ښاغلي فیض محمد انګار ته وویل چې حضرات باید د مظاهرې څخه ووځي، ځکه خطر دی چې مظاهره بې قابو نه سي او حضرات ژوبل نه سي. د انګار صاحب د رحیمي صاحب مشوره خوښه سوه او پخپله ورغی حضراتو ته یې وویل او د موضوع څخه یې خبر کړل، خو هغو ونه منله. مظاهره شروع سوه جناب عبدالعزیز خاورې چې له غښتلو ځلمیانو څخه و د مطلب په ارتباط یې بیان شروع کړ، د وخت مظالم او فجایع یې بیانول، غونډه په جوش او خروش کښې وه چې د حضراتو یو تن د صالح محمد په نامه پر یوه ډبره ودرېده، د غونډې او مظاهرې پر ضد یې شعارونه ورکول پیل کړل نو د اجتماع له خوا حمله پرې وسوه، د مخه تر هغه چې څه پرې وسي انګار صاحب وررسېد او پرې وغوړېد، تر یو څه معمولي جراحت پرته هغه ته یې نجات ورکړ. مظاهرې دوام وکړ کله چې مظاهره د باغ عمومي پله ته راورسېده د حضراتو نورو غړو پر مظاهره کوونکو تېری کاوه. پولیسو مداخله وکړه او حضرات یې د مظاهرې له قهره پټ کړل. مظاهرې لا دوام درلود چې پولیسو له یوې خوا او بلې خوا خلک رانیول او بندیخانې ته یې لېږل چې په دې ترڅ کښې یې ښاغلی انګار صاحب هم ونیو او بندیخانې ته یې بوته.

کله چې یې انګار صاحب بندیخانې ته ورووست هلته لا د مخه ښاغلي رحیم محمودي او عبدالعزیز خاورې راوستل سوي وو، دوی دلته ډېره موده تېره کړه خو نه پوښتنه ځنې کېده او نه تحقیقات. لس دوولس ورځې تېرې سوې، وروسته د احتجاج په توګه ښاغلي انګار صاحب د پولیسو رسمي مقام ته داسې ولیکل چې: داعریضه نه ده ځکه:

*اظهار عجز نزد ستم پیشه ابلهی است*
*اشک کباب باعث طغیان آتش است*

بلکه اعتراض نامه ده ددې لیک مطلب دا و چې:
"قربان تر داسې دیموکراسۍ سم چې دا دی اوس زموږ لس ورځې تېرېږي نه تحقیق سته نه پوښتنه".

په دې پلا کښې د انګار صاحب د بندي کېدو نېټه د سرطان شلم ۱۳۳۰ (د جولای یوولسم ۱۹۵۱ع) وه، دوی په دې سلسله کښې شپږ میاشتې بند وګاله خو جناب عبدالعزیز خاورې د بند څخه ژر خلاص سو او رحیم محمودي نسبتا څه زیات بند تر خاورې صاحب ګاللی دی. د انګار صاحب په حصه کښې حکومت ډېر کوښښ وکړ چې ضمانت ځنې واخلي خو انګار صاحب کوړټ ورته انکاري و، د کابل والي څو پلا د ضمانت یادونه ورته کړې وه خو د دوی ځواب منفي و.

جناب غلام حسن خان صافي دوه کاله بند وګاله بیا وروسته راخوشې سو. دی د ۱۳۳۰ څخه تر ۱۳۳۲ پورې بندي و.

د صافي صاحب د بندي کېدو په دې مظاهرو کښې د کابل د ویښ ځلمیانو رئیسه هیئت برخه نه وه اخیستې. شاید دا به مصلحت و.



## د محمد ابراهیم خواخوږي بندي کېده:

کله چې حکومتي ادارو تصمیم ونیوه، چې منور پوړ د هېواد څخه په یوه او بل نامه له منځه یوسي. نو یې په کندهار کښې پر خواخوږي صاحب حمله وکړه او دی یې په نامعلوم میعاد بندي کړ که څه هم دده محاکمه نه ده سوې او جرم یې واضح نه وُ. خو سره له دې د لوړو مامورینو له قوله ده "د ځوانانو ذهنیتونه خرابول" ښاغلي لوستونکي ښه پوهېږي چې دا ډول الزام چې پر کوم چا واردېږي مفهوم یې دا وي چې دا سړی د ارتجاع او استثمار کوونکو پر ضد ملي اذهان بیداروي.

په دې وخت کښې چې خواخوږي صاحب بندي کېده، دوی د معلمۍ دنده درلوده، د دوی بند ښې ډېرې میاشتې وُ کله چې له بنده راخلاص سو د معلمۍ دنده یې هم له لاسه تللې وه، چې په دې لږ کښې یې ښه کافي اقتصادي تکلیفونه وګالل.

## حزبي اختلاف:

له بلې خوا پخپله په ویښو ځلمو کښې هم ځینې ناوړه خبرې پېښې وې، د کندهار مشرانو د کابل سره ګیلې او مانې شروع کړې وې. پخپله د کندهار د ځلمو ډېر محفلونه پټ ساتل کېدل، یعنې د ځلمیانو تر منځ هم پټ پټانې شروع سوی وُ، د حزب ځوان پوړ د بېل فرکسیون د جوړېدو په حال کښې وُ. ما آغا محمد خان کرزي او ریدي دا تصمیم نیولی وُ چې په حزب کښې دننه بېل فرکسیون جوړ کړو، چې حزبي مسایل ټوله واضح وي. د محمد رسول خان پښتون او حاجي خدای دوست کړه په حزب کښې د ډېرو غړو د انتقاد وړ وو. ښایي دغه وجه وه چې دوی حزبي کاروبار پټ ساته.

د کندهار مناسبات د مرکز یعنې کابل سره هم چندان ښه نه وو، تر دې حده پورې چې کندهار یوه پلاخو بیخي د حزبه جلا کېده او ,, د حزب د نوي نوم تر ټاکلو پورې خبره رسېدلې وه.

دا دی زه هغه لیک عیناً په دې دلیل نشروم، چې محترم لوستونکي د حزب ضعیف اړخ هم مطالعه کړی او په دې موضوع کښې تاریخي قضاوت د اشتباه سره مخامخ نه سي.

لیک د کندهار د جمعیت لخوا د کابل عالي شورا ته داسې دی:

د عالي شورا محترمو ملګرو ته دې سلام ورسېږي!

له هغه وخته څخه چې زموږ او ستاسې تحریک شروع سوی دی بیا تر اوسه پورې که څه هم دا تحریک د یوه پیاوړي عنصر یعنې د پښتون قوم له خوا په یو متحد لین او د یو متحد هدف خوا ته روان وُ خو سره له دغه هم متأسفانه د توقع خلاف ناکام دی. نو اوس باید غور وکړو او د ناکامی علل یې ومومو. څرنګه چې دا د هر فعالیت سره لازمه ده، چې تر هر اقدام وروسته باید سړی نتیجې ته ملتفت سي، نو دا لاندې شیان زموږ په نظر علل راغلي دي:

۱. د قوم جهالت او ناداني، نوو چارو او نوو تلقیناتو ته د محیط نا برابري.

۲. د ملګرو په منځ کښې سوؤظن او بدبیني.

۳. لږ عمل او بې ځایه ږغېدل تر احساساتو او جذباتو او احیاناً د نورو تر تاثیر لاندې راتلل.

۴. آفاقي او محیطي موانع.

۵. تر ټولو مهمه دا چې د دوو کالو په موده کښې باید زموږ د کابل ملګرو د حکومت او زموږ تر منځ ښه نمایندګي کړې او په دې کوښښ کښې وای چې خپل مشروع هدف او غایه په عملي ډول حکومت او نورو ته ور وښیي او د حکومت اعتماد حاصل کړي له بده مرغه پرعکس په دغه لار کښې زموږ لخوا ښه نمایندګي نه ده سوې او نه په قوم کښې ددغې منبع لخوا ښه عکس العمل تزریق سوی دی. بلکه کلونه تېر سول، ددې پر ځای چې دغه جمعیت خپل حیثیت تثبیت کړي او عملاً زموږ اطمینان حاصل کړي او موږ له دوی څخه د کار توقع وکړو، متأسفانه چې د دوی په منځ کښې لا



اقل دا هم نه سوه تثبیت چې د شورا دنده څه ده؟ او دغه خلک چې په مرکز کښې اوسي باید څه وکړي؟ او یا یې څه کړي وای؟

څرنګه چې په دغو ورځو کښې د کابل د هغه مکتوب په اثر چې د ښاغلي بېنوا په قلم لیکل سوی وُ او غوښتي یې وُ چې د کلني مجلس له پاره خپل یو معتمد نماینده راولېږئ نو ښاغلی عبدالهادي خان سره د ټول صلاحیت هغه مجلس ته درولېږل سو تاسو ته به ښه ښکاره وي چې څه مو ورسره وکړل؟ او ولې زموږ یو پیاوړی نماینده بېله کوم کاره بېرته کندهار ته راغی؟ آیا دا موضوع د عفوې وړ ده؟

نو دا لاندې شیان چې د کندهار په عمومي مجلس کښې د سنبلې په ۲۸مه نېټه (په ۱۳۳۰ کښې) تصویب سوه، درته لیکو

۱. د حزب نوم "اخوت" تثبیت سو. چې دا جمعیت به په دغه نامه د خپلې هغې اساسنامې سره سم چې په دې مجلس کښې تصویب سوه کار کوي او غالباً به د ویښ ځلمي مرام په لږ ریات تفصیل سره پر مخ بیایي.

۲. "اخوت" په ټولو هغه تصمیمونو کښې چې د قوم په نفع او ګټه تمامېږي جداً د حکومت ملګرتیا کوي او عجالتاً له خپلې خوا څخه ښاغلی فیض محمد خان او ښاغلی محمددین خان ژواک او ښاغلی نور محمد خان وکیل او ښاغلی غلام دستګیر خان نمایندګان ټاکي، چې د ورکړل سوې لایحې او اختیاراتو سره سم به کار کوي.

۳. تر هغه وخته چې په هېواد کښې احزابو په قانوني ډول سره رسمیت او اجازه نه وي موندلې دا جمعیت به هم هېڅکله ونه غواړي چې عرض اندام وکړي. دا فقط هغه پخوانی مفکوره وه چې د ویښ ځلمي په نامه بې اثره پاتې سوې وه، اخوت غواړي چې دا اقتداء او د قدامت حق ځان ته ثابت کړي او نورو ورونو ته دوستانه عرض وکړي چې دا نوم او دا اساسنامه دوی هم قبوله کړي او که چېرې دوی بله لار واخلي، بیا هم اخوت ځان د دوی

څخه جلا نه بولي او د هېواد د ټولو احزابو خصوصاً د خپلو پخوانيو ملګرو سره په کلکه د يووالي لاس ورکوي او تر ځينو خاصو شرايطو لاندې د هغو سره اتحاد قايمولای سي.

"والسلام"

۲۸ سنبله ۱۳۳۰

خواخوږي، محمد انور اڅکزی، محمد آصف، غلام جيلانبـي، غلام دستګير او دوولس نور داسې لاسليکونه چې نه ويل کېږي.[1]

زه ددې ليک په محتوياتو هېڅ نه وم خبر خو يوه ورځ په بنديخانه کښې انګار صاحب د موضوع تفصيل راکړ او ما د موضوع يادښت واخيست کله چې د بنديخانې څخه راخلاص سولو، نو مې دا موضوع د هادي صاحب سره مطرح کړه. دوی هم دا خبره تائيد او اصل ليک يې راښکاره کړ.

پخوا تر دې چې موږ بند ته ولاړ سو د اخوت په نامه به شاوخوا خبرې کېدلې او محمد رسول خان پښتون ددې نظريې ډېر طرفدار وُ چې همېشه بې تحريکات کول، زه د پښتون صاحب پر حرکاتو او تحريکاتو مشتبه وم او دی هم راباندې پوهېده چې زې خارنه کوم، په دغه اساس اکثره حزبي مسئلې بې له ما څخه پټې ساتلې، له ما څخه څهٔ؟ د ډېرو کسانو څخه به پټې وې، چې ددې پټ پټاني په وجه په جمعيت کښې د کينې لاس اړخ پيدا سو، که دې سلسلې دوام پيدا کړی وای نو يقيناً به جمعيت پر ځوان او زاړه سره ويشل سوی وای.

سره له دې چې په حزبي کدر کښې دننه اختلاف پيدا سوی وُ خو دباندې ته دا اختلاف نه وُ واضح، ځلميانو خپلو عادي کارو ته دوام ورکړی وُ. غونډې به په خپل عادي ډول کېدې، چندې له مقرراتو سره سمې ټولېدې او اصلاحي پروګرامونه تطبيقېدل.

۱ - د پورته ليک اصل د عبدالهادي خان په آرشيف کښې موجود دی.



## ملي مکتب:

د ويښو ځلمو اخيرنۍ پروژه چې "ځواني مرګ" پاتې سوه، هغه د يوه ملي مکتب جوړېدل وو، ددې مکتب د معلمۍ دندې په رضا کارانه توګه ځلمو قبولې کړې وې، هغو کسانو چې دامعلمي يې قبوله کړې وه عبارت وو له ارواښاد عبدالخالق واسعي صاحب، خواخوږي صاحب، آغا محمد کرزي، محمد حسين ريدي او محمد علم بځرکي. دې کسانو د ورځې په يوه- يوه ساعت کار کولو رضايت ښکاره کړی وُ.

ددې مکتب د نوري مالي پنګې د راټولېدو له پاره فيصله سوې وه چې د ځلمو څخه علاوه، د نورو سرمايه دارو ملي شخصيتو څخه هم مرسته راټوله سي. چې په وروسته- وروسته کښې به بيا د مکتب وداني او نور لوازمات جوړېږي.

دا خبره دلته د يادونې وړ ده چې په افغانستان کښې هېچا ته دا حق نشته چې هغه دې د خپلې خوښې سره سم خپلو زامنو او کشرانو ته تعليم ورکړي او يا دې کوم مکتب جوړ کړي. د ويښو ځلميانو د يوه ملي مکتب جوړېدل د حکومت د مقرراتو څخه تېری وُ. که څه هم دا مکتب جوړ نه سو او نه پر دې موضوع د ځلميانو او حکومت ټکر راغی، خو که ځلميان پاتې سوي وای يقيناً دا مسئله د اختلاف وړ وه.

[۴]

# د حکومت مداخله

کله چې د ویښو ځلمو تحریک په ټول افغانستان کښې ریښې وځغلولې او د خپل وخت د حکومت دسیسې، چل او چلبازۍ سیاسي او اجتماعي درواغ یې رسوا کړل او ددې تحریک وړانګې مخ په پراخېدو سوې. نو حکومت تصمیم ونیو چې د هېواد دا "سیاسي بچي" د نمو او ودې په لومړنیو ګړیو کښې خپه او له منځه یوسي. دا وخت چې حکومت ځلمو ته لاس اچاوه د پارلماني انتخاباتو وخت دی، په خوله او تبلیغاتي وسایلو خو حکومت د بشپړې دیموکراسۍ داعي دی، خو عملاً د ملت دیموکراتیکو کدرو ته نه ؤ قایل او نې غوښتل چې حقیقي او حقوقي ملي سیاسي شخصیتونه دې پارلمان ته ورسي. نو یې د ملي تحریکاتو مخ نیوی



شروع کړ. دغه رنګه د پښتونستان موضوع د حکومت په مخ کښې یو لوی خنډ ؤ، حکومت نه غوښتل چې په دومره آب و تاب دې دا موضوع لکه د افغانستان ملت چې غوښتل تعقیب سي، په تېره بیا د افغانستان د سیاسي تحریکو چې کوم خواهش ؤ. د پښتونستان موضوع له مخه ذکر سوې ده چې د افغان حکومت مطلب د پښتونستان جوړېدل نه وو بلکه مطلب یې د روس خوشاله کېدل، د پاکستان د کمزورۍ وسایل تهیه کول او د افغان اولس مخ د اصلي او واقعي افغاني مسایلو څخه منحرف کول وو، په هر صورت کله چې ددې شخصي حکومت غرض او مقصد د سیاسي دیموکراسۍ په هکله اولس ته باندې ښکاره سو. نو حکومت تصمیم ونیوی چې سیاسي ډلې او اجتماعي شخصیتونه له منځه یوسي.

ښه! په هر صورت افغاني اولس ددې بهیر په ناروا ؤ تر یوې اندازې اموخته ؤ او دې نه ابلېدونکی اولس تقریباً یونیم سل کاله دا د لستوني ماران فقط په دغه نامه چې "د خپل وطن سرداران دي، د بېګانه تر غلامۍ خوښه دي، څوک خو د غلامي پېغور نه راکوي" دا کوړ بار قبول کړی ؤ. مګر دوی یعنی سردارانو افغانستان خپل شخصي جائیداد باله او د افغانستان اولس یې خپل مریان. د همدغه روحیې په تقلید د ۱۳۲۹ هـ ش (۱۹۵۰ع) په شاوخوا کښې حکومت د ملت په مقابل کښې په دسیسو جوړولو پیل وکړ، دسیسې جوړول، پروپاګنډه کول او خطا ایستل د سیاست پر غولي باندې څه عجب نه ښکاره کېږي. ځکه نن ورځ د نړۍ ستر دولتونه هم لا په دغه کار لګیا دي (البته د متخاصمو قدرتو تر منځ).

مګر د افغانستان تش په نامه دیموکراتیک حکومت یو داسې حکومت ؤ چې د خپل خصم یعنی د پاکستان په ملګری یې خپل ملت ته دسیسې جوړولې او خپل دوست یې دده په اصطلاح په دښمن واهه، داسې فاجعه په تاریخ کښې ډېره لږ لیدل کېږي. محترمو لوستونکو دقت وکړئ چې دا فاجعې څرنګه وې:

## دری تاریخي فاجعې:

کله چې حکومت تصمیم ونیو چې په هېواد کښې سیاسي غورځنګونه او سیاسي شخصیتونه له منځه یوسي، نو یې په داسې دسیسو لاس پورې کړ چې هغه په تاریخ کښې خپل ساری نه لري.

په دې وخت کښې د سلطنتي کورنۍ تر ټولو لوی کاسه څټی، عبدالغني خان "قلعه بیګي" د کندهار نایت الحکومه ؤ، دې سړي ددغه کورنۍ له پاره هر چېرې چې مقرر سوی دی د اولس په وینو لاسونه رنګ کړي دي او د دسیسه سازۍ امتحان یې په ښه توګه ورکړی دی، چې دادي زې دلته فقط څو دسیسې راوړم:

۱- یوه ورځ فضل محمد خان اڅکزي چې په هغه وخت کښې د قبایلو مدیر ؤ، د آغا محمد کرزي سره په مجلس کښې داسې یو اعتراف وکړ:

آغا محمد خان کرزی وایي: یوه ورځ فضل محمد خان خورا خوابدی ناست ؤ، ما ورته وویل چې مدیر صاحب نن یو څه خواشینی ښکاره کېږې، خیریت خو دی؟ ده وویل هو خیریت دی، خو قصه داسې ده، چې برایی شپه زه او اکبر "پرواني"[1] نایب الحکومه عبدالغني خان ور وغوښتلو او هدایت یې راکړ چې تاسو یو داسې راپور جوړ کړئ چې برایي شپه موږ (فضل محمد خان او پرواني) یو چېرې مېلمانه وو تقریباً د شپې پر دوو یا درو بجو کله چې په کندهار کښې د پاکستان له کونسلګرۍ څخه راتېرېدلو ددې کونسلګرۍ څخه حاجي محمد انور خان اڅکزی او مولوي بهرام خان اڅکزی راووتل او موږ په خپلو سترګو ولیدل. فضل محمد خان اضافه کړه چې موږ د نائب الحکومه صاحب په هدایت هم دغسې وکړه او بیا مو راپور مرکز یعنی کابل ته مخابره کړ، چې په دې سره ډېر سخت خواشینی یم او وجدان ته خجالت کاږم.

[1] - اکبر پروانی په دغو شپو کښې په کوټه کښې افغان کونسل ؤ.



۲- بله دسیسه د جناب غلام جیلاني خان په قول راوړم: دوی وفرمایل چې: ضابط عبدالستار خان چې د نائب الحکومه عبدالغني خان د خاصو خلکو څخه ؤ. پر دغو شپو کښې چې موږ بندیانیدلو هره ورځ راته او راته ویل به یې: چې راځئ ریګ[1] ته فراره سو، ضابط ستار ویل زه خبر یم چې هلته پاکستان قواوې رالېږلي دي. د هغو سره به یو ځای سو، کندهار څه ټول افغانستان مو نسوار[2] نه دی. د آزوغ او د توپچي نفرو دې زه ضمانت کوم.

۳- بله دسیسه چې نائب الحکومه د پاکستان په مرسته جوړه کړې وه، هغه پخپله زما په حق کښې وه. هغه داسې:

په دغو شپو کښې چې زه او ملګري بندیانېږو، زه د کندهار د ښار جنوبي خوا ته په یوه کلي کښې چې تیموریان نومېده اوسېدلم خو په هفته کښې به یوه پلا ښار ته راتلم هغه هم د جمعې په شپه. په هم دغه سلسله کښې یوه ورځ زه د ښار خواته راروان وم، چې د پاکستان د کونسلخانې یو نفر چې عبدالعزیز نومېده او ما دا سړی د پخوا څخه چې دی په چمن ښار کښې ؤ پېژانده. په لار کښې زما په انتظار ولاړ ؤ، زه چې یې ولیدم خورا خوشحاله سو او راته وې ویل:

د پاکستان کونسل خورا ډېر سلامونه ویل او دا پیغام یې راکړ چې:

د پاکستان حکومت ستا ورتګ ته ښه راغلی وایي. هلته په کوټه کښې ستا له پاره انتظام سوی دی. بنګله او نور لوازمات ټوله درته تهیه سوي دي، کافي معاش درته په نظر کښې دی، حبیب صاحب هم ستا انتظار باسي او هم د پاکستان حکومت تا ته وعده درکوي چې د افغانستان د حکومت پر خلاف چې هر ډول تحریک چلول

[1] - د کندهار په جنوبي خوا کښې لوی ریګستان دی چې سرحدونه یې ایران او پاکستان راګرځوي.

[2] - "د نسوار نه دی" دا یوه اصطلاح وه یعنی بیخي آسانه کار کول لکه نسوار کول چې آسانه دي.

وغواړي د چلولو درته اجازه ده او هم کونسل صاحب وفرمایل چې تر پاکستان د رسېدو انتظام دې هم موږ کوو او هم يې دا خبره راته وکړه چې که ته داسې ونه کړې، نو د معلوماتو سره سم دلته به بندي سې.

خو په هر صورت خبرې يې ډېرې راته وکړې مګر ما کورټ ځواب ورکړ، چنانچه هغه د عبدالعزيز د قول مطابق يوه هفته لا نه وه تېره سوې چې پوليس راته ودرېدل او زندان ته يې ورکش کړم.

اوس نو که دا درې سره قصې او دسيسې تحليل سي. له ورايه ښکاره ده چې د عبدالغني خان قلعه بېګي او د پاکستان د کونسلګرۍ چې په کندهار کښې وه لاس سره يو ؤ او يا په بله توګه د افغانستان حکومت او پاکستان د افغاني اولس په مقابل کښې اتحاد سره کړی ؤ.

اندازه ولګوئ، په دنيا کښې څوک د داسې حکومت نظير وړاندې کولای سي، چې د خپل اولس پر ضد د متخاصم دولت سره اتحاد وکړي او له منځه يې يوسي؟

محترمو لوستونکو! دا دی د پښتانه بهير هغه تاجداران چې يو نيم سل کاله يې رابانديې پاچهي کړې ده.

ارواښاد محمودي صاحب به ويل: چې په نړۍ کښې ځينې خلک کرک بازان وي، ځينې سګبازان، ځينې کوتر بازان، خو د کابل سرداران معلومېږي چې بنديبازان دي او زه به دا جمله ورباندې اضافه کړم، چې دسيسه بازان هم دي.

اوس به نو راسو زموږ د بنديګرۍ دورې ته.

## د کندهار څخه کابل ته بنديګري:

د افغانستان په سياسي تاريخ کې د ۱۳۳۱د وري يوولسمه (د ۱۹۵۲ د مارچ ۳۱) ډېر لوی اهميت لري:



ددې ورځې په سهار چې يو خاموشه ځوږ د کندهار پر ټوله ښاري فضا باندې غوړېدلی و، هېڅوک نه پوهېدل چې دا څه دئ؟

لمر له شرق څخه غرب ته په حرکت سو، د صبحدم شبنم د لمر د ګرمۍ تاب رانه ووړ او ځان يې پټ کړ.

لمر راپورته سو تودوخې زياته سوه، ګلانو ددې ورځې د تودوخې توان ونه درلود او په حسرت يې خپلې پاڼې پر ځانو را وغوړولې.

د پسرلي په دې شاعرانه فضا کښې چې هر چېرې د ګل و مل مشغولا وه، بلبلانو د شاهين له وېرې په ځوزانو کښې ځانونه پټ کړه، خو! لمر بيا هم راپورته کېږي او تب و تاب يې زياتېږي، په ښار کښې د خلکو ځوږ ازانګه پيدا کوي خو هېڅوک نه پوهېږي چې دا ازانګه د څه شي ده؟

خلک هرې خوا ته ګوري، چې د قصې بنګه (بنسټ) پيدا کړي.

څو د ورځې پر يوولسو بجو د ښار د څلور سرو بازارو پر بامو باندې د جلادې کورنۍ عسکر راښکاره سول.

هر څوک پرې پوه سول چې د احمد شاه بابا او ميرويس نيکه پر کور نسکوره ده، ټولو په کاره مغزي خپلو- خپلو نيکه ګانو ته وکتل څو هغوی د حال په ژبه ورته وويل چې:

بی سبب درین جهان، کاخ ستم، بر پا نشد
بی سبب در جور، دست جور کیشان وا نشد
تا ستمکش، زیر بار غارت و یغما نرفت
کار دزدان ستمگر، غارت و یغما نشد
مشتزن را مشتخور پر ورد، زیرا در جهان
مشتزن پیدا نه شد، تا مشتخور پیدا نشد[1]

۱ - دا اشعار د ابوالقاسم "حالت" دی.

دې نداء ددې سیمې د ځوانانو زړونه ورتکور کړه، د طبیعت په اسرارو پوه سول او د یوې نه سترې کېدونکې مبارزې بهیر یې پیل کړ.

## قصه داسې وه:

د ۱۳۳۱ کال د حمل پر یوولسمه د کندهار د ویښ ځلمیانو مدیره هیئت لکه جناب محمد انور خان اڅکزی، عبدالهادي خان هادي، غلام جیلانیني خان مدیر، حضرت صاحب محمد یوسف آغا، مولوي بهرام خان اڅکزی او قاضي عبدالصمد خان ټول په ډله ییزه توګه د نائب الحکومه عبدالغني خان کور ته ور وغوښتل سوه او له هغه ځایه څخه په یوه ناکاره لارۍ کښې د کابل پر لور بندیان ولېږل سول.

د حمل پر دیارلسم جناب فیض محمد خان انګار او حاجي محمد حسین خان ګرفتار او د کندهار په عسکري فرقه کښې بندیان سول.

د حمل پر ۲۶مه زه له کور څخه د پولیسو په ذریعه راوایستل سوم او د انګار صاحب او حاجي محمد حسین خان سره یو ځای د کندهار په عسکري فرقه کښې بندي کړ سوم.

دغه رنګه محمد رسول خان پښتون په بغلان کښې بندي سو او حاجي خدایدوست په کندهار کښې ګرفتار او کابل ته ولېږل سو او هم د ثور په نولسم د وطن او نداء خلق د جمعیتو غړي په کابل کښې ګرفتار کړل سول، چې په دې توګه په ټول افغانستان کښې سیاسي اختناق راغی.

## د کابل د بندیانو حال:

اوس به نو د بندیخانو د ژوند څه تذکر سره وکړو.

کله چې پر نوموړې نېټه د ویښ ځلمیانو لومړی ګروپ د بهاوالدین پولیس په وسیله د عبدالغني خان نائب الحکومه سراچې



ته وروستل سو، تر دې وخت لا د ویښ ځلمیانو د مرکزي نمیې غړي په دې نه وُ خبر چې دوی د بندي کېدو له پاره راوستل سوي دي ځکه نوموړي بهاؤالدین دوی ته ویلي وو چې نائب الحکومه صاحب یوه مشوره درسره کوي. کله چې دوی هلته ورغله د توقع خلاف اوضاع بل شانته ښکاره کېده. یوه ګړۍ وروسته نائب الحکومه د کور څخه راووت، په مجرد دده د راوتلو عسکر پر ځلمیانو راوګرځېدل او په ګېره کښې یې راوستل.

پر دې موقع عبدالغني خان نائب الحکومه ځلمیان مخاطب کړل ورته وې ویل: تاسې چې د پاکستان مخبران او ایجنټان نه یاستئ، نو څرنګه کولای سئ چې په کندهار کښې مکتب جوړ کړئ، تاسو ته دا سرمایه له کومه راځي معلومداره خبره ده چې دا سرمایه تاسې ته د پاکستان لخوا راځي. په دې وخت کښې د نائب الحکومه مخاطب حاجي محمد انور خان اڅکزی وُ.

جناب محمد انور خان کاکا په ځواب کښې ورته وویل:

نائب الحکومه صاحب تاسې اشتباه کړې ده، موږ د پاکستان څخه نه پیسې اخیستې دي او نه یې اخلو او که فرضاً څوک په رښتیا هم د پاکستان څخه پیسې راوړي او دلې یې په افغانستان کښې د معارف پر چارو خرڅې کړي نو آیا دا به تر هغه چا نه وي ښه چې د خارج څخه ډالر د معارف په پلمه واخلي خو د بانکو په شخصي حسابو کښې یې جمع کړي.

ددې ځواب په اورېدو نایب الحکومه عسکرو ته امر وکړ چې په موټر کښې یې واچوئ او برابرېې کابل ته ورسوئ. موټر راغی ودرېده خو یوه چکله او ناکاره لارۍ وه، په دې کښې یې ټول ذکر سوي کسان واچول او مخ پر کابل یې موټر رهي کړ. د دوی سره سفري لوازمات بېخي هیڅ نه وو، موسم هم د لومړي پسرلي وُ، یخ او ګرمي سره ګډه وه.

موټر د کندهار څخه حرکت وکړ خو په "ښار صفا" کښې خراب سو، دې د قوم سپین ږیرو ځلمیانو دلته د خښتو په یوه کنډواله کښې شپه سهار کړه، په دې وخت کښې یو بل موټر راغی چې موټروان یې سید محمد عمر نومېده او د ویښو ځلمو د جمعیت غړی ؤ دی په اشاره پوه کړه سو چې ځان ناګومانه واچوي، موټروان پوه سو او ځان یې ناګومانه واچاوه، عسکرو د ځلمیانو بندیان د سید محمد عمر موټر ته ورواچول. د بندیانو اوله شپه د "ښار صفا" په کنډوالو کښې تېره سوه، دویمه شپه یې "مقر" ته ورسوله. دریمه شپه په "چوک ارغندي" کښې وه او څلورمه شپه یې کابل ته نږدې په یوه شېله کښې تېره کړه او پینځمه شپه یې په کابل کښې د صدارت ومانۍ ته ورسوله.

دا چې په دوی یې ولې دومره شپې په لاره کښې وکړې وجه یې دا وه چې د خلکو څخه یې ورک کړي، کله چې دوی د صدارت مانۍ ته ور ورسېدل، د صدارت تر څنګه یو سرای ؤ په هغه کښې یې دوی تم کړل. په دې ځای کښې علاوه پر دوی هغه موټروان (سید محمد عمر) او د هغه کلینر هم ورسره په موقتي ډول بندي وساتل سوه چې د بندیخانې دباندې خلک وربانډې خبر نه سي. خو سره له دې ټوله سرکاري احتیاطه کلینر د شپې د ولې تر موری وتلی ؤ او دباندې یې خلک د موضوع څخه خبر کړل.

سهار وختي تر ټولو لومړی صوفي ولي محمد خان چې یو په زړه ډک ملګری ؤ بندیانو ته یې ځان وروورساوه او د دوی ضروري لوازمات یې ورتهیه کړل. تر ده وروسته جناب محمد نور خان چې هم د غښتلو ملګرو څخه ؤ ځان ور ورساوه او د دوی خبر یې واخیست.

دلته دا خبره د ذکر وړ بولم چې د استبداد او د ظلم و ستم په دغو کړیو کښې، کوم خلک چې د ویښو ځلمو د بندیانو سره تماس نیسي او یا د هغو سره تعلق ښکاره کوي دا څه معمولي خبره نه وه،



د هغه وخت په عینکو کښې که دې تعلق ته وکتل سي، واقعا دا د سر سودا وه، د کاروبار ختمېده وو او د ځوانۍ تباه کېده. خو بیا هم سرتېرو ځلمو، د هېڅ ډول تهدید پروا نه درلوده او خپل مشران یې پالل.

محمد نور خان په همدغه ګناه د خپلې رسمي دندې څخه وایستل سو، چې دا د ده په ژوند کښې نه هېرېدونکې صدمه کېدای سي، ټول رسمي حقوق یې پایمال سول چا یې د کور او عیال پوښتنه ونه کړه ځکه بابا جان سرباور دی تهدید کړی و، په هر صورت په دې ماښام له دې ځایه څخه جناب عبدالهادي خان، حضرت محمد یوسف، مدیر صاحب جیلاني خان، قاضي عبدالصمد خان اول سیاسي توقیف ته بوتلل سوه او محمد انور خان اڅکزی، مولوي بهرام خان اڅکزی د شاه ولي خان زاړه کور ته چې د کنډوالو حیثیت یې درلود، وروستل سول.

عبدالهادي خان دوی چې نوي سیاسي توقیف ته بوتلل سول، ټول یو ځای په یوه کوټه کښې کوټه قلفي سوه. تر یو څو ورځې کوټه قلفي وروسته دا ډله د دهمزنګ محبس ته ور انتقال سوه کله چې دوی محبس ته ورتله دا د شپې مهال وو او په ټول محبس کښې یې برقونه وژلي وو، تکه توره شپه وه، ځکه چې څوک د موضوع څخه خبر نه سي خو سربېره د دغو ټولو احتیاطو، په دې سهار د ښار خلک خبر سوي وو او ډلې ډلې خلک یې د لیدو له پاره ورغله.

کله چې دوی یې محبس ته وروستل تقریبا د شپې یوولس بجې وې او د محبس آمر نثار احمد خان ته یې ورتسلیم کړل.

نثار احمد خان دوی ټول تر قرآن شریف تېر کړل، په محبس کښې کله چې کوم بندي تر قران شریف باسي معنی یې دا وي چې ګواکې دا معدوم دی یعنې اعدام کېدونکی دی، په دې توګه دوی ته عصبي او روحي شکنجې ورکول شروع سول.

په بندیخانه کښې یې غذایي وضعیت بد نه وُ، خرڅ یې حکومت ورتادیه کاوه، په بندیخانه کښې چې نسبتاً زیات کله شخه ګرزېده هغه عبدالهادي خان هادي وُ خو نورو ملګرو په مسایلو کښې مصلحت ته ترجیح ورکوله. هغه داسې:

د بند په څلورمه ورځ د کابل والي عبدالحکیم خان محبس ته ورغی، بندیان ټول په تعظیم ورته ولاړ سول، خو یواځې هادي صاحب د هغه جناب درناوی ونه کړ او ورته ولاړ نه سو.

والي بیان شروع کړ چې "زه هم د غازي امان الله خان په زمانه کښې د آزادي خواهانو څخه وم او د هغوی سره مې همکاري درلوده، اوس چې تاسو بندیان سوي یاست زما په خیال څه ژرنده پڅه او څه غنم لانده دي، زما همدردي ستاسو سره ده ، تاسو باید پر ما یقین ولرئ او له ما څخه باید خوابدي نه سئ!"

هادي صاحب په خپل نوبت والي ته په ځواب کښې وویل:

"والي صاحب مور اوس بندیان یو او تاسو زمور بندیوانان یاستئ. زه تاسي ښه پېژنم خو پښتانه وایي "خوار خدای کړي سپي چا کړي؟" مور تاسي بندیان کړي یو د نور تملق څه ضرورت نه دی پاتې".

والي زیاته کړه چې تاسو خپل ضروریات راته وښیاست؟ بل چا څه ځنې ونه غوښتل خو هادي صاحب د کتاب غوښتنه ځنې وکړه. کله چې والي ولاړ، په دې سهار بندیانو ته یوه- یوه جوړه کالي او یوه- یوه بستره تهیه سوه او عبدالهادي خان ته یو کتاب د "نور الانوار" او بل کتاب د "سبع الشداد" د ریاضي ورکړل سول. په محبس کښې کوښښ کېده: کندهاري ویښ ځلمیان چې بندیان وو د خلکو څخه پټ وساتي او تر محبس دباندې څوک پرې خبر نه سي چې دوی دلته دي. خو یو سهار داسې پېښه سوه چې د محبس تر شا عسکرو قواعد کاوه، چې یوه بندي د مبرز (ټټی) څخه ور ږغ کړل چې: اُو عسکرو تاسې خبریاست چې کندهاري ویښ ځلمیان



یې دلته بندیان کړي دي. اتفاقاً په دې عسکرو کښې څو تنه کندهاریان وو. هغوی چې پرې خبر سول. پردې بله ورځ ټول د کابل متعلقین پرې خبر سوي وو او خلک ډله- ډله د خبر او حال اخیستو له پاره ورتلل.

په دې توقیف کښې د "نداء خلق" او د "وطن" د حزب غړي هم ورسره بندیان وو، په لومړي سر کښې د دوی خیال داسې وُ چې توقیف کړل سوي خلک شاید محاکمه سي او تر محاکمه کېدو وروسته به خوشي سي. خو کرار- کرار دا خیال مهال ښکاره سو په تېره بیا هغه وخت چې د ولایت قوماندان ورغی او اعلان یې ورته وکړ، چې دری سره جمعیتونه کولای سي چې په آزاده پښه یو بل ته سره ورسي. په دې اعلان سره بندیانو وفهموله چې د محاکمه کېدو او خلاصېدو سوال نسته. سربېره پر دې د توقیف د عملي لخوا روحي اذیتونه ورکول شروع سول، لومړۍ خو یې د وطن او نداء خلق پر غړو باندې د کور ډوډۍ بنده کړه چې په دې سره دوی د لوږې روژه (اعتصاب) ونیوله. خو څرنګه چې د ویښ ځلمیانو کورونه په کابل کښې نه وو او ډوډۍ محبس ورکوله نو ویښ ځلمیان د لوږې پر دې اعتصاب ورګډ نه سول.

خو دا اعتصاب نداء خلق او وطن هم ترسره نه کړ او ویښ ځلمیانو به په پټه د خپلې ډوډۍ څخه یوه برخه له دوی سره شریکوله او دوی به هم نوش جان کوله. د ځلمیانو په دې مرسته د محبس مامورین پوه وو. د دوی اعتصاب دوې ورځې دوام وکړ. خو حکومت بېرته د کور د ډوډۍ اجازه ورکړه او دوی اعتصاب مات کړ.

ویښو ځلمو ته یو آشپز ورمقرر سو څرنګه چې په محبس کښې د ټولو بندیانو خپلمنځي روش او سلوک خوشګوار وو. دا خبره د محبس د تشویش ور وه، نو یې د بې اتفاقۍ د راوستو له پاره په دسیسو کولو پیل وکړ، هغه په دې توګه:

د بندیانو په خوړو ورکولو کښې یې فرق پیدا کړ. لکه څو کسانو ته یې سهار د چایو سره وچه ډوډۍ او ځینو ته یې روټ او ځینو ته یې شیدې ورکول پیل کړل. حاجي محمد انور خان ته یې شیدې، هادي صاحب ته خوږه ډوډۍ او نورو ته وچه ډوډۍ ورمقرره سوه. دا ددې لپاره چې د دوی ترمنځ نیست سره بد کړي او دغه سې هم وسوه او یو څه شکر رنجي ورکې پیدا سوه.

## د حکومت ناکامه کوښښ:

دلته دا خبره باید هېره نه سي، څرنګه چې د بندیګرۍ په سر کښې حاجي محمد انور خان او مولوي صاحب بهرام خان د نورو بندیانو څخه جلا کړه سوي وو تقریباً تر دوونیمو میاشتو وروسته یې بېرته د نورو اندیوالانو سره په محبس کښې یو ځای کړل. په دغه دوونیمو میاشتو کښې چې دوی د سردار شاه ولي خان په زړه کندواله کښې اچول سوي وو پر دوی باندې دا سعی وسوه چې د ځلمیانو څخه ځانونه بېل اعلان کړي. دوی ته د صدارت خاص استازی غلام محمد نامي چې په قوم محمدزی ؤ، مقرر سوی ؤ چې له دوی څه د ویښ ځلمیت د پښیماني اعتراف واخلي او هغه هم په دې دلیل چې اڅکزی خو د پاچا قام دی، تاسو ولې او څنګه د پاچا په مخالفه جبهه کښې ولاړ یاست.

خو مولوي بهرام خان او حاجي محمد انور خان په ګډه ورته وویل چې: موږ خو هم په دغه دلیل په ویښو ځلمو کښې شامل سوي یو، چې د پاچا قام یو او پاچهي د ظلم و ستم د کولو څخه وژغورو ځکه نو دا کار کوو. دوی ورته زیاته کړه چې د ملت څخه ظلم و ستم یواځې د مامورینو په ذریعه نه ورکېږي خو د ملت نمایندګان هم ورسره مرسته ونه کړي.



خو کله چې صدارت ته دا ثابته سوه چې د "دوی جومات ملا نه نیسي" یعنې په دوی هېڅ نه کېږي نو تر دوو نیمو میاشتو وروسته بېرته عمومي محبس ته ور انتقال کړل سول.

## د کابل د محبس نور حال:

د کندهار ځلمیان په اول توقیف کښې بندیان وو خود "ندای خلق" او د "وطن" جمعیت په دویم توقیف کښې بندیان وو. کله چې دوی سره ګډ سول نو یې ښه سات سره تېر ؤ او خوشاله وو. په هفته کښې یې یو کانفرانس درلوده په دې کانفرانس کښې به په نوبت سره- تاریخ، اصول اجتماعیات او د طب په باره کښې بیانونه ورکول کېده او ځینو به بیا د فرانسې د انقلاب ترانې ویلې، دې روش پر حکومت بده اغېزه وکړه کتاب، کاغذ او قلم یې ورباندې بند کړل او هم د اووه کلنی کوچنیانو څخه به چې غټان وو هغه یې نه ورپرېښودل، د کالیو تلاشي شروع سوې او که به کوم شک ورته پیدا سو کالي به یې ورخیرل. تقریباً اته میاشتې دوی په دغه ډول سنسرشپ او عصبي اذیت ورکولو تېر کړ، خو یوه ورځ عبدالحسین خان "عزیز" چې د سلطنتي کورنۍ اعتمادي او نژدې شخصیت ؤ، د خپل زوی عبدالحی عزیز د لیدو په خاطر محبس ته ورغی. دلته یې عبدالحی عزیز او ډاکټر قیوم رسول ولیدل او ورته ویې ویل چې: حکومت یو بې پروا حکومت دی، حکومت غواړي چې تاسو توبه وکاږئ، خوشي به مو کړي او که نه وي نو امکان لري چې اووه یا اته کاله بندیان پاته سئ. ډاکټر رسول او عبدالحی عزیز دا موضوع لومړی د وطن له خپلو ملګرو سره او بیا یې وروسته د ویښ ځلمیانو سره مطرح کړه.

په ویښ ځلمیانو کښې د عبدالهادي خان هادي داسې نظر ؤ: "هر هغه څوک چې ګناه وکړي او پر خپله ګناه باندې اعتراف نه کوي تر هغه بې همته سړی نشته او که چا ګناه نه وي کړې او په

گناه اقرار کوي تر هغه پست سړی نه سي کېدای، دوی دې تاسو ته ستاسو گناه در وښيي که مو واقعا گناه کړې وه، نو به عفوه وغواړئ او دا عفوه به ستاسو عالي جنابي وي او ښه به په وايسئ. دوی به تاسو وبخښي دا به بيا د دوی لوړ همت ښکاره کړي خو چې دا هيڅ نه وي عفوه غوښتل بې معنی ښکاري"

مولوي بهرام خان او محمد انور خان په دې موضوع کښې داسې نظريه درلوده: چې دا د دوی شخصي موضوع ده او د دوی په سياسي تقوا او ټينګښت اړه لري. د دوی خپله خوښه ده چې سياسي مرام ته پر ځان ترجيح ورکوي او که ځان ورته عزيز دی، ځرنګه چې د عبدالحی تخلص هم عزيز و، نو پر دې باندې ملګرو سره وخندل.

د مدير صاحب جيلانيئ خان نظريه هم تقريبا د محمد انور خان او مولوي بهرام خان نظريې ته ورته وه خود. "حضرت محمد يوسف اغا او جناب قاضي صاحب عبدالصمد خان رايه دا وه: چې د ظالم د منګولو څخه چې په هره توګه الله تعالی چاته نجات ورکوي، بايد د خدای فضل يې وبولي"

په دې ګير و دار کښې د نداء خلق او د وطن د جمعيتو ځينې غړي خوشې سوه لکه عبدالرحيم، محمد اعظم، امان الله، ډاکتر يوسفي او ځينې نور. دوی يو کال بند وګاله او په ۱۳۳۱ (۱۹۵۲ع) کال يې د خدای په فضل د ظالم د منګولو څخه نجات وموند، د دوی د خلاصون په وجه ډېرو بنديانو ته اميد پيدا سوی و چې شايد دا نور بنديان غير مشروط خوشې کړای سي، خو کله چې د سنبلې پر پنځلسم (۱۳۳۲) باندې شاه محمود خان صدراعظم د ناروغی په وجه استعفا وکړه د صدارت وار سردار محمد داود خان ته وروړسيده، داود خان د خپلي طبعٔ پر بناء د هواد ټولو روښن ضميره خلکو ته معلوم وو چې دی ظالم، بې عاطفې، پر خپل خره سپور، جاه طلبه، مغروره، مستبد، د فيوډالی سنبول او د سرداری



نمونه دی. ددې سړی په راتګ په ټول افغانستان کښې يوه سياسي تاريکي او نا امېدي وغوړېده. په محبس کښې دننه او دباندې سياسي رکود راغی. دننه په محبس کې، پوليسو او د محبس عملې شدت او کنټرول زيات کړ. لومړی خو دا کوښښ وسو چې د خرڅ پيسې په نغده کښې بنديانو ته ورتاديه کړي. خو ځينې بنديانو دا نغدې پيسې اخيستل د خپل سياسي شخصيت سپکاوی باله او ځينو بيا په نغدو پيسو اخيستلو کښې ګټه ليده. هغوی چې پيسې د نغدو په ډول قبولې نه کړې دا کسان وو: حاجي محمد انور خان، جيلانې خان، غبار صاحب، محمودي صاحب، فتح محمد خان، عاطفي صاحب، ښاغلی شايان صاحب او عبدالهادي خان هادي او پاتې نوروکسانو ته نغدې (پينځلس افغانی د ورځې ورکول کېدې. په دې توګه ژوند دوام درلود، خو د حوت پر شپاړسم ۱۳۳۴ل (د مارچ شپږم ۱۹۵۵) د ويښ ځلميانو لومړی جوپه را خوشې سوه چې هغه وو: مدير صاحب غلام جيلانيي خان، قاضي عبدالصمد خان او حضرت محمد يوسف اغا. کله چې دوی کندهار ته راورسېدل په کندهار کښې د ملګرو او خپلوانو او دوستانو لخوا ښه استقبال سول. تر دوی وروسته د کابل د بنديانو څخه پر ۲۵ د ثور ۱۳۳۵ (د ۱۵ مې ۱۹۵۶ع) بيا جناب حاجي محمد انور خان اڅکزی د کابل څخه کندهار ته راورسېد او ښه کافي تعداد ملګري يې مخې ته ورغلي وو، دوی پر هوايي ډګر ټولو حاضرينو ته اعلان وکړ چې "زموږ او د حکومت تر مينځ څه روغه جوړه نه ده سوې، زموږ د حزب موقف هم هغه دی چې و، د داود خانی په هغه وخت کښې د خان بابا (حاجي محمد انور خان) داسې وينا بنديخانې ته د دوهم ځل ورنګ معنی درلوده.

په دې ډول د ويښ ځلمو يو شمېر بنديان د بنديخانو څخه راوايستل سول، مګر د اروابناد ډاکتر محمودي صاحب په اصطلاح دا کورنی خو اصلا بنديبازان دي: ډېستي يې په ۱۳۳۶ کښې نور

بندیان ځان ته تهیه کړل او د خپلې بندیبازۍ تنده یې ورباندې ماته کړه. هغه کسان وو: عبدالملک عبدالرحیم زی او دده ډله او یا دده ته مربوط کسان، دا کسان ټول محبس ته وروستل سول، په دې وخت کښې په محبس کښې یو هادي صاحب پاتې و او بل محمودي صاحب. تر یو څو میاشتو وروسته یې بیا دوی هم دهمزنګ ته ورانتقال کړل. په دهمزنګ کښې علاوه پر پورته کسانو دغه کسان سره یو ځای وو: مولوي بهرام خان.، حاجي خدایدوست، سرور خان جویا، ډاکټر محمودي، برات علي خان"تاج"، سید اسمعیل بلخي، سید حسین مزاري، غلام علي خان، قانون مزاري، عزیز توخ او بیا په وروسته کښې یعقوب خان او دده زامن وروستل سول او هم دغه رنګه باشي عالم هم د دوی سره یو ځای سوی دی. په دهمزنګ کښې د پورته ټولو بندیانو سره ډېره بده او ظالمانه وضع کېده کله یې چې دوی ټول سره یو ځای کړل نو یې اته میاشتې کوټه قلفي وساتل او په دې اتو میاشتو کښې یې لمر ونه لید، وروسته تر دغه اتو میاشتو اجازه ورته وسوه چې په لمر کښې د سهار د اتو بجو څخه بیا د ماسپښین تر ۵ بجو پورې ګرځېدای سي.

## حاجي خدایدوست شهید سو:

حاجي خدایدوست په دهمزنګ کښې په یوه مرموز ډول مړ یا ووژل سو. د عیني شاهدانو له قوله دا سړی ماښام جوړ تیار تکړه وو او ډوډۍ یې وخوړه، خو سهار په کوټه کښې مړ پروت و، د سرکاري منابعو له قوله دده ته غذایي تسمم ورپېښ سوی و، خو عیني شاهدان دا مني چې دی تسمم سوی و مګر نه غذایي، بلکه قصدي تسمم و، دده یې په مخه ښه.

دده مړګوېښ ځلمیانو په خاصو مراسمو ونماځه، کله چې په ۱۳۴۰ل کال په کابل کښې د دوی د وفات رغ وسو، د غلام



دستګیر خان یو پل، شاکر صاحب، رشاد صاحب، خواخوږی صاحب او نورو ځلمیانو په ذریعه یې جنازه د دهمزنګ څخه راوایستل سوه. او کندهار ته یې راورسوله، په کندهار کښې د خاصو مراسمو په ترخ کښې په خپله پلرنۍ هدیره کښې خاورو ته وسپارل سو.

په ۱۳۴۱هـ ش کښې ښاغلی عبدالهادي خان هادي او مولوي بهرام خان را خوشي سول او تر دوی یو څو میاشتې وروسته محمد رسول خان پښتون په بغلان کښې خوشي سو، چې په دې توګه دې درې واړو کسانو تقریبا یوولس کاله بند وکاله او هم په دې سره د ویښو ځلمو د لومړۍ جوپې بندیانو (چې کابل ته یې لېږلي وو) داستان ختم سو.[1]

## یوه ضمني قصه:

په دې ضمن کښې چې د بندیګړیو خواشینۍ مو تر نظره تېرې سوې بده به نوي چې د خولې د خوند له پاره یوه قصه درته وکړم:

غالبا په ۱۳۴۰ هـ ش کښې زه د صوفي ولي محمد خان د کندهار د یخي فابریکې د ماشینو د راوړلو په غرض "قزل قلعه" ته چې بیا وروسته یې نوم ورباندې د "شېر خان بندر" کښېښود، ورتلم. د بغلان ښار په لاره کښې و او دلته محمد رسول خان پښتون بندي و، د خپلې ملګرۍ په لحاظ ما وغوښتل چې دی ووینم، د بغلان په ښار کښې مې دوې شپې ورته تېرې کړې خو د پښتون صاحب د لیدو هېڅ لاره نه جوړېده او ښه سخت بندي و او که بیا هم کوم خپل یې غوښتی وای چې دی دې ووینې هغه د بغلان د والي په امر وروسته تر کافي تحقیقاتو ممکن کېده. خو زما اراده ورته ټینګه وه چې پښتون صاحب به وینم اخر مې هېڅ چاره په وس نه سوه پوره

---

۱ - پورته ذکر سوی د کابل د بندیانو صورت حال د حاجي محمد انور خان الوی بهرام خان، عبدالهادي خان هادي او د قاضي عبدالصمد خان د مصاحبو څخه لاس ته راوړل سوی دی. بخرکی

نو مې خپل ظاهري شکل او لباس د خورد ضابط په شان اراسته کړ، بې دريغه سم پر محبس ور رهي سوم، د محبس دوې دروازې وې د دغو دوو دروازو تر څنګ د بغلان قوماندانۍ وه، زه مخامخ د محبس پر لور د خورد ضابطي په لباس کښې ور رهي سوم، د محبس لومړۍ دروازې ته چې ورسېدم سپاهيانو سلام وکړ او ما سر ورته وښوراوه او نېغ مې دويمې دروازې ته ځان ورساوه، هلته هم سپاهيانو سلام وکړ او ما په خورا بې پروايۍ سر ورته وښوراوه، تر دې دروازې هم را تېر سوم او محبس ته ورداخل سوم، هلته مې د خورد ضابط په شان پر بنديانو څه کلان کارۍ وکړې څو د يوه بندي څخه مې د محمد رسول خان پښتون درک معلوم کړ او کوټې ته يې ورغلم چې پس له لسو کلو مې وليد. پښتون صاحب په دې وخت کښې د "رمل" په حساب وکتاب اخته و، چې زې وليدم خيال يې دا سو چې دی يې هم لکه چې د بغلان محبس ته رالېږلی دی. خو ما حال ورته ووايه دی ډېر خوشاله سو، شپه مې هلته په محبس کښې ورسره تېره کړه، حال و احوال مو سره ووايه، په دې سهار مشکل دا پيدا سو چې اوس به نو د محبس څخه راوځم څنګه؟ خو بيا مې ځانته د خورد ضابطي هغه پرونۍ ټاټ ورکړ او مخامخ د محبس پر دورازه وزغلم، په خورا قهرو غضب هرې خوا ته ګورم چې د چا ګومان را ونه رسېږي. په دې توګه د لومړۍ او دويمې دروازو څخه په خير راتېر سوم خو دباندې د قوماندانۍ مخ ته سرمامور ولاړ و او زې وليدم چې د محبس څخه راووتم. د سرمامور په امر دستي زه سپاهيانو سرماموريت ته ورکش کړم او د موضوع په هکله يې تحقيقات راڅخه شروع کړل.

خو ما سرمامور ته وويل، چې زه د محمد رسول خان پښتون د ليدو له پاره محبس ته ورغلی وم او دده حال و احوال مې معلوماوه، نه مې څه ورته وروړي دي او نه مې څه ځنې راوړي، زه او دی سره ملګري وو، وجدانا دده بې ليدو تر بغلان تېرېده ښه کار



نه و، دا عين حقيقت دی، چې درته ذکر مې کړ او که تحقيقات راڅخه کوئ نو زه وايم چې ستا په اجازه زه محبس ته تللی يم او ته پوهېږې چې ددې نتيجه به خورا بده وي، ستا له پاره هم زما له پاره هم.

سرمامور چې دا وراشه واورېده، ډېر نرم سو، د کړي تحقيق ورقې يې ټولې خيرې کړې چای مو سره وڅښلې او زه د شېر خان بندر په لور روان سوم.

اوس به نو يو څه د کندهار پر بنديانو او د کندهار پر اوضاع سره ورغږېږو:

## په کندهار کښې د ځلمو بنديانېده او انتخابات:

دلته بايد دا خبره پاتېنوي چې د ويښو ځلمو بنديګرۍ په همهغه وخت کښې وسوې چې په هېواد کښې د پارلمان د اتمې دورې انتخابات کېدونکي وو، د حکومت خيال و چې د ويښو ځلمو په ګرفتارۍ به خپل نماينده کامياب کړای سي خو تر هغې وروسته چې د ويښ ځلمو او له جوپه مشران يې کابل ته ولېږل، دستي زمونږ پر کور يو په بل پسې دوې غونډې وسوې. په لومړۍ غونډه کښې فيصله وسوه چې تحريک ته به دوام ورکوو، ددې له پاره چې تحريک دوام ولري دوې اجرائيه کميټې وټاکلې سوې چې که يوه کميټه بيا ګرفتاره کړل سوه نو به بله کميټه کار ته دوام ورکوي او د نورو ګرفتاريو له پاره به امادګي نيسي او دوې اجرايي کميټې به نورې ټاکي، چې په دې صورت به د حکومت ګرفتارۍ رواني وي خو تحريک به نه پاتې کېږي، که يوه کميټه ګرفتاره کړه سوه بله کميټه به يې په عوض کښې کار کوي او که بله ګرفتاره سي بله به يې کار مخکې ته نه اچوي او هم داسې وسول. د ۱۳۳۱ د وري په ۱۴ باندې ښاغلی فيض محمد انګار او حاجي محمد حسين خان چې د تکړه غړو څخه وو ګرفتار او د کندهار په فرقه (عسکري چونۍ) کښې

يې کښېنول، خو د ځلمو کار نه په اوله جوپه خلکو او نه په دې دوهمه جوپه خلکو مځکې ته ولوېده.

## ښاغلی عبدالشکور رشاد او انتخابات:

زمونږ کره په دوهمه غونډه کښې فيصله وسوه چې د اولسي جرګې د اتمې دورې په انتخاباتو کښې به حصه اخلو، چې هغه هم په نن و سبا کښې شروع کېدونکې وو. د ځلميانو لخوا ښاغلی عبدالشکور رشاد وړاندې سو. ځلميان او جهان په دې پوه وو چې د انتخاباتو پر دې وخت، د ويښو ځلميانو ګرفتاری څه معنی درلوده؟ پر دې موقع د ځلمو ګرفتاری په افغانستان کښې د ديموکراسی راز فاش کړ او هغه څه چې ځلمو نه سو کولای دوی پخپله په ځانو وکړل.

کله چې د محترم رشاد صاحب عريضه د شورا د اتمې دورې له پاره د کندهار د کانديد په توګه حکومتي مقام ته وړاندې سوه، انتخاباتو ته دوې ورځې پاتې وې خو حکومت د رشاد صاحب عريضه وځنډوله او حکومت خپل نماينده عبدالغفور خان خروټی ودراوه، چې په مقابل کښې يې هېڅوک هم موجود نه وو، حکومت خپل ټول زور ولګاوه سرداران، خانان او ملايان يې وګومارل چې رايې سره راټولې کړي. درې- څلور پينځه ورځې پواځې د خروټي صاحب له پاره حکومت رايې راټولولې، څو چې دا يې يقين سو چې اوس نو رشاد صاحب نه سي کامياب کېدای نو يې اجازه ورکړه چې صندوخ کښېږدي، دلته نو د انتخاباتو فقط درې ورځې لاپاتې وې. په مجرد ددې چې ښار پرې خبر سو، چې د ويښو ځلمو نماينده ښاغلی رشاد صاحب کانديد سوی دی، د ويښو ځلمو فعاليت شروع سو او خلک رضا کارانه انتخاباتي جوزو ته ورروان سول، د رشاد صاحب رايې دم په دم مخ په زياتېدو سوې، که څه هم ددې انتخاباتي مبارزې په دوران کښې زه ګرفتار اود انکار



صاحب دوی سره يو ځای بندي سوم خو انتخاباتو د ځلميانو په ګټه همهغسې دوام درلود، په دې انتخاباتو کښې ځلميانو هغه شاهکاری وکړې چې نه د حکومت توقع وه او نه چا فکر کولای سو.

حکومت د ځلمو او رشاد په مقابل کښې سره د خپل ټول ارتجاعي قدرت ونه سو کولای چې ځان دې تم کړي، دم په دم ګړی په ګړی د رشاد صاحب رايې په ډېرېدو سوې څو حکومت ته بله چاره پاتې نه سوه چې د پوليسو په ذريعه په سپينه ورځ د ټول اولس په مخ کښې د رشاد صاحب د رايو اچولو صندوق ضبط او پخپله رشاد صاحب د پوليسو په ذريعه د ښاروالی د تالار څخه (د رای اچولو حوزه) څخه راوايستل سي، کله چې رشاد صاحب د تالار څخه راووت نو يې غفور خروټي ته اخيرينی جمله دا ووېله: "دا چې په دې ډول وکالت کول ستا وجدان قبلوي، نو دې مبارک سه!".

رشاد صاحب د ښاروالی څخه راوايستل سو او دا ډرامه پای ته ورسېده خو کردار يې د تاريخ جز وګرځېد او هغه داسې:

ويښ ځلميانو پر خپل ټولنيز دريځ باندې بيا کتنه وکړه، اعتدالي نظرياتو خپل ځای افراطي او راډيکالي نظرياتو ته ورکړ، ښکاره اجتماعي پاليسي مخفي سوه، ټولنې د حق او بې انصافی تر منځ توپير وکړ، د ظالم او مظلوم سوال پيدا سو، هر چا په اجتماعي مسايلو کښې ځانته خاص موقف اختيار کړ. د هېواد خارجي او داخلي پاليسي داغمنه سوه، هغه د درواغو ديموکراسي چې حکومت اعلان کړې وه د نړی په ديموکراتيکو او جمهوري هېوادو کښې رسوا سوه، غربي هېوادونو چې په سر کښې يې امريکا وه افغانستان يې د غلو هېواد وباله[1]، خارجي پورونه لږ سول، اقتصادي

1 - هغه وخت چې د امريکې جمهور رئيس نکسن افغانستان ته په رسمي دوره او دعوت راغلی و، په ستنېدو سره يې په امريکا کښې افغانستان د غلو هيواد وباله.

انکشاف معطل سو، دې سیاسي او اقتصادي فشار د حکومت واکداران دې ته اړ کړل چې د اجتماعي قانون سره سم جبراً او قهراً د وخت دا فیصله ومني چې یا به د خپلو نامشروعو ارزوګانو څخه لاس اخلي او ملت ته به حق ورکوي او که داسې ونه کړي نو هېواد به د سره اور د آتش فشان په لاوه کښې سوځېدونکی وي.

له دې ټولو خبرو سره د افغانستان حکمرانه ډله تر خپلو شخصي منافعو نه تېرېدله کله چې هېواد یو سور تبخی سو نو دوی ته د مشروطه نظام د راوستو خیال پیدا سو، مګر د تاریخ او اجتماع په حکم دا ډېر ناوخته و او ملک یو بحراني او طغیاني شکل پیدا کړی و.

## د کندهار بند او بندیان:

زموږ بند په کندهار کښې ډېرې "سرې او زرغونې" نه درلودې. درې تنه وو درې سره په یوه خونه کښې، چې بر یې دوه نیم متره او اوږده یې درې نیم میتره و، پکښې اوسېدو.

انګار صاحب او حاجي محمد حسین خان تر ما د مخه راوستل سوی وو، زه تر دوی یو څو ورځې وروسته وروستل سوم، زما د ورتګ کیسه په دې ډول وه:

همهغه وخت چې زه د انتخاباتي مبارزې څخه کور ته د غرمې د ډوډۍ له پاره په ۱۳۳۱ د حمل په شپږویشتم راستون کېدونکی وم پولیس کور ته راغله او قوماندانۍ ته یې بوتلم او له هغه ځایه څخه یې نائب الحکومه عبدالغني خان ته وروستم.

زما او د نائب الحکومه عبدالغني خان سوال و ځواب ډېر په زړه پورې و، د همدغه دلچسپۍ په اساس کله چې بندیخانې ته راورسېدم نو مې تر ټولو خبرو دمخه دا سوال و ځواب د قلم په قید کښې راووست او د یوه لیک په ذریعه مې محمد عمر میوندي ته چې هم زموږ ملګری او هم مې اخښی و ور ولېږه، چې تر نن ورځې پورې محفوظ پاتې سي. دا دی د هغه لیک څخه څه نه څه راوړم.



په دې وخت کښې چې زه او نائب الحکومه سوال و ځواب سره کوو محمد حسین خان غونډمشر د ببرک کارمل پلار هم حاضر و، سوال و ځواب داسې و:

کله چې زه ورته حاضر سوم، نائب الحکومه راته وویل:

- ستا نوم؟
- زما نوم محمد علم بځرکی دی.
- ته ولې ما تر اوسه نه یې لیدلی؟
- ځکه چې ما نه غوښتل چې ستاسو سره پېژندګلوي ولرم.
- زه چې کندهار ته راغلی یم د استخباراتو له خوا ستا اطلاعات تر هرچا ډېر رارسېږي، خو ما تر اوسه پورې د صبر څخه کار اخیستی و، اوس نو مجبور یم چې ....
- نائب الحکومه صاحب! که ما رښتیا کوم داسې جرم کړی وي چې هغه د قوم او ملت له پاره ضرر ولري نو تاسې مهرباني وکړئ هغه راوښیئ!
- هغه ورځ تا په یوه غونډه کښې نه وو ویلي چې د حق طرفداره حق دی؟
- هو دا ما ویلي وو، خو ګومان نه کوم چې خلاف د حقیقت او واقعیت به وي.

تر دې وخته زه دده مېز ته مخامخ په داسې حال کښې ولاړوم چې دوه سپاهیان مې تر یوه څنګ دوه تر شا او دوه مې تر دا بل څنګ ولاړ وو او په دې وخت کښې ماته خپل ځان خورا غټ وایسېده.

کله چې زما او دده پورته سوال و ځواب وسو، نو یې اجازه راکړه او راته وې ویل چې مهرباني وکړه پر څوکۍ کښېنه. زه هم دده مخامخ پر څوکۍ ورته کښېناستم.

- ښه بله خبره مې دا درته کوله، کله چې مې ستا پلار او نور کسان کابل ته ولېږل، تا خو به دومره کول چې یو څو ورځې به په

کور کښې کښېناستلې، مګر ته راولاړ سوې سم د لاسه دې اجراآت پیل کړل او د حکومت پر خلاف پروپاګنډ کوې، دا ولې؟

- تر څه اندازې پورې چې د اولې فقرې سره تعلق لري په کور کښې کښېناستل موږ ناریه و ته ښه نه بولو. پاتې سوه د اجراآتو دویمه فقره یعنی په انتخاباتو کښې فعالیت کول، دا به ګومان کوم چې زموږ ملي حق وي.

- بڅرکیه! ته خو د ډېر سپین سترګی راته ښکاره کېږي. مخامخ دومره ګستاخي. ته زما هره خبره خوشې چتې بولې، ډېره بده خوله دې ده.

- ما ورته وخندل او ومې ویل: چې د زورور اوبه پر لوړه خېژي.

- ښه ستا خو خبرې ډېرې زده دي. دا دیموکراسي ستاسې په نظر څه شی ده چې دومره پر له وتلي یاست او ځان درڅخه ورک سوی دی؟

- زموږ په خیال د خلکو حکومت، د خلکو په ذریعه او د خلکو له پاره. داسې نظام ته د دیموکراسی نظام ویل کېږي او د داسې دیموکراسی اعلان حکومت هم کړی دی. که تاسو داسې دیموکراسي نه منئ، نو خپله خبره بېرته واخلئ او موږ به هم کرار کښېنو.

- کوچني- کوچني هلکان یاست. ستاسو ددې خبرو سره څه؟! تجربه هېڅ نه لرئ، هر چا چې څه په خوله کښې درکړل بس هغه وایاست.

ښه! ستا دې په دغه ځوانی او ښتونواله قسم وي، ما په لومړي سر کښې د ویښو ځلمیانو سره څومره همکاري درلوده، ته خو په هر څه خبر یې، مګر دوی زما د همکاری څخه هېڅ ګټه وانه خیستله او پر خپل خره سپاره وو. د خپلو اعمالو څخه یې لاس نه اخیسته، ښه



ستا دې په خدای(ج) قسم وي چې ته په دې نه یې خبر چې محمد رسول ښتون او حاجي خدایدوست د پاکستان مخبران دي؟

- محترمه! په دې مساله کښې قسم ورکولو ته څه ضرورت نشته. هر هغه څوک چې د ملي مصالحو خلاف اجراآت لري تاسو ته قانونا حق او اختیار حاصل دی چې په علني ډول یې محاکمه او په سزا یې ورسوئ. که جرم پرې ثابت سي که څه هم زما پلار وي د دار رسی بې زما په لاسو کشېږي.

- معلومېږي داسې چې ستا افکار باید اصلاح سي تر هغه وخته ته باید بندي یې.

- واقعا هم په افغانستان کښې د اصلاح ځای بندیخانه ده، په مکتب کښې مو خو څه زده نه کړل، شاید په بندیخانه کښې به څه زده کړو.

نائب الحکومه زنګ ووهه. اغا بادار کندهاری ټولی مشر راحاضر سو او زما د بندیګری امر یې ورته وکړ. زه یې لومړی د کندهار د فرقې نظام قراول ته او بیا وروسته یې د انګار صاحب دوی سره یو ځای کړم.

دا و د هغه بیان لنډیز چې د نائب الحکومه سره وسو. ددې بیان د تذکر څخه مې مقصد دا و چې د ویښ ځلمو په ګرفتاری کښې د حاکمه طبقې د خیالاتو او طرز تفکر څه نا څه وضاحت وسي او کوم اتهام چې دوی تراشي د هغه پلټنه وسي. دغه رنګه دا معلومه سي چې د دیموکراسی څخه حاکم قدرت څرنګه معنی او فایده اخیستل غوښتل.

په بندیخانه کښې دننه زموږ د درو سرو ګزاره ښه وه، که تر معمولي شکر رنجیو تېر سو نو زموږ خپلمنځي تعلقات او مناسبات په کامل احترام او همکاری سره تېرېدل. جناب محمد ابراهیم خواخوږي پیهم او مسلسل تر هغه وخته چې موږ بندیان وو هره ورځ بلا ناغه حاضري راکوله علاوه پر هغه چې دباندني معلومات یې

رارسول د کتابو تهیه یې هم راته کوله او هم یې هره ورځ تقریبا د یوه کیلومتر فاصلې څخه پر خپلو مبارکو اوږو یو یو منګی پاکې اوبه له څاه څخه راته راوړلې. هم یې ځینې د باندني کورنۍ کارونه کول. لکه زما کوچنیان په مکتب کېنې داخلول او بیا هغه هره ورځ پر بایسکل باندې مکتب ته رسول او داسې نور. دا ټول کارونه یې په یوه داسې نه سترې کېدونکې حوصلې سره انجامول او په دومره مسلسل مداومت یې دا کار کاوه چې نظیر یې لږ تر لږه ما خوندی لیدلی، که دا ووایم چې جناب خواخوږي صاحب زموږ د بندیګرۍ خواشیني را نیمې کړې وې مبالغه به مې نه وي کړې.

موږ ته حکومت خرڅ نه راکاوه. زموږ تر ټولو لوی مشکل هم دغه موضوع وه، په اقتصادي لحاظ زموږ وضع ښه نه وه، د کور ګوزاره او هم د بندیخانې ګوزاره مو په وس نه وه پوره. خصوصا زما په وس نه وه پوره. ددې مشکل د رفع له پاره ملګرو مرسته راسره کوله او هره میاشت یې زموږ د مناسبې ګوزارې له پاره یو د بل په چنده او اعانه خرڅ رابرابراوه، چې ددې خرڅ کولو مشري به یوه میاشت ما، بله انګار صاحب او بیا حاجي محمد حسین خان کوله. آشپزي تقریبا همېشه زما دنده وه او د خونې پاکېده او جارو به حاجي محمد حسین خان کول. انګار صاحب ته مو د کار کولو تکلیف نه ورکاوه، ځکه دده صحت د کارکولو توان نه درلود خو البته ماته یې سبق وایه چې د محاسبې او د بودیجې د علم اساسات مې له دوی څخه وویل او هم مې ځینې اقتصادي کتابونه وویل خو حاجي محمد حسین خان مطالعه او زده کړه نه کوله.

پر موږ باندې د دباندې خلکو د ملاقاتونو پابندي چندانې نه وه، خو کله کله به نابره پېره داران راباندې ډېر سول او د ملاقاتیانو مخنیوی به پیل سو. موږ ته حکومت یو نفر د خدمت له پاره هم راکړی وو چې زموږ سودا او نور... راته کول او یوې ډلګۍ عسکرو به تل پیره راباندې کوله. په بندیخانه کې زموږ د اذیت



یواځنی شی دا و چې راتلونکې خلک به یې راڅخه بند کړل، چې په دې سره به عصبیت راته پېښېده، په بندیخانه کېنې موږ د عسکرو عریضې مفتې ورلیکلې، چې دا د ډېرو عسکرو د رضایت سبب و، ځکه چې د عسکرو عریضې یو خو موږ وړیا ورته لیکلې او بل د هر چا په نامه او هر څه چې به یې غوښتل هغه به مو په عریضه کېنې لیکل، چې دا کار بل عریضه نویس او منشي نه کاوه. ځکه د فرقه مشر په نامه عریضه لیکل د منشي له پاره د خطر څخه خالي کار نه و چې په دې وجه مو په عسکرو کېنې ګرانښت پیدا سوی و او عسکرو به همېشه دا فکر کاوه چې دا درې تنه عجب خلک دي. نه غله معلومېږي، نه قاتلان او نه یې د څه نورو بدیو علامې سته، عسکرو به په خپل منځ کېنې اکثره دا ډول مجلسونه سره کول.

یوه ورځ سهار وختي یوه ډېر ساده عسکر چې د روزګان څخه راوستل سوی و او زموږ پیره دار و په ډېره ساده‌ګۍ یې پوښتنه وکړه چې:

حکومت تاسو پر څه بندیان کړي یاست؟ تاسو خو نه غله ښکارئ او نه قاتلان؟ ددې سوال په ځواب کېنې ما انګار صاحب ته مخ ورواړاوه چې ځواب یې وایې او که یې ووایم.

انګار صاحب ماته اجازه راکړه، نو ما عسکرته وویل:

وروره! لکه ته چې نه یې خبر چې موږ پر څه بندیان یو موږ هم نه یو خبر. خو خبره اصلا داسې ده چې یوه ورځ دغه انګار صاحب د شهیدانو پر چوک راتېرېده د اخوا سرکارې غاټرې راروانې وې، ده پښې ورته وټکولې او غاټرې وتورېدې، په دې وخت کېنې حکومت ته چې هر څوک په مخه ورتلل هغه یې نیول. زه یې هم په دغه توګه ونیولم اوس یې دا دی د ده سره یو ځای بندي کړی یم.

عسکر چې دا قصه واورېده په ډېر حسرت او سادګۍ سره يې انګار صاحب ته مخ ورواړاوه او ورته يې وويل: چې د سرکاري غاترو څخه دې څه بلا غوښته؟

انګار صاحب ورته وويل چې: اوس نو پېښه سوه- تېښته نه سته. زموږ او د عسکرو مناسبات خورا دوستانه، مخلصانه او د اعتماد وړ مناسبات وو. ډېر ځله به زموږ پيره دار چې به په پټه بازار ته تلو نو به يې خپل ټوپک موږ ته کښېښود چې دا نو دومره اعتماد دی چې هېڅ عسکر يې پر ورور هم نه سي کولای.

په دې دوران کښې چې يوه ناوړه فصه پېښه سوه هغه د حاجي محمد حسين خان د ورور ناڅاپه مړينه وه چې د حاجي صاحب پلار ډېر سپين ږيری و، نو د حاجي حبيب الله پوپلزي په ضمانت پر ١٦ د حوت ١٣٣١ باندې اجازه ورکړل سوه چې کورته ولاړ سي او د مړي مراسم پر ځای کړي او د پاتې اقرباو د لاسايي پرې وسي. په دې توګه حاجي صاحب له بند څخه خلاص سو. پاته سو زه او انګار صاحب، د انګار صاحب صحت ورځ په ورځ خرابېده دوی د سترګو د ديد کمزوری، د چاغښت ناجوړي، نقرص، بواسير، د شکر ناروغي او د وينې فشار درلودل. سره د دا دومره ناروغيو خوش مذاقي دده طبعه وه، هېڅ وخت يې د خوابدۍ اثار پر تندي نه ښکاره کېدل. يو وخت کوم ډاکټر ده ته د علاج له پاره راغی، ده ته يې وويل چې انګار صاحب څه دربانديې سوي دي. کوم ځای دې خوږېږي؟

ده ورته وخندل او ويې ويل چې ډاکټر صاحب خپلې ناروغۍ د سر لخوا درته شروع کړم که د پښو لخوا. په دې موږ ټولو سره وخندل.

انګار صاحب سره له دې چې سر تر پښو ناروغه و، خو د ظرافت، اخلاص، همدردۍ، دلاورۍ او صداقت نمونه و. کله چې به ده زه څه خوابدی محسوس کړم نو به يې په خپله خاصه‌لهجه او منطق



مسايل راته حل او زه به يې مطمئن کړم. ما دده د پرستارۍ افتخار پر غاړه درلود او د هېڅ ډول تيمار دارۍ څخه مې ځان نه دی ژغورلی. موږ نه يواځې د يوې سياسي لارې مسافر وو بلکې ډېر خواږه ياران هم وو، څلور کاله مو په بند کښې پر يوه کاسه ډوډۍ سره وخوړله خو هره ورځ مو تر دا بلې خوږه او په زړه پورې وه. د بند په اخرنيو شپو کښې زه هم ډېر سخت ناروغ سوم، نرۍ تبه او نری ټوخی راسره پيدا سول. دباندې څخه ډاکټران سياسي بنديانو ته نه راتلل، يواځې ډاکټر امير جان خان کندهاري چې د زړه ډک او ښتني مينه يې درلوده بې له کومې وېرې راته راته او زما علاج يې مفت کاوه، نه يې فيس غوښت او نه يې د داروګانو بيه، مګر په عمومي ډول صحت مې مخ په خرابېدو و، نرۍ تبه، ټوخی او په ٢۴ ساعته کښې مې تر دوه نيم ساعته زيات خوب نه درلود، په دغه لوږ و ځوږو کښې مو د بنديخانې څخه تر راوتلو پورې ځانونه راورسول.

## له بنديخانې څخه زما خلاصون:

د حمل د پينځه ويشم (١٣٣۵ل) (د ١٩۵٦ع د اپرېل ١۴) په سهار د فرقه مشر عالم‌شاه خان چې په دې وختو کښې د کندهار د عسکري قواو لوی قوماندان و له خوا وغوښتل سوم. انګار صاحب په دې شپو کښې د خپلې ناروغۍ له کبله د کندهار په روغتون کښې بستري و او زه دلته په بنديخانه کښې يواځې وم، په دې اثنا کښې خواخوږی صاحب چې همېشه به يې زموږ خبر اخيست د پخوا په شان راورسېده، د موضوع څخه مې خبر کړ او په کوټه کښې مې دی پرېښود.

زه چې فرقه مشر ته ورحاضر کړل سوم، هغوی راته وويل چې ته ضبط احوالات غوښتی يې ګومان کوم چې د خلاصېدو فرمان دې راغلی دی، ته ضبط احوالات ته ولاړ سه، زه د سپاهيانو سره هلته وروستل سوم او رېښتيا هم دغه خبره وه.

هغوی راته وویل چې ستا فرمان راغلی دی ته نو اوس آزاد یې.

- ما ورته وویل چې زه دا فرمان کتلای سم؟
- یه په فرمان کښې ځینې پټې خبرې سته چې ستا د لیدو نه دي.
- آیا دا پوښتنه کولای سم چې زه یې دا څلور کاله بندي پر څه کړم او اوس ولې خلاصیږم؟
- دا نو د خدای کارونه دي اوس شکر وکاږه چې ایله سوې.

چې ډېر سخت عصبي سوی وم ورولاړ سوم، هغه د دوی مېز مې وروټکاوه او ورته ومې ویل چې زه د خپل بندي کېدو په ګناه پوه یم "دا زما ضعیفي او کمزوري وه چې تاسو څلور کاله زما په ژوند سازې وکړې او په پای کښې مو راته وویل چې دا نو د خدای کارونه دي. هغه وخت که ما قدرت پیدا کړ دغه سی به مو څلور کاله بندیانوم او په پای کښې به درته وایم چې دا نو د خدای کارونه دي.

له دغه ځایه څخه زه برابر روغتون ته وررهي سوم چې هلته انګار صاحب ووینم او د موضوع څخه یې خبر کړم. څرنګه چې د انګار صاحب د خلاصېدو موضوع لا تر اوسه نه وه معلومه، ما نه غوښتل چې زه دې یواځې بې له انګار صاحبه راووځم. خو انګار صاحب دا خبره رد کړه او ویې ویل چې اول خو دا ستا په لاس نه ده چې ته نه وځې؛ په زور یې راوستلی یې په زور به دې وباسي او بله خبره دا ده چې ته خلاص سوې زما به هم فرمان راسي او خلاص به سم. نو هغه وو چې زه خپلې بندیخانې ته راغلم او جناب خواخوږي صاحب ته مې حال ووایه او هغوی د اس ګاډي راته راوستله ما خپل سامان پکښې واچاوه او دی دمخه ولاړ کور ته یې خبر ورکړ.

تر ما تقریباً دری میاشتې وروسته انګار صاحب راخلاص سو او په دې توګه زموږ دا داستان پای ته ورسېد.



دلته دا خبره د ذکر وړ بولم چې د ویښ ځلمیانو د هیڅ یوه بندي سره کومه محاکمه نه ده سوې. پولیسو د کورو څخه راوایستل بندیخانو ته یې ور وغورځول، ځینې څلور- څلور کاله او ځینې بیا لس- لس کاله په تیارو کوټو کښې پراته وو. د لومړي ورځې د بند څخه بیا تر خلاصېدو پورې هېچاته نه وه ورمعلومه چې زه پر څه باندې؟ د څو عمر له پاره؟ او ولې؟ بندي یم چې دا نو پخپله ډېره لویه روحي جزا ده، چې چاته خپل سرنوشت ورمعلوم نه وي. سهار ماښام ورباندې تېرېږي خو درک یې ورته معلوم نه وي.

هغه بندي چې شل کاله بندي وي، د بند موده او وجه ورمعلومه وي، ډېر مستریح وي تر هغه چې یو کال بندي وي خو د بند موده او د بند وجه ورمعلومه نه وي. دا دومره لویه روحي جزا ده، چې اندازه یې یواځې هغه څوک کولای سي، چې دا ډول بند یې ګاللی وي.

## د کندهار اولس او ویښ ځلمیان:

د یوې سیاسي ډلې محبوبیت هغه وخت څوک معلومولای سي، چې په اولس کښې د هغې ډلې ریښې وپلټي. کله چې یو حزب د لوړې خوا (د لوړې طبقې له خوا لکه حکومت، بانفوذه شخصیتونه او داسې نور) پر اولس نازل سوی وي. هغه حزب خو بلل کېدای سي، مګر اولسي حزب او د اولس د ګټې حزب نه وي. دا ډول حزب چې د لوړې طبقې له خوا رهبري کېږي، طبعا د لوړې طبقې د مفاداتو ساتندوی وي او د دویمې او دریمې طبقې استثمار کوونکی وي.

خو د ویښو ځلمو حزب ته دا افتخار حاصل و چې د دویمې او دریمې طبقې د خلکو څخه جوړ او هم یې د هغوی نمایندګي کوله. په دې حزب کښې جرنیل زادګان، فیوډالان، سرداران او سرکاري پیران او ملایان نه وو، بلکه د دغو پر ضد یې محاذ ارایي او

مبارزه درلوده. د همدغه طبقاتي خصلت له مخې دا حزب د اولس په روشنفکره طبقه کښې په متوسطه سرمایه دارانو کښې او د فیوډالي طبقې په ښکته پوړ کښې محبوبیت درلود. ددې مدعا د اثبات له پاره کله چې پر دېرشم د حوت (۱۳۳۱) اعلیحضرت محمد ظاهرشاه پخواني پاچا د هېواد جنوب غربي سیمو ته په دوره راوتلی وُ، د کندهار د اولس له خوا یوه عریضه ورته ترتیب سوه، چې پردې عریضې باندې ځلور زرو تنو لاسلیکونه کړي وو. ددې عریضې مطلب داسې وُ چې:

"که ویښو ځلمو ګناه کړې وي، نو حکومت دې مهرباني وکړي دا کسان دې علني محاکمه کړي او په جزا دې ورسوي او که ګناه نه لري نو د اعلیحضرت څخه التجا کېږي چې دا کسان راخوشي او اولس خوشاله کړي.".

دا عریضه د نایب الحکومه عبدالغني خان د مخالفت په وجه په کندهار کښې اعلیحضرت ته ورنه کړل سوه، ځکه اعلیحضرت د سردار "نور احمد جان" مېلمه وُ پټیپلې سوې وه چې دا عریضه باید دلته ورکړل سي. خو سردار نور احمد جان، سردار عبدالله جان او عطا جان سرمایه دار د خپل طبقاتي خصلت له مخې د دې عریضې د ورکولو مخنیوی وکړ. ځرنګه چې اعلیحضرت لښکرګاه ته نو د ویښوځلمو د یوه غښتلي او سرتېري ملګري په ذریعه چې سید محمد عمر آغا نومېده دا عریضه اعلیحضرت ته په داسې ډول ورکړه، کله چې دده موټر پر سړک راتېرېده نوموړي آغا خپل ځان د موټر مخې ته وروغورځاوه، اعلیحضرت موټر ورته ود راوه او سید محمد عمر آغا عریضه ورکړه.

دا چې ددې عریضې نتیجه څه سوه موضوع د بحث نه ده، خو موضوع دا ده چې خلکو د ویښو ځلمیانو سره د زړه له کومې همدردي او همکاري درلوده. تاسې اندازه لګولای سئ چې په



دې طریقه پادشاه ته عریضه ورکول د ځومره لوی خطر قبلول وو او هم دغه د ځلمو د افتخاراتو پانګه وه او ده.

بل دلیل چې په کندهار کښې د ځلمو محبوبیت ځرګندوي هغه د لویې جرګې انعکاس دی چې د ۱۳۳۴هـ ش په عقرب کښې د (نومبر ۲۰- ۱۹۵۵ع) په کابل کښې جوړه سوه او پینځه ورځې یې دوام درلود، د ټول افغانستان څخه هغه کسان ورته راغوښتل سوي وو چې حکومتورباندې اعتماد درلود. په دوی کښې د کندهار یو نفر چې محبوب خان حکمران نومېده په عامه لویه جرګه کښې د حکومت څخه غوښتنه وکړه چې حکومت باید ویښ ځلمیان خلاص کړي. دلته هم دا خبره مطرح نه ده چې حکومت د لویې جرګې ددې مطالبې په مقابل کښې څه وکړه؟ بلکه موضوع دا ده چې د سلطنت لوړ مقام هم د ویښ ځلمو د خلاصون هڅه کوي، چې دا هم د ویښو ځلمو د محبوبیت ځرګندویه ده.

په پای کښې به دا یوه غوټه لا بله هم د یوه سوال په شکل وړاندې کړم:

یو سوال؟ کله چې په کندهار کښې ویښ ځلمیان بندیا نېدل په کابل او نور افغانستان کښې چې د ویښو ځلمو څانګې وې. په هغو هېڅ هم ونه سول؟

په کابل کښې خو ملګرو په دغه وخت کښې ترقي هم وکړې، دا چې داسې ولې وسوه؟ ددې سوال پر ځواب باندې زه نه غواړم چې خپله تبصره وکړم، ځکه دا موضوع د خلکو د شخصیاتو سره تماس پیدا کوي او شاید ملامت پیدا هم نه سي، خو هغه مصاحبې چې د پورته سوال د حل په باب د ځینو کسانو سره ما کړې دي هغه به کټ مټ ولیکم:

## ښاغلی بېنوا:

کله چې مې پورته موضوع د ښاغلي بېنوا صاحب سره مطرح

کړه، دی ډېر سور و شین سو او ویې ویل:

د ځلمیانو د بندي کېدو په صله کښې حکومت ماته څه راکړي دي؟ زما هغه رتبه او هغه مې کار ؤ. دا چې بندي سوی نه یم دا نو د دوی کار ؤ چې ولې یې نه یم بندي کړی او کله چې مې د:

ګل پاچا الفت صاحب سره موضوع یاده کړه دوی وفرمایل:

زموږ دا یقین دی چې هغه څوک چې په بند تللي وو هغه بېګناه وو موږ ځینې کسانو وغوښتل چې د صدارت عالي مقام ته دا موضوع یاده کړو، خو موږ دا کار ونه کولای سو، چې په دې سره موږ یقیناً مقصر یو او باید اعتراف وکړو چې موږ د ملګری حق نه دی ادا کړی. دا چې موږ ته حکومت کار راکړی دی زه په ضمیر او وجدان قسم خورم چې د حکومت سره مو کومه سودا ستاسو پر سر نه ده کړې.

او کله مې چې د:

جناب قیام الدین خادم سره وکتل او دوی ته مې موضوع وریاده کړه، دوی صاف وویل:

"بخرکیه! ته خو لېونی سوی یې. حکومت زما کورته د اصلاح د اخبار مدیریت راووړ. رتبه ورسره وه، معاش یې ډېر ؤ، ما څرنګه ورته ویلي وای چې واخله واخله دا ټول شیان دي! تا وېښ ځلمیان بندیان کړي دي، زه ستاسو دا ټول شیان نه کوم! که مې داسې کړي وای حکومت به خپل ټوله شیان اخیستي وای او زه به یې لوخ لغر خوشی کړی وای. دا خو هېڅ مصلحت نه ؤ."

دا ؤ د هغو مصاحبو لنډیز چې په پورته ډول راوړل سو.

خو غلام محی الدین زرملوال صاحب په خپله یوه نشریه کښې چې د مجاهد اولس په هغه مضمون کښې چې عنوان یې "طاعون د طاغوت په ځای په افغان ملت مسلط سو" دی. په دې مقاله کښې دی لیکي: په ۱۳۳۰ هـ ش صدراعظم شاه محمود خان د وېښ



ځلمیانو دغه لاندې کسان لکه: ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، غلام محی الدین زرملوال، غلام دستګیر پوپل، عبدالرؤف بېنوا او نورمحمدتره کی خپل حضور ته وروغوښتلو. نوموړي صدراعظم په داسې حال کښې چې ډېر تریو او تریخ ښکاره کېده موږ ته اخطار راکړ چې:

نور وېښ ځلمیان سیاسي فعالیت نه سي کولای او ویې ویل هر څوک چې له حکومت سره همکاري غوره کړي، لویې رتبې به ورته ورکړل سي.

همهغه وو چې تره کي او ... دواړو د وېښ ځلمیانو د ګوند له غړي توبه څخه استعفا وکړه او دې دواړو د سیاست څخه شاه محمود صدراعظم ته توبه نامه ورکړه او صدر اعظم په بدل کښې ابن الوقت ... په ډیلي کښې د افغانستان په سفارت کښې مطبوعاتي اتشه مقرر کړ او ابن الوقت تره کی یې په امریکا کښې د افغانستان په سفارت کښې مطبوعاتي اتشه مقرر کړ، چې د دواړو عکسونه په کابل کالنۍ کښې ځنګ پر ځنګ خپاره سول.

[۵]

# سیاسي ماښام

د ویښو ځلمیانو په بندیګرۍ کښې تاسو ولیدل چې د حکومت پالیسي د یوه مخه بند یانېده نه وو، بلکه د حکومت په نظر ددې بلا مخه چې په هر څه راګرځېده راګرځوله یې. که به په رتبه او منصب کار کېده هغه ته به یې رتبه او منصب وروباخښه، که به په فراره کېدو مقصد لاس ته راته هغه بې فراره کړ او که به په خالي خندا کار کېده هغه ته به یې وخندل. داسې کسان هم وو چې د والي ښکنځل ورته افتخار ؤ، دې ډول خلکو ته به یې ویل چې خربشو چېړې یې. خو په پورته حربو کښې چې به یوه حربه لا نه پرې چلېده او تنها ملي سیاسي حقوق حاصلول بې غرض ؤ هغه بې بندیانول. داسې کسان هم چې بندي سوي نه وو خو بند یې په



زاریو غوښت دا نو د قضیې یو استثنایي او محدود شکل ؤ، دا و په عمومي ډول د هغه وخت د اجتماعي ټولنې سیاسي نفسیاتي کیفیت.

کله چې ویښ ځلمیان بندیان سول د افغانستان پر سیاسي افق سیاسي تیاره وغوړېده، حزبي انسجام سره وشلېده، هېڅوک نه پوهېدل چې څرنګه په سیاسي او ټولنیز شکل ځانونه سره راټول کړي، ناسته ولاړه قطع سوه، تبادل د افکارو له منځه ولاړ، ډله ییز عملیات د حکومتي مراقبت او پام لرنې لاندې وو خو سره له دې ډېرو سختو او مشکلو حالاتو پاتې ځلمیانو او روښنفکرانو په سیاسي او اجتماعي لحاظ د مترقي سمت پر لور حرکت کول غوره کړي وو. البته ددې ډول حرکت غوره کېده په انفرادي ډول وو. هر چا ته به چې موقع په لاس ورتله له خپله وسه سره سم به یې افشاګري کوله او هم به یې د ارتجاع سره د مبارزې په دود مقابله کوله.

## د نور محمد تره کي افشا ګري:

کوم وخت چې موږ بندیان وو نورمحمد تره کي هم سرکاري عهده قبوله کړه او د مطبوعاتي آتشې په توګه امریکې ته د یوه سرکاري پست په سلسله کښېچې ولاړ. هلته ده په یوه مطبوعاتي مرکه کښې دا خبره په ډېر فصاحت اعلان کړه چې "په افغانستان کښې نه مشروطه حکومت سته نه دیموکراتیک، خو چې سته هغه فقط د یوه خاندان حکومت دی، نورې خبرې ټوله درواغ دي"

د دوی دغه افشاګرۍ په جهاني مطبوعاتو کښې خوږ پیدا کړ چې ازانګې یې تر افغانستانه هم راورسېدلې او دی موقوف سو. بیا وروسته تره کی لندن ته راغی دلته یې هم څه نا څه افشا ګرۍ وکړې، خو کله چې کراچۍ ته راورسېد او مخ پر افغانستان راهي ؤ، دلته دوی خپلو هغو بیانیو ته چې په امریکه او لندن کښې یې

کړې وې څه نه څه پټری ورواچول چې افغانستان ته د راتګ له پاره زمینه مساعده سي.

په دې وخت کښې صدراعظم سردار محمد داؤد وُ، چې د افغانستان د ظالمو حکمرانانو څخه شمېرل کېده، په دې وخت کښې افغانستان ته د تره کي راتګ واقعاً د ډېرې لويې دلاورۍ نمايندګي کوي، کله چې دی کابل ته راورسېده، نو تر ټولو دمخه د "کابل سينما[1]" ته ورغی او له هغه ځايه څخه يې ښاغلي عبدالرؤف بېنوا ته ټيليفون وکړ چې "زه خو دا يم راغلم، نه يم خبر چې کور ته ولاړ سم که بنديخانې ته؟" بېنوا صاحب موضوع د غلام حسن خان صافي سره مطرح کړه او د دوی په توسط دا مسئله د سردار تر غوږو تېره سوه او هغه يې وباخښه، بندي نه سو، خو له کاره يې برطرفه کړ.

## د اوضاع تحليل:

د افغانستان په تاريخ کښې د سياسي رکود په لحاظ دغه شپې ډېرې تاريکې وې. سياسي نهضتونه په ټول هېواد کښې خپه وو، اقتصادي توازن سره برهم وُ، حکومت د "رهبري سوي اقتصاد" عمليه تطبيقوله بلکه تجربه کوله يې، د پاکستان له لارې پر افغان ترانزيټ مالونو بنديز لګېدلی وُ. په دې وخت کښې افغانستان مجبورېږي چې د شوروي سره د پنځو کالو له پاره د خپلو مالو د وړيا ترانزيټ قرار داد امضاء کړي. په داسې حال کښې چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د پښتنو او بلوڅو موضوع د اختلاف اعلی حد ته رسېدلې وه، پاکستان د سيټو په پکټ کښې چې دا د غربي هېوادونو سره يو فوجي تړون وُ، د شموليت هڅه کوله.

۱ - پخوا په کابل کښې يوه سينما وه چې د "کابل سينما" يې بلله.



افغانستان که له يوه طرفه داخلي ملي نهضتو په سياسي مطالبو سره ښورولی وُ خو له بل طرفه اقتصادي پرېشاني ورته پېښه وه. که له يوه پلوه يې پر پښتونستان زور اچاوه، له بله پلوه د غربي هېوادونو څخه لېرې کېده او په بين المللي ناپېيلو هېوادونو کښې يې سياسي موقف ضعيف کېده چې په دې توګه په هر لحاظ د تضاد سره مخامخ وُ. خارجي پاليسي، داخلي پاليسي، اقتصادي او د هېواد داسې نورې چارې ټولې سره ويجاړې او مخ په ورانۍ روانې وې. دا وُ د خان دومره صلاحيت او لياقت نه درلود چې د هېواد اهل نظر خلک سره راټول او د هېواد مشکلات ورته په مخ کښې کښېږدي. ددې پر خلاف اپرچونستان يې پر ځان راټول کړي وو او د هېواد پر مقدراتو يې لوبې کولې. هېواد ورځ په ورځ د بېطرفۍ او د ناپېيلتوب د لارې څخه لېرې کېده او د يوې داسې کندې لور ته ور روان وُ چې په هغه کنده کښې د افغانستان ټول تاريخي، سياسي او کلتوري افتخارات ښخېدونکي وو. دغه رنګه هغه ويښ ځلميان چې بنديان يا فراره سول داسې وترټل سوه، چې دومره توان يې نه درلود چې د نوي سره دې سياسي ملي جبهه راټوله کړي، اکثرو صحتونه د لاسه ورکړی وو، اقتصادي پرېشانۍ ورته پيدا سوې وې اوپه خپله بند هم په ځينو کښې منفي تأثرات پيدا کړي وو چې د نوي سره "ملي سياسي جبهه" او هغه هم په مخالفت کښې يو مشکل کار وُ، په داسې شرايطو کښې ځلميانو يو کار کولای سو او هغه يې هم وکړ، لکه دا چې: ځانونه يې په سياسي لحاظ ژوندي وساتل په خپلو کښې يې دوستانه تعلقاتو او يارانې دوام پيدا کړ. که څه هم اجتماعي فعاليت يې نه درلود خو تاثير يې موجود وُ، مرام او منشور يې نه درلود خو په اجتماعي لحاظ يې د روښنفکرانو په حيث مترقي خوا تعقيبوله، يو د بل کړو ته يې رسمي مسووليت نه درلود خو کارونه يې په سلا کول، شراکت يې په هېڅ شي کښې نه وو خو غم شريکه وو.

د دوی دې طريقې په هېواد کښې دښمنان وارخطا کړي وو او دوستان يې خوشاله ساتلي وو. شايد دغه وجه وي چې ويښ ځلميانو د هېواد تر دغه رکود ځانونه په اجتماعي توګه روغ رمټ راوايستل او د هېواد په نشيب و فراز او مدو جزرکښې يې ځانونه ونه بايلول، چې دا په خپله يوه لويه کارنامه او د ځلمنو يو ځانګړی ابتکار دی.

د مخه مو وويل چې په افغانستان کښې د سردار داؤد خان د صدارت دا دوره چې تقريباً له ۱۳۳۰ تر ۱۳۴۰ پورې کېږي خو را تياره او په غم لړلې زمانه وه چې په هر لحاظ متضاد حرکات روان وو، پخپله سردار داؤد د کومې مشخصې ايډيالوژۍ خاوند نه ؤ او نه يې کوم ټاکلی مکتب تعقيباوه، دده ټول اوامر د ړانده ډېره وه پر هر ځای چې به ومونښته.

## د ښځو مخ لوځي او په کندهار کښې بلوا:

د داؤد خان هغه سر تنبګي چې يې درلوده د هغه ذکر تر يوې اندازې سوی دی خو سره د خپلو ټولو منفي خصلتو ځينې داسې خويونه يې هم درلودل چې په نورو خلکو کښې ډېر لږ ليدل کېږي.

دی منتها درجه وطن دوسته او قوم پرور انسان ؤ خو خوش باوره، پر ده باندې چا د رشوت ويلی نه دي، مګر رشوت خواره او منفعت پرسته پرې راټول وو، دی عياش نه ؤ خو بد معاش ؤ.

ده په مادي او معنوي لحاظ د لوی افغانستان خوب ليده او آرزو يې وه، مګر چل يې نه ؤ زده، افغانستان ځنې کوچنی سو. ده ته خپل ځان د جهان د لويو شخصيتو څخه ښکاره کېده خو پر ده راټول سوو خلکو يوه هم ورته ونه ويل چې سړيه! ته بيخي کوچنی شخصيت يې.

د پورته خواصو په تأثير ده غوښتل چې په هېواد کښې تاريخي کارنامې وکړي، خو څرنګه چې شاوخوا يې لړلي کسان پر ځان



راټول کړي وو، هېڅ يوه آرزو يې ځای ته ونه رسېدله، نه خارجي اعتماد ورته حاصل ؤ نه داخلي همکاري. که به يې پينځه کلن پلان اعلان کړ، که به يې رهبري شوی اقتصاد، که به يې د خارج څخه د پورو غوښتنه وکړه، که به زراعتي اصلاحات، ټول د خپلو همکارانو د بې کفايتۍ او دده د خوشباورۍ په وجه ناکامه پاتې شول. خو تنها يوه عمليه دده د صدارت په دوره کښې سرته ورسېده هغه هم د هېواد د روشنفکرو ځوانانو په همکارۍ هغه وه د "ښځو لوڅ مخي".

د ښځو لوڅ مخي په افغانستان کښې عملاً د استقلال د جشن په ورځ (۱ سنبله ۱۳۳۸/ ۳۱ اګست ۱۹۵۹ع) کښې عملي سوه. دا کار که څه هم په فيوډالي ټولنه کښې يو لوی ابتکار او د قدر وړ اقدام ؤ او هم په داسې ارتجاعي ټولنه کښې لکه افغانستان ددې مترقي پروسې تطبيقول د هر سړي کار نه سي کېدای خو متأسفانه دغه ښه کار هم په دومره بد خوندۍ په کندهار کښې عملي سو، چې تاريخ هغه هېڅکله نه سي هېرولی.

د کندهار منورينو د ښځو د لوڅ مخۍ سره پوره همنوايي درلوده، د کندهار اکثره روشنفکران د ښځو د آزادۍ او لوڅ مخي طرفدار وو. ټولو عملاً برخه پکښې واخيستله، مګر د حکومت بې کفايتي دلته وه چې ځينې هغه کسان چې د خپلو کلتوري اثراتو لاندې وو او په وس يې نه وه پوره چې ددې اثر څخه ځان وباسي حکومت کوښښ وکړ چې د هغو ښځې په زور ورباندې راوباسي.

د کندهار بلوا په اصل کښې د لوڅ مخۍ موضوع نه وه، بلکه مالي موضوع وه او هم حکومت د افغانستان د نورو ولاياتو د مقاومت څخه بېرېده، نو يې په کندهار کښې داسې يوه احمقانه طرح وکړه چې کندهار تهديد او نور ولايات پرې وبېروي، په دې وخت کښې په کندهار کښې محمد صديق خان وزيري نائب الحکومه ؤ.

له یوه طرفه هېواد په اقتصادي لحاظ دې حال ته رسېدلی و چې د مامورینو معاشونه یې نه سوای تادیه کولای، ددې له پاره چې د خلکو فکر بلې خوا ته ور وګرځوي نو یې د ښځو په نهضت ګوتې پورې کړې.

سمدلاسه یې دوه او ان دری برابره د ځمکو په مالیاتو کښې زیاتوب راووست، له یوه طرفه په کندهار کښې ارتجاع د ښځو په نهضت تهدید وه، له بله پلوه پر مرتجع فیوډالانو باندې د ځمکو مالیات څو چنده حواله سول. دې د مالیاتو او د نهضت مسئلې د حکومت په مقابل کښې فیوډالانو او ارتجاع ته نسج او اتحاد ورکړ.

د کامران ملا سیف الدین د لوڅ مخی پر ضد یوه رجعت پسنده رساله په پاکستان کښې چاپ او د کندهار په جوماتو کښې یې وویشله. له بله پلوه په عیدګاه کښې ملایانو د نوي نهضت پرخلاف غونډه وکړه او هلته یې پاروونکې ویناوې وکړې خو منورین هم بېکاره نه وو ناست. د ارتجاعي افکارو پر ضد د کندهار په ورځپاڼه "طلوع افغان" کښې نشریاتو دوام درلود، چې په دې جمله کښې د جناب عبدالقدوس نجیب ذکر د یادونې وړ دی، دوی د نهضت په طرفداری د مصري مسلمانانو د ښځو په باره کښې یو مضمون ترجمه کړی و او هغه په اخبار کښې نشر سو، پر دې باندې د کندهار ملایان د موی مبارک پر جامع کښې سره راټول او نوموړې ژباړه یې وغندله او د نجیب محاکمه یې وغوښتله، خو نجیب صاحب ځنې پټ سو.

اصلاً د ښځو د لوڅ مخی مبارزه د ۱۳۳۷/ ۱۹۵۸ څخه د منورینو او ارتجاع تر منځ را روانه وه. حکومت په دې موضوع کښې علني مداخله نه کوله. د ارتجاع او مترقي عناصرو تر منځ دې مبارزې ورځ په ورځ تاو اخیست. پره او جنبه یې پیدا کوله، حکومت د خپلې بېکفایتی د پټولو له پاره په یوه داسې سنګر پسې ګرځېده، چې هم مترقي او هم دده د بېکفایتی پرده پوښ وي. نو یې د



کندهار بلکه د ټول افغانستان د روشنفکرانو دې آرزو یعنی "لوڅ مخی" ته ښه راغلی وواېه.

له بله پلوه څرنګه چې د حکومت نورې ټولې چارې ورانې وې او د چلاو ارابه یې ولاړه وه، پاکستان اقتصادي محاصره وربانډې راوستلې وه ، په داخل کښې یې اعتماد سلب و، عبدالملک عبدالرحیمزی یې چې د سردار راسته لاس و د خیانت او کودتا په تومت متهم کړی و، خزانه خالي وه او نور...

ددې بحران څخه د وتلو له پاره حکومت ته وروه چې پر یوه سمه جمهوري لار د اولس په مشوره مخ په وړاندې تللی وای خو څرنګه چې حکومت پر اولس اعتماد نه درلود او پخپله ددې بحران څخه وتلی نه سو نو د یوه ورک سوي راهي په شان پر کړه وړه لار روان سو، ځان او ملت ته یې مشکلات نور هم ورزیات کړل.

نو کله چې د طبیعي جبر پر بنا د منورینو سره پر لوڅ مخی اتفاق راغی او د هېواد نورې ټولې چارې ویجاړې وې او اولس په عمومي ډول آزرده و، نو د طبقاتي تضاد پر اساس عام اولس د ارتجاع په غېږ کښې ولوېد او د قدامت پرستو د لاسو وسله سو. د ملایانو سره زمینداران ملګري سول ځکه چې حکومت مالیه څو چنده کړې وه، سرمایه داران هم د ارتجاع په صف کښې ودرېدل ځکه پر دوی باندې هم مالیه حواله وه. له بله طرفه د پاکستان د مخالفت په وجه د هېواد تجارت سقوط کړی و او نه د حکومت په دستګاه کښې داسې تجربه کار شخصیت موجود و چې د مسئلې چاره پرې وسي او نه تر اعلیحضرت پورې چا دا جرأت کولای سو چې دې لېوني سردار ته سمه مشوره ورکړي. دی تل پر خپل خره سپور و او کله چې به یې د حکومت په رد و بدل کښې کومې مقرری کولې هغه به هم تر ده ډېر لېونیان وو، په دې لېونی دوره کښې په کندهار کښې محمد صدیق خان وزیری د کندهار نائب الحکومه و.

په لوی لاس دې لېونیانو د کندهار اولس پر دوو طبقو سره بېل کړ، د حکومت مامورین او منورین یوه طبقه سوه، ملایان، زمینداران، سرمایه داران او نور د اولس اکثریت چې ارتجاعي خصلت یې سره ورته و بله طبقه سوه او دواړو محاذ ارایي سره شروع کړه.

د قوس پر دېرشمه نېټه ۱۳۳۸ (۲۱ ډسمبر ۱۹۵۹ع) د کندهار د نائب الحکومه وزیري د بې کفایتۍ، مغرورۍ او بې پروایۍ په وجه په ښار کښې حرکت پیل سو. د ښار په لویو- لویو جوماتونو کښې یوه ورځ پخوا لا په ملایي خطو اعلانونه وځړول سول او خلک یې دې ته دعوتول چې د دوی پر قول د "بې ستری" او د "ناموس داری" د دښمنانو په مقابل کښې قیام وکړي. نائب الحکومه صاحب او د هغه شاوخوا خلک ددې پاخون په اهمیت نه پوهېدل څو په پورتنۍ نېټه د کندهار د "عمران د کوڅې" ځخه چې د صمد اخوندزاده کوڅه یې هم بولي او په هرات بازار کښې راخلاصېږي، خلکو د دوکانو په بندېدو پیل وکړ، تر شا د صمد اخوند زاده مریدانو شعارونه ورکول او دوکانونه یو په بل پسې بندېدل، چې چارسوته دا مظاهره راورسېده هلته د چارسو هغه کسان چې د ورځنۍ مزدورۍ له پاره راټول سوي وو ورسره ګډ او مخ پر شاه بازار او خرقې شریفې را روان سول.

نائب الحکومه سره د خپلې ډلې هغه برج ته راغی چې د دربار کولو ځای و، دلته د کندهار مخور ټول حاضر وو. نائب الحکومه هغوی ته مخ ورواړاوه چې ورسئ دغو لوچکانو ته ووایاست چې مخ وګرځوي ټولو مخورو ښه صاحب او ډېر ښه ورته وویل خو یواځې محمد اکبر خان راووت او د شاه بازار په خوله کښې یې یوه جمعیت ته په قهر وویل چې وګرځئ، خو ددغه جمعیت له منځه یو سړی راوووت او په زیږه او پوچه‌لهجه یې ځواب ورکړ، بس دی هم ولاړ او مظاهرې لا نور زور پسې واخیست.



د ورځې لس بجې وې چې نظامي فعالیت شروع سو، د قواؤ قوماندان د سردار محمد داؤد سره او بیا د دفاع له وزیر سره په موضوع خبرې وکړې وایي چې سردار صاحب ورته وویل: چې که مظاهره دا خلک نه بسوي نو دا روسي وسله چې مو د شوروي ځخه اخیستې ده پرې وګورئ او مور ته رپوټ راکړئ چې دا وسله څنګه کار کوي. خو په دې اثنا کښې په ښار کښې فیرونه واورېدل سول. سمدلاسه وزیري کابل ته ور وغوښتل سو او په عسکري ټانک کښې یې تر هوايي میدان پورې ورساوه. تر دې واقعې څو ورځې دمخه فرقه مشر حیات خان اڅکزی د کابل ځخه کندهار ته رالېږل سوی وُ خو تر پایه دده دنده نه سوه معلومه، دا سړی بې ځه نه وُرالېږل سوی، کله چې وزیري کابل ته لېږل کېدی حیات خان هم په الوتکه کښې ورسره ولاړ.

د یوولسو بجو مهال وُ چې د کندهار په بازارو کښې روسي جوړ سوي ټانکونه ودرېدل او د هرات په دروازه کښې د کندهار د پایلوچانو یوه ډله پیکار ته اماده او په جنګ یې پیل وکړ او د پره دارو لنګوټو دا ځوانان پر ګولیو ښه ورځغاستل او د شا له خوا د صمد اخوند زاده مریدانو شعارونه ورپسې ورکول چې: "نن د حق جنګ دی او حق د خدای نوم دی، څوک چې د خدای سره جنګېږي د هغوی تر ټوپکو به د ګولیو پر ځای اوبه وبهېږي" خو د ټوپکو تر خولو مړدک ووتل او د هغو خلکو ځیګرونه یې ورڅېرې کړل چې د خپلو عقیدو په منګولو کښې راګیر وو دا خبره دلته د ذکر وړ ده چې په دې ټوله مظاهره کښې عامو خلکو قطعاً هېڅ وسله نه درلوده او نه یې د مسلحانه مظاهرې اراده درلوده. ددې مظاهرې تلفات د یوه خبر له مخې د ۵۰ تر ۶۰ تنو پورې اټکل سوی دی. خو د بلې منبع له مخې د ۱۵۰ تر ۲۵۰ تنو پورې مړه یاد سوي دي او تاوان یې تقریباً د ۵ میلیونو افغانیو په حدودو کښې ټاکل سوی دی.

د کندهار سینما د یوه رنګمال په ذریعه وسوځل سوه. خلکو د ښځو پر مکتبو باندې یلغار وروړ. وزیري صاحب خپلې لونې وختي لا د مکتب څخه وایستلې. مظاهره چیانو د مکتب د نجونو سره د خپلو خویندو او لوڼو په شان سلوک وکړ او اکثر یې تر خپلو کورو ورورسولې. د هیچا بې عزتي اوربدل سوې نه ده. لکه د پښتنو د شان سره چې ښایي مظاهره چیانو د لوڅ مخو ښځو او نجونو سره د پښتني مېړمنو په ډول سلوک وکړ او په دې اړه دوړ کښې د یوې نجلۍ یا ښځې پزه نه ده وینې سوې.

د مظاهرې په جریان کښې د یوه خطیب وینا داسې وه:

"اې مسلمانانو! د خدای یو نوم ستار دی، د اسلام پاچا چې ستار نه وي هغه واجب الاطاعت نه دی. نو حکومت چې نن پر موږ ستر او پرده څیري نو راسئ چې خپل ستار خدای ته وژاړو" د کلمې د وروستۍ جملې سره سم ډلې په لوی آواز وژړل دا دی د اولس معصومیت او هغه ودحکومت بې کفایتي.

تر دې پېښې وروسته حکومت یو شمېر خلک بندیان کړل. چې هغه وو:

سردار میر احمد جان، حاجي حبیب الله خان پوپلزی. اسحاق جان علومي، عبدالقدوس خان بارکزی، صالح محمد خان پوپلزی. صمد اخوندزاده، دده زوی عبدالله جان اخوند زاده. ملک عبدالشکور خان مرحوم چې مړ هم په بندیخانې کښې سو. د دوی بند خلور کالهٔ وُ، پر دوی سربېره تقریباً ۳ سوه نور کسان هم بندیان سول خو هغه یې د دوو درو میاشتو په موده کښې خلاص کړل خو ددې اغتشاش سرشناسه خلک هغه پورتني کسان وو چې بندیان او بیا د کابل دهمزنګ بندیخانې ته ورتحویل سول.

دا ټوله ډرامه چې حکومت هوا ورته ورکوله د لوڅ مخې د راوستلو له پاره نه وه، بلکه د جهان، د خپل اولس او حتی د خان د



خطا ایستلو له پاره وه، خو سره له دې د حکومت ارابه و نه چلېده! او دوی مجبور سوه چې حکومت ملت ته ورپرېږدي.

دا خبره د پام وړ ده چې د ۱۳۴۳ کال دیموکراسي او مشروطیت د دولت نېک نیتي نه وه، بلکه افغانستان په هر لحاظ د سقوط سره مخامخ وُ. اقتصادي، سیاسي، قبایلي، حتی د شاهي کورنۍ کورني اختلافات دې درجې ته رسېدلي وو چې د نجات لاره یې ببله دې. بله نه وه چې د ملت حقوقو ته سر ټیټ کړي. ددې ډرامې یاد دوی په اصطلاح "بلوا" سره د ویښ ځلمیانو څه اړه نه وه خو ځرنګه چې د کندهار ډېرو مترقي روشنفکرانو د لوڅ مخې په تائید د کندهار د منورینو سره اوږه پر اوږه په دې نهضت کښې برخه درلودلې وه او دا واقعه د کندهار په تاریخ کښې د هغه وخت د حکومت د منافقانه چالونو یوه بېنظیره ډرامه بلل کېدله نو نه باید پر دې ډرامه سترګې پټې سي او افشا کړي یې ونه سي، د ځلمیانو څخه چې په دې نهضت کښې یې برخه درلودلې وه عبارت وو له:

حاجي محمد انور خان اڅکزی. لعل محمد خان کاکړ. غلام دستګیر خان پوپل. فتح محمد خان ختګر. آغا محمد خان کرزی، فیض محمد انګار. سید عبدالوهاب آغا، محمد عمر خان میوندي او محمد علم بڅرکی او هغه ښځې چې تر ټولو لومړی لوڅ مخې سوې او د کندهار د لوڅ مخې په تاریخ کښې د افتخار وړ برخه لري عبارت وې له: مېرمن نفیسه سلیمي او مېرمن ساجده بڅرکې څخه. دوی دواړو په خورا مېړانه خپل طبیعي او بشري حق ته ورودانګل او د سر په سودا یې دا د پېړیو پېړیو د غلامۍ کڅوړه یعنی چادري له سره ایسته کړه، د ځان او نورو خویندو له پاره یې دایمي آزادي حاصله کړه.

[۶]

# پایخوړ

په ۱۳۴۳ کال (۱۹۶۴ع) چې افغانستان ته نوی اساسي قانون راغی نو د ویښ ځلمیانو د پایخوړ زمانه شروع کېږي. ویښ ځلمیان تر دې وخته هم د خلکو په اذهانو کښې او هم په عمل کښې موجود وو او ځانونه یې د افغانستان تر نیم دیموکراتیک عهده پورې راورسول. په دې وخت کښې خلکو ته د ټولنو او احزابو د جوړولو هیلې پیدا سوې وې او هر چا هڅه کوله چې د خپلې- خپلې ایډیالوژۍ سره سم ټولنیز تشکل وکړي.

په دې لړ کښې تر ټولو دمخه نور محمد تره کی هڅه وکړه چې د ویښ ځلمیانو پاتې ملګري سوسیالیزم ته دعوت کړي، ددې غرض له پاره د ښاغلي محمد ابراهیم خواخوږي په کور کښې متعدد



مجلسونه وسول خو ځلمیانو راډیکاله او افراطي شیوه نه غوښتله. ځکه چې دا خلک په خپل طبقاتي خصوصیت کښې د معتدل او میانه رو خصلت درلودونکي وو ځکه نو له تره کي سره موافقه ونه سوه او دی د ابد له پاره د ویښ ځلمو د کاروان څخه جلا سو او ځانته یې بېل د خلق کمونست ګوند غوره کړ.

څرنګه چې محمودي صاحب هم په کندهار کښې د ویښ ځلمو پر مرام باندې لاسلیک کړی ؤ نو د ده پاتې کسانو هم په دغه وخت کښې تر نورمحمد تره کي وروسته د "شعلهء جاوېد" په نامه لاره غوره کړه چې دا هم د مارکسستي نیشنلست د لارې لار ویان دي او بله ډله هم چې د ویښ ځلمو څخه جلا سوه هغه د "افغان ملت" نېشنلست ډله وه، چې محمد رسول خان پښتون، قیام الدین خادم او نور په دې لړ کښې د یادولو وړ دي.

دغه رنګه په وروسته- وروسته کښې ارواښاد موسی شفیق او نورو د اسلامي جمعیت د جوړېدو هڅه وکړه خو په مجموعي صورت د هېواد په روشنفکرانو کښې ټولنیزه روحیه سوسیالستي وه په دې عبوري دوره کښې ویښ ځلمیانو او نورو منورینو هڅه کوله چې د یوه مترقي پلېټ فارم بنیاد ګذاري وکړي او که ممکنه سوه یو حزب رامنځ ته کړي. البته دا کار هم ځلمیانو ترسره کاوه، په دې لړ کښې لومړی مجلس د آغا محمد خان کرزي کره ؤ، چې په لاندې ډول د هغه ذکر کوم:

## د جناب آغا محمد خان کرزي کره لومړی مجلس:

ددې لپاره چې موضوع اوږده نه سي نو په لنډه توګه د دې منورینو په مجلس کښې چې کومه قطع نامه تصویب سوه داسې وه:

د اساسي قانون د ۳۲ مادې په استناد چې د هېواد ټولو طبقاتو او خلکو ته د ټولنې کولو حق ورکړل سوی دی د کندهار منور ځوانان د لومړي ځل له پاره د اجتماعي ګټې په خاطر د ښاغلي اغا

محمد خان کرزي کره یوه غونډه کوي. دا ټولنه چې د ثور پر شلمه ۱۳۴۴ (د مې لسمه ۱۹۶۵ع) وه، سوه غړی یې په لاندې ډول وو:

ښاغلی آغا محمد کرزی، محمد علم بڅرکی، عبدالمجید سربلند، ښاغلی عبیدالله خان، رشید آرین، جان محمد خان پلار، افندي صاحب، عبدالحی خان او عبدالصمدویسا. په نتیجه کښې فیصله وسوه چې:

"په اوسنیو شرایطو کښې د هېواد تر ټولو لویه نیمګړتیا اقتصادي مشکل دی او ددې اقتصادي مشکل ضرر هم تر ټولو زیات د هېواد زحمتکښانو ته متوجه دی، د زحمتکښانو د حقوقو حمایه مونږ ټولو منورینو ته لازمه ده، ددې له پاره چې خپل ځانونه سره راټول او په ځان کښې دومره قوت پیدا کړو چې د دوست دوستي وکولای سو یعنی د زحمتکښانو د ضرر دفع او د ګټې د کسب توان په مونږ کښې باید موجود وي، چې دا نو هغه وخت ممکن کېدای سي چې مونږ په ټولنیزه توګه د حزب د جوړېدو بنیاد ګذاري وکړو او په دې توګه به په ټول هېواد کښې د اقتصادي مساوات او اجتماعي عدالت پروسه جاري سي، د تولید صحیح تقسیم او توزیع د زحمتکښانو د حقوقو د تأمین له پاره زمونږ جدو جهد تشکیلوي".

دا وه هغه قطع نامه چې د کندهار د منورینو او ویښو ځلمیانو د افکارو عکاسي کوي او دا راښیي چې د کندهار د ۱۳۴۴ کال ځینې ویښ ځلمیان د سوسیالستي افکارو منونکي او تائیدوونکي وو.

## عقاید او د اصلاحاتو پروګرام:

په ۱۳۴۵ کال کښې ښاغلي محمد هاشم میوندوال د خپل صدارت په دوره کښې د خپلو عقایدو اظهار نشر کړ چې پر دغو عقایدو باندې ښاغلي ګل پاچا الفت چې د هېواد یو صاحب نظره او پوه شخصیت ؤ داسې ولیکل:



په "عقاید او پروګرام اصلاحات" کښې چې د ښاغلي میوندوال له خوا نشر او خپو رسو ځینې نوي ټکي ډېر جلب نظر کوي. لکه: "سوسیالیستي، ارضي اصلاحات، د ملکیت تحدید او د ملوک الطوایفي سره مجادله".

ښایي چې دغه ټکی به په اساسي قانون یا د ښاغلي میوندوال په خط مشي کښې په داسې شکل موجود وي لکه په یوه آبشار کښې چې بالقوه برېښنا موجوده ده مګر څوک یې په سترګو نهویني"[1]

دغه رنګه سناتور خادم د میوندوال پر "عقاید و پروګرام اصلاحات" باندې داسې ولیکل:

جناب صدر اعظم ښاغلی محمد هاشم میوندوال د پنجشنبې په شپه د سنبلې دریمه ۱۳۴۵ د شپې پر ۹ بجو خپل مهمترین سیاسي نطق چې دده د خط مشي اظهارات پکښې وو ایراد کړ. دده د بیان څخه ښکاره وه چې باید افغاني ټولنه د سوسیالیزم خواته رهبري سي. په دې نطق کښې په وارو وارو د مترقي دیموکراسي ذکر سوی دی مونږ د دوی دا وینا له ټولو ویناؤ څخه چې تر اوسه سوی دی جامعه بولو[2].

د میوندوال صاحب عقاید څرنګه چې تاسو ولیدل د هېواد د اجتماعي افکارو او احساساتو ترجمان وو، سوسیالیزم د منورینو ټولنیزه روحیه وه، البته تاسو ښه ترا پوهېږئ چې د میوندوال صاحب سوسیالیزم د اسلامي او ملي عقایدو سره سمدلاسه ټکر نه درلود بلکه یو تکاملي سوسیالیزم ؤ. نو پر دې بنیاد ویښ ځلمیان تر ۱۳۳۰ را په هیسته د لومړي ځل له پاره د ښاغلي مدیر صاحب جیلاني خان کره سره راغونډ سول.

۱ - د "افغان ملت" اخبار د سنبلې ۲۲ کال ۱۳۴۵.

۲ - افغان ملت اخبار اتمه ګڼه د وږي میاشت ۱۳۴۵.

## په کندهار کښې د مدیر صاحب جیلاني خان کره غونډه:

د ۱۳۴۵ل کال د لړم په ۲۲مه نېټه دا کسان پر مسایلو باندې سره وړغېدل:

مدیر صاحب جېلاني خان، انګار صاحب، محمد علي جان، محمد نورخان، هادي صاحب، محمد علم بڅرکی، شېر احمد جان او داسې فیصله وسوه:

چې د میوندوال صاحب د مترقي دیموکراسۍ سره د ویښو ځلمو روحیه سمون لري. خو دا کوښښ باید وسي، چې د ویښ ځلمي نوم دوی د حزب په نامه ومني او هم په دوهمه غونډه کښې فیصله وسوه چې د کندهار څخه دې ښاغلی مدیر صاحب جېلاني خان، فیض محمد انګار، شېر احمد جان او محمد علم بڅرکی کابل ته ولاړ سي او هلته دې د ملګرو سره پر موضوع غور وکړي او تصمیم دې ونیسي.

کله چې موږ کابل ته ور ورسېدو نو مو د ۱۳۴۵کال د لړم پر اووه ویشتمه د ښاغلي نور محمد خان وکیل کره غونډه وکړه.

## په کابل کښې د نور محمد خان وکیل کره غونډه:

په دې مجلس کښې بېنوا صاحب، حبیبي صاحب، رشاد صاحب، شاکر صاحب، خواخوږی صاحب، ښاغلی نور محمد خان وکیل، ښاغلی غلام جیلاني خان، انګار صاحب، ښاغلی شېر احمد جان، محمد علم بڅرکی، آغا محمد کرزی او ښاغلی آغا محمد رحماني شامل وو.

په دې غونډه کښې تر کافي مباحثې وروسته د رایو په اکثریت پرېکړه وسوه چې د میوندوال د "اصلاحي پروګرام" روحیه که څه هم د ویښو ځلمو د افکارو سره نږدې ده او موږ ددې پروګرام عمومي ټکی تائیدوو، مګر د میوندوال صاحب سره شراکت ځکه نه سو کولای، چې د میوندوال کابینه او نور غړي حزبي شخصیتونه نه



دي او هم په ملت کښې اثر او رسوخ نه لري. په دې کار کښې موږ ناکامه کېږو، دا مجلس بې له دې چې غوڅه پرېکړه وکړي بلې غونډې ته وځنډېده، چې هغه بیا د بېنوا صاحب کره وو.

## د ښاغلي عبدالرؤف بېنوا کره غونډه:

دا غونډه د لړم پر اته ویشتمه په ۱۳۴۵ کال کښې وسوه. په دې غونډه کښې علاوه پر مخکینیو کسانو غلام دستګیر خان پوپل، ډاکټر نور احمد برېښی او واسعي صاحب هم شامل وو، دلته فیصله وسوه.

د "میوندوال او دده جمعیت ته دې دا واضح سي چې د کندهار ویښ ځلمیان د "اصلاحي پروګرام" سره موافقت لري خو اتحاد او خبرې هغه وخت کوي چې د ویښ ځلمیانو شرایط ومنل سي".

د رایګیرۍ په وخت کښې پر پورته فیصلې باندې ښاغلي عبدالشکور رشاد، محمد علم بڅرکي او ښاغلي شېر احمد جان په مخالفت کښې رایې ورکړې او هم په دغه غونډه کښې فیصله وسوه چې ویښ ځلمیان باید خپل شرایط تهیه او وړاندې کړي.

## د محمد هاشم میوندوال کره غونډه:

دا مجلس د ۱۳۴۵ کال د لړم پر اته ویشتمه د شپې اته نیمې بجې وسو. دلته موږ ټول پورته خورلس تنه بیله ډاکټر برېښي حاضر وو، مجلس په لاندې توګه شروع سو:

۱. د محمد علم بڅرکي د یوه سوال په ځواب کښې ښاغلي میوندوال صاحب وویل: د اصلاحي پروګرام په اساس چې کومه ډله جوړه سي زه به په هغه کښې یو غړی یم.

۲. د ښاغلي پوهاند حبیبي صاحب د سوال په ځواب کښې میوندوال صاحب وویل: حکومت ځکه د حزب جوړولو کار ته لاس وغځاوه چې محیطي اشخاصو نه کولای سول چې دا کار په

معتدل صورت انجام کړي. ځینو دا کار په افراطي صورت شروع کړي او ځینې بیا داسې په تفریط کښې واقع دي چې نباید داسې وي، موږ غواړو چې په معتدل ډول دا کار وکړو.

۳. د بېنوا صاحب د سوال په ځواب کښې میوندوال صاحب وفرمایل چې زموږ په دیموکراتیک جمعیت کښې به د ټول هېواد خلک شامل وي.

۴. د رشاد صاحب د سوال په ځواب کښې یې وویل: د سوسیالیزم څخه مطلب دا دی چې لوی صنایع او مهم تولیدي صنایع باید ملي سي. ددې ډول سوسیالیزم غرض دا دی چې طبقات له منځه یوړل سي، د سرمایه دارانو سرمایه نوره ډېره نه سي او غریبان نور پسې غریبان نه سي.

۵. د محمد علم بڅرکي د بل سوال په ځواب کښې یې وویل: چې زموږ نوی حزب باید پر ځینو اساساتو ولاړ وي. ملوث او ناپاکه اشخاص په حزب کښې باید شامل نه سي.

۶. د ښاغلي حبیبي صاحب د بل سوال په ځواب کښې یې وویل: تر څو چې حزب نه وي جوړ سوی، زه نه سم کولای چې په کابینه کښې دې لاس ووهمه. که تر وخت دمخه زه داسې کار وکړم، نو حزب به جوړ نه وي او کابینه به له لاسه وتلې وي.

۷. د تبصرې په ډول میوندوال صاحب وویل چې زموږ اوسنی حال داسې دی چې پارلمان دمخه راغی او حزب وروسته جوړېږي دا داسې مثال لري لکه ګاډۍ چې د اس تر مخه وتړله سي.

۸. د بڅرکي د یوه سوال په ځواب کښې یې وویل: کوم وخت چې د احزابو قانون جوړ او تر پارلمان تېر سو نو هلته به د قانوندانانو او نورو خلکو په مرسته حزبي مرام ترتیب او کمیټې به جوړوو.

۹. د انګار صاحب د یوې پوښتنې په ځواب کښې یې وویل: کله چې مترقي حزب جوړ سي او ددې حزب غړي په پارلمان کښې



خپلې څوکۍ ولري نو اصلاحي پروګرامونه هغه وخت عملي او قانوني رنګ درلودلای سي او هم به هغه وخت د منلو وړ وي. مګر اوس هم چې حزب جوړ سي داسې پروګرام وړاندې کوم. دغه رنګه کله چې حزب جوړ سي نو د کابینې وزیران به یا موافقه راکوي او یا به د دوی په عوض نور حزبي خلک کابینه جوړوي. او هم یې اضافه کړه که په اوسنیو شرایطو کښې د پارلمان غړو زموږ له حزب سره شراکت وکړ خو ښه. هر څو کسانو چې زمنا سره ملګري کوله د هغو ملګری ته به ښه راغلی وواېو او که څوک نه راغلل پاتې کسانو ته به بله چاره لټوو.

۱۰. د بېنوا صاحب د یوې توضیح په تفصیل کښې ښاغلي میوندوال وفرمایل: تا ته د "ویښ ځلمیانو" سابقه معلومه ده. تاسو واقعاً تر اوسه پورې خپله لمن په سیاسي تقوا پاکه ساتلې ده او ماته هم په دغه وجه تر ټولو خلکو دمخه دا آرزو وه چې له تاسو سره ووینم.

۱۱. بېنوا صاحب د هغه خپل خاص انداز په ډول چې ظرافت او معنی به دواړه پکښې موجود وو میوندوال صاحب ته وویل چې: ځلمیان ددغه اصلاحي پروګرام د عمومي روحیې سره موافقه لري، نو که دا اصلاحي پروګرام عملي شکل ومونده خو ښه او که داسې وو چې دې تحریک عملي شکل پیدا نه کړ، نو به ته زموږ سره "ویښ ځلمی" کېږې. میوندوال هم په ډېره معنی داره خندا وخندل او دا خبره یې ومنله.

۱۲. د بڅرکي د یوه سوال په ځواب کښې یې وویل: چې حکومت ته د حزب جوړېدل ځکه ضروري دی چې نه په داخل کښې موږ څه کولای سو او نه خارجي هېوادونه اعتبار راباندې کوي. لکه چې دا اوس یې موږ د قرضو اخیستلو له پاره د مشکلاتو سره مخامخ کړي یو.

۱۳. د رشاد صاحب د سوال په ځواب کښې یې وویل چې: موږ په نوي حزب کښې غواړو چې طبقات له منځه ولاړ سي. سرمایه داران او زحمتکښان دواړه د "بورژ وازی" سطحې ته راولو او هم دغه یوه طبقه وي.

۱۴. د بېنوا صاحب په ځواب کښې یې وویل چې: ځلمیان دې اوس د پخوا په شان خپل ځانونه وساتي په حزبي توګه دې حرکت اوس نه پیل کوي، البته خپل ارتباطات دې د اولس سره وساتي کله چې موقع راغله نو به ږغ سره کوو.

په دې توګه مجلس تقریبا یو نیم ساعت دوام درلوده، د سبا مجلس له پاره د ښاغلي بېنوا صاحب کور وټاکل سو.

د ښاغلي بېنوا صاحب کره بیا دا غونډه د لړم پر نهه ویشتمه (۱۳۴۵) وسوه، چې دا لاندې غړي پکښې وو:

- بېنوا صاحب، حبیبي صاحب، رشاد صاحب، شاکر صاحب، خواخوږی صاحب، واسعي صاحب، نور محمد خان وکیل، کرزی صاحب، مدیر صاحب جیلاني خان، انګار صاحب، شېر احمد جان، محمد علم بخرکی، غلام دستګیر خان پوپل او آغا محمد خان رحماني.

په دې غونډه کښې دا لاندې پرېکړې وشوې:

۱. که څه هم موږ د اصلاحي پروګرام د عمومي روحیې سره موافق یو. خو لا تر اوسه ورسره یو ځای شوي نه یو، ځکه نو باید د خلکو سره چې تماس نیسو د اولس د ذهنیت په اندازه ورسره ورغږېږو، نه دا چې د اصلاحي پروګرام ترجماني وکړو.

۲. موږ باید خلک د زاړه ویښ ځلمیتوب له پاره راوبولو او کوښښ وکړو، چې خلک نورو ډلوته ولاړ نه سي.

۳. او هم خلک باید د ویښ ځلمیانو پر مرام نامه راوبلل سي، ځکه که بیا سره یو ځای سونو دا دواړې مرامنامې په خپل اصل



کښې چندان تفاوت نه سره لري. که موافقه وسوه او که ونه سوه تاوان به مو نه وي کړی.

۴. اوس موږ په دې معتقد یو چې د میوندوال صاحب د اصلاحي پروګرام کلیات صحیح دي خو جزئیات یې اصلاح او ترمیم غواړي. او هم دا خبره چې څرنګه خلک به دا برنامه عملي کوي د کتنې وړ موضوع ده او دې خبرې ته هم باید پیش بینه یو چې د مترقي دیموکراتیک حزب کومه برنامه چې جوړېږي په هغه کښې به هم د ویښ ځلمیانو غړي شمولیت لري. ځکه چې دغه خلک د حزب موسسین بلل کېږي.

۵. د کابل د ویښ ځلمیانو د کمیټې منشي ښاغلی شاکر صاحب وټاکل سو او ټاټوبی یې داسې معرفي سو.

"نور احمد شاکر امر موسسه زبان شناسي، د ادبیاتو پوهنځی د کابل پوهنتون".

وروسته تر پورته مجلسو کندهاري ملګري کندهار ته ستانه سول. څرنګه چې پس له دې د ویښ ځلمیانو اجراآت د مترقي دیموکراتیک جمعیت سره ګډېږي. نو زه به هڅه وکړم چې یواځې هغه نقش را په ګوته کړم، چې په ځلمیانو اړه ولري. ځکه چې ددې کتاب موضوع د ویښ ځلمیانو ده.

## په کندهار کښې د پښتون باغ غونډه:

دا غونډه پر یوولسم د قوس ۱۳۴۵ وسوه، رشاد صاحب د کابل څخه تشریف راوړی و او د کابل د جریان رپوټ یې ملګرو ته داسې بیان کړ:

- پر ۱۳۴۵-۹-۵ باندې د ځلمو له خوا ښاغلي شاکر، بېنوا صاحب، حبیبي صاحب، رشاد صاحب او هم د دغو څلورو تنو په سلا ښاغلی الهام صاحب چې دوی هم ځان ویښ ځلمی باله راسره ملګری سول کله چې پورته کسان میوندوال ته ورغلو نو هلته ډاکتر احسان

تره کی، ډاکټر حیدر او ارغندیوال هم حاضر وو. تر ۵ ساعته مباحثې وروسته په دې سبا مونږ پورته کسان چې شمیر مو نه (۹) تنه کېده په چهل ستون کښې سره کښیناستلو، دا خبرې مو وخېړلې:

۱. ټولو د مترقي دیموکراسۍ عمومي روحیه تائید کړه.

۲. حکومتي غړیو په کلکه داسې تعهد وکړ، چې که د میوندوال حکومت نه وي هم مونږ به خپل حزبي مرام ته دوام ورکوو.

۳. ددې سوال په ځواب کښې چې: آیا دا خو به د حکومت کوم چم نه وي چې د حزب په جوړېدو ملي شخصیتونه له منځه باسي؟ ځکه رشاد صاحب په دې مجلس کښې دلیل اقامه کړی ؤ چې د اصلاحي پروګرام په لیکلو او د حکومت په عمل کښې ښکاره توپیر سته. مثلاً په پروګرام کښې د مځکو تحدید ذکر سوی دی. خو عملاً مونږ وینو چې سرکاري مځکې خرڅېږي او په داوطلبۍ یې خلکو ته ورکوي.

پر دې موضوع تقریباً یو نیم ساعت مباحثه وسوه خو نتیجې ته سره ونه رسېدو.

۴. د میوندوال د حزب په جوړېدو کښې چې نوم یې "مترقي دیموکرات" ؤ، د رشاد صاحب په پېشنهاد چې باید نوم ددې حزب "ځلمی دیموکرات" وي ډېره توده مباحثه سوې ده او ډېرې تروې او ترخې سره ویل سوي دي ښېنوا صاحب هم د میوندوال صاحب سره خبرې کړې دي خو کومه نتیجه یې نه ده ورکړې او هم رشاد صاحب ویلي دي تر څو چې د ویښ ځلمیانو اطمینان راځي تر هغه وخت مونږ خپله تګلاره جلا ساتو.

خو په پورته ډاکټرانو کښې یوه وویل چې: د ویښ ځلمیانو مرام دی حاضر سي او د اصلاحي پروګرام سره دې مقابله سي. کله چې مرام حاضر سو نو پر دغه موضوع خبرې وسوې. د حزب پر نامه باندې چې رشاد صاحب "ځلمی دیموکراټ" پیشنهاد کړی ؤ،



مخالفینو په دې دلیل ور رد کړ چې د "ځلمي" توری په سیاسي دکتورینو کښې څه مفهوم نه لري. خو حبیبي صاحب د مخالفینو دا خبره ونه منله او ویې ویل چې دا نوم په نړۍ کښې سته. چنانچه په پاکستان، ترکیه، هندوستان کښې مونږ اورېدلی دی او دا موضوع د یوې سوالیې په ډول پاته سوه.

څرنګه چې ددې مجلس نورې خبرې او موضوعات د ځلمو سره اړه نه لري نو دلته صرف نظر ځنې کوو. د پورته جریان د ذکر څخه مې مقصد دا ؤ چې په لومړي سر کښې لا چې ویښ ځلمیان په مترقي دیموکراټ کښې شاملېدل د خوف و رجاء تر منځ وو او تر پایه پورې هم دغه حالت پاته سو او د یوه نامعلوم فشار لاندې ځلمیان د مترقي دیموکرات د حزب خواته ورپورې وهل سول. ښایي هم دغه وجه وي چې سره زاړه نه سول او اغلباً د ۱۳۵۰ په اواخرو کښې (۱۹۷۱ع) د ویښ ځلمیانو ډېر محترم غړي لکه پوهاند عبدالحی حبیبي صاحب، پوهاند عبدالشکور رشاد، ښاغلی بېنوا صاحب، فیض محمد انګار صاحب، مدیر صاحب غلام جېلاني خان، نورمحمد خان وکیل، محمد ابراهیم خواخوږی صاحب او داسې نور رسماً د مترقي دیموکرات د حزب څخه ووتل، خو محمد علم بڅرکی، عبدالغني خان میوندي، غلام دستګیر خان پوپل او ځینې نور کسان په حزب کښې پاتې سول او دا پاتې کسان تر هغه وخته په حزب کښې پاته وو څو په هېواد کښې درنې ټکې لوېدلې لکه د جمهوریت ټکه او د خلقیت ټکه.


هغه ویښ ځلمیان چې د مترقي دیموکراتیک حزب څخه ووتل نو یې داسې استغفار ووایه:

## سیاسي استغفار

قومه کړم له دغې سهوې په سل واره استغفار
چې مې وساته له مرګه نافهمۍ مرکوني مار
په خطا مې ناړې تېل سوې ځو شېبې هغه ځراغ ته
چې يې غله ترې رڼا ته، بند د چور او د لوټ مار
يو مړ ژواندی پړانګ مې روغ کړ په ملهم بې ځايه رحم
خدايه ته غيلې ترې ژغوره کني باسي يې د مار۱

ه دغه استغفار د ويښ ځلمو کتاب ته خاتمه ورکوم.

په درناوي



۱-۲-۸۶

۱ - د مار د قتل په معنی.



# ويښ ځلميان

## [نظريات]

۱) ويښ ځلميان د مدير صاحب غلام جيلاني په نظر:

دا لاندې مضمون د دوی د هغه نظريې ترجمه ده چې دوی په فارسي ليکلې ده. په دې مضمون کښې د دوی په خپل لاس ليکلی ژوندليک او هم د ويښ ځلميانو په باب ځينې نه ردېدونکي حقايق راوړل سوي دي.

ځرنګه چې جناب مدير صاحب جيلاني خان د ويښ ځلميانو د باسابقه ترينو، مخلصو او روښتيا ويونکو شخصيتو څخه ګڼل کېږي. ځکه نو د دوی د نظريې او شخصيت د روښانه کېدو په خاطر دلته دا مضمون ترجمه سو، چې لوستونکي په دې باب هر اړخيز معلومات تر لاسه کړي.

محمد علم بخرکی

زه غلام جیلاني الکوزی د کندهار د ښار اوسېدونکی وروسته ترهغه چې ابتدایه ښوونځی مې ولوست، د اعلیحضرت امان الله خان په اواخرو کښې د تلګراف په ښوونځي کښې داخل کړل سوم چې په ۱۳۰۴ کال کښې مې شهادتنامه لاس ته راوړه. څه موده د کندهار په تلګرافخانه کښې او څه وخت مې په کابل او سپین بولدک کښې هم دنده اجرا کړه، په ۱۳۱۴ کال کښې د فراه په تلګرافخانه کښې د منتظم په حیث مقرر سوم او په ۱۳۱۵ کال کښې بېرته کندهار ته راتبدیل سوم. څرنګه چې د تلګراف عمله په دغه وخت کښې خورا محدوده وه او د هېواد ضرورت ډېر و، نو د سردار محمد داوُد خان په امر چې د کندهار نائب الحکومه او عسکري قوماندان وُ، د یو شمېر زده کوونکو د زده کړې دنده یې را په غاړه کړه چې د هغو شمېر لس تنه کېده، تر یوه کال وروسته دوی کامیاب سول او د تلګراف په شق کښې د هېواد خدمت ته وګومارل سول، په ۱۳۲۴ کال کښې مې هڅه وکړه چې د تلګراف د شق څخه ځان ګوښه کړم، کله چې زه په ۱۳۲۴ کال کښې د خپل ځان د منفک کېدو په خاطر کابل ته راغلم، په دې وخت کښې د یوه نوي جمعیت د جوړېدو خبرې شروع وې چې ما هم پکښې ګډون وکړ، چې په وروسته- وروسته کښې دې جمعیت د ویښ ځلمیانو رنګ واخیست.

ما د مخابراتو ریاست ته د خپل ماموریت څخه خپله استعفا وړاندې کړه، په دې وخت کښې د مخابراتو مستقل رئیس میرزا محمد حسین خان وُ، چې پر دې دنده سربېره یې پر عایداتو د مالیې د اداري چارې هم اجرا کولې او د پیسو په راټولولو کښې خورا غښتلی وُ، ځکه یې نو زما وچه استعفا رامنظوره نه کړه، چې په نتیجه کښې زما او دده د خولې مناقشه هم سره وسوه، له هغه ځایه چې راووتم برابر کندهار ته راغلم او په کندهار کښې مې هم خپل



ماموریت ته رجوع ونه کړه، تر یو څه مودې وروسته د کندهار نائب الحکومه مرحوم محمد قاسم خان زه وروغوښتم او راته یې وویل: د مخابراتو د مستقل ریاست په وړاندیز په دې مضمون فرمان صادر سوی دی: "فني خلک نه سي کولای چې استعفا وکړي، که د کندهار د تلګراف خانې منتظم په خپله خوښه کار ته ادامه نه ورکوي. نو زولانه دې ورولوېږي او کارته دې حاضر کړای سي. ځکه مو نو تاسو ته دا خبره واضح کړه چې خپله چاره وکړئ" څرنګه چې نوموړی نائب الحکومه یو حلیم او ښه سړی وُ په ځواب کښې مې ورته وویل: چې اجازه راکړئ کابل ته ولاړ سم او دوی موافقه راسره وکړه، کابل ته چې راغلم لومړی مې د ملګرو په مشوره د روغتیا له وزارت څخه د ناروغۍ یو تصدیق لاس ته راووړ او وروسته مې د سردار محمد نعیم خان په نامه چې په هغو شپو کښې یې د صدارت د معاونیت چارې هم پر ذمه درلودلې، یوه عریضه ترتیب کړه او د لوی استاد عبدالحی حبیبي په ذریعه چې په هغه وخت کښې د مطبوعاتو معاون وُ وروړاندې کړه چې په نتیجه کښې د مخابراتو مستقل ریاست ته فرمان صادر سو، چې غلام جیلاني دی د ناروغۍ په وجه د کندهار د منتظمیت د دندې څخه فارغ او اصولاً دې تقاعد ته سوق سي. په ۱۳۲۵ کال کښې مې د مدیر په توګه د کندهار په درملتون کښې کار شروع کړ. د ۱۳۲۸ کال په پیل کښې خبر سوم چې په کابل کښې مرحوم غبار او مرحوم ډاکټر محمودي د وکیلانو په حیث پارلمان ته انتخاب سوي دي ځکه نو موږ هم پر دې موضوع غونډه وکړه، چې د کندهار څخه څوک باید وټاکل سي؟ ددې غونډې په اثر فیصله وسوه چې مرحوم استاد عبدالحی حبیبي باید ولاړ سي، په دې وخت کښې لوی استاد حبیبي صاحب په چمن کښې "وکیل تجار" وُ، په غیاب کښې مو دی پارلمان ته وټاکه او ددې موضوع څخه مو د لیک په ذریعه خبر ورکړ خو دوی خپل عذر وړاندې کړ چې زما اقتصادي کمزوري ددې

تقاضا نه کوي چې د پارلمان د انتخاباتو لګښت وکړای سم. په دې موضوع کښې زموږ او دده کافي خط و کتابت دوام پیدا کړ. خو په اخر کښې مې یو شدیداللحن خط استاد ته ورولېږه چې: د پارلمان د نمایده په توګه ستاسې انتخاب د ملګرو تر منځ فیصله سوې خبره ده، باید حتما او فورا راسې د اقتصادي مشکل چاره به دې حتی الوسع حل سي.

زما ددې اخري مکتوب خواب او د وکالت د قبولی امضا په خپله د حبیبي صاحب په قلم او هم د هغو رسیدونو سره چې د اعانې په ډول مو ده ته ور ټولې کړې تراوسه زما سره موجود دي او په دې دوره کښې یو بل ملګری جناب نور محمد خان د پنجوایي څخه پارلمان ته د وکیل په توګه کاندید سو او د حبیبي صاحب سره مې د دوی معرفي وکړه، د حبیبي صاحب په غیاب کښې مې نور محمد خان پوه کړ چې استاد یو منحصر به فرد سړی دی څرنګه چې دی د اطرافي خلکو سره بلدیت نه لري نو ستا دې وربانډې پام وي.

په ۱۳۲۹ کال کښې د ویښ ځلمیانو فعالیت په کندهار کښې چټک سوی و، لکه څنګه چې زموږ یو ملګری مرحوم محمد ابراهیم خان خواخوږی چې د کندهار د پوهنې مدیر و د کندهار د نائب الحکومه محمد یونس خان له خوا ګرفتار کړل سو، دا زموږ د ډلې لومړنی بندي و چې د حکومت له خوا ونیول سو، په دې وخت کښې مرحوم سردار محمد رفیق خان ما ته اطلاع راکړه چې فورا باید د دندې څخه استعفا وکړې، ما هم خپله استعفا د محمد رفیق خان مرحوم په لاس نائب الحکومه محمد یونس خان ته ورولېږله، وروسته ملګرو د محمد ابراهیم خان خواخوږي د خلاصون له پاره کابل ته د تلو تصمیم ونیو، د محمد رسول خان پښتون په سرکردګی کښې د ویښ ځلمیانو لومړی جوپه شخصیتونه کابل ته روان سول، هغه کسان عبارت وو له: زه، مرحوم محمد انور خان اڅکزی، اغا



محمد خان کرزی او محمد علي خان خو عبدالهادي خان دمخه لا کابل ته تللی و. په کابل کښې مو د مرحوم سردار محمد داؤد خان سره وکتل، دوی د ملي دفاع پر وزارت سربېره، د کورنیو چارو وزارت چارې هم سنبالولې.

سردار صاحب د نائب الحکومه محمد یونس خان د بې کفایتی خبرې وکړې، محمد یونس خان یې معزوله او محمد ابراهیم خان خواخوږی د بند څخه خلاص سو، موږ بریالي کندهار ته راستانه سولو، په دغه کال زموږ له ملګرو څخه دوه "تنه شاغلی بېنوا صاحب او مرحوم الفت صاحب" دغه رنګه ډاکتر علي احمد او ډاکتر محمودي هم د کابل څخه کندهار ته راغله. دا وروستي دوه تنه هم په ویښ ځلمیانو کښې شامل سول.

اوس به نو بېرته خپلې سوانح ته مخ وراړوم: څرنګه چې زه د کندهار د درملتون څخه جبراً مستعفی کړل سوی وم، نو څه موده وروسته د کابل د قندسازۍ څخه په کندهار کښې د عمومي مدیریت په معاونی مقرر سوم. کله چې دا ریاست دولتي انحصاراتو ته واوښت زه یې د تفتیش د غړي په حیث کابل ته ورکړم مقصد دا و چې زه باید په کندهار کښې نه یم.

د ۱۳۳۰ کال په اوایلو کښې زموږ دوه تنه برجسته غړي او ملګري شاغلی غلام حسن خان صافی او فیض محمد خان انګار هلته په کابل کښې بندیان سول چې صافي صاحب تقریباً دوه کاله او انګار صاحب شپږ میاشتې بندیان وو. ما د ۱۳۳۰ل کال د جدی پر ۲۸ د مرکز د دولتي انحصاراتو څخه موافقه حاصله او کندهار ته راغلم. فقط دوې میاشتې په کور کښې وم او د ۱۳۳۱ل کال د حمل پر لسمه سره د پنځو تنو ملګرو: عبدالهادي خان توخي، محمد انور خان اڅکزي، قاضي بهرام خان اڅکزي، قاضي عبدالصمد خان او محمد یوسف خان حضرت مجددي د یوه بد مزاج ټولې مشر په ذریعه چې وریښمین نومېده سره د یو څو نوروو سله والو کسانو چې

په ماشیندارو سنبال وو تحت الحفظ یې کابل ته د بندیانو په توګه ولېږلو.

دریمه شپه په کابل کښې د صدارت مانۍ ته ورسېدو او زمونږ درې تنه نور ملګري ښاغلی فیض محمد انګار، محمد علم بخرکی او حاجي محمد حسین خان د کندهار په عسکري فرقه کښې بندیان کړل سول او د ویښ ځلمیانو مشر محمد رسول خان پښتون چې په هغه وخت کښې په بغلان کښې د دولتي انحصاراتو مدیر ؤ هم هلته ګرفتار او محبوس کړل سو.

زمونږ د کوټه قلفي تر دوو، درو میاشتو وروسته یو بل ملګری حاجي خدای دوست هم زمونږ محبس ته راوړل سو، چې په دې حساب د ویښ ځلمیانو یوولس تنه چې ټول کندهاریان وو بندیان سول. دلته به دا خبره بې ځایه نه وي چې زمونږ د یوه ملګري هغه شهامت، دلاوري او سرتېري ذکر کړم چې دوی په دې حساس وخت کښې ښکاره کړه، دا ملګری محمد نور خان ؤ چې په دې وخت کښې د دفاع په وزارت کښې د پښتو تدریساتو مدیر ؤ، مونږ د صدارت په اطاقو کښې لا تر دې دمه تر مراقبت لاندې ووچې نابېره محمد نور خان ښکاره سو، د یوه مختصر حال او احوال وروسته زمونږ د ابتدایي ضروریاتو شیان لکه سګرېټ، صابون او نور یې راته راورسول، ځکه چې پر مونږ باندې بندیز لګېدلی ؤ او هېچا ته اجازه نه وه چې زمونږ سره ووینې. فوراً یې دی د کوټې څخه وایست. په دې وخت کښې د دوی داسې د مېړانې حرکت د هر څومره داد او یادونې وړ دی.

یو بل سړی چې امین الله خان نومېده، هم د یادونې وړ دی:

دا ځوان زمونږ د حبس په دوران کښې مونږ نه پېژانده. دی یو بلوک مشر ؤ، کله کله به زمونږ د حال او احوال د نیولو له پاره په خلاصه پښه راته او ځینې د خوراک شیان به یې راوړل او راکول، هم به یې د محبس د مامورینو ځوابونه په خورا مېړانه ورکول، دده



دلاوري او شهامت هم نه هېرېدونکې دی. د تعجب ځای دا دی چې مونږ ټولو بندیانو په ټول عمر لیدلی لا نه ؤ، فقط د کندهاریت پر بنا یې چې د کندهار ویښ ځلمیان په کابل کښې بندیان دي دا دنده خپله کړې وه، وروسته بیا معلومه سوه چې امین الله خان یو بلوک مشر، د کندهار په شاوخوا "قلعچه" کښې استوګنه لري.

د ویښ ځلمیانو په جمله کښې غلام حسن خان صافی ډېر جدي او فعال ؤ. ځکه نو نوموړي هغه مقاله چې عنوان یې وو: "دعوت مردم به خرافات پرستی" په کال ۱۳۳۰ کښې خپره کړه او د کابل په سرماموریت کښې بندي سو، زه او دوه نور ملګري د دوی د لیدو له پاره د کندهار څخه ورغلو، سیاسي شرایط د دغه ډول لیدو کتو له پاره خورا تنګ وو، مونږ هره ورځ په کابل کښې د دوی ملاقات ته ورتلو او هېڅ وېره مو نه احساسوله ځکه د سیاست د لوبې لومړۍ مرحله زندان دی.

خو مونږ کندهاریان چې بندیان او هم په کابل کښې مسافر وو پایواز ته هم ډېر اړ وو، چې نابېره څلور تنه ځوانان پیدا سول چې زمونږ د حبس په ټول دوران کښې یې په دلاورۍ او وفادارۍ خدمت وکړ او په ډېر تنظیم سره یې زمونږ ضروریات په نوبت پر خپله ذمه واخیستل، په زندان کښې مونږ بېغمه سولو، ددې څلورو تنو مېړانه مونږ هېڅ وخت نه سو هېرولی، دا کسان عبارت دي له:

۱. ښاغلی استاد عبدالشکور رشاد.
۲. محمد ابراهیم خواخوږی.
۳. غلام دستګیر خان پوپل.
۴. استاد نور احمد خان شاکر.

د کندهار د ویښ ځلمیانو او د ښاغلي غلام حسن خان صافي د بند موده په لاندې توګه ده:

| | |
|---|---|
| ۱. محمد ابراهیم خواخوږي | ۲ میاشتې |
| ۲. غلام حسن خان صافي | ۲ کاله |

۳. فیض محمد خان انګار لومړی پلا ٦ میاشتې
دوهمه پلا ½ ۴ کاله
۴. محمد رسول خان پښتون ۱۱ کاله
۸ عبدالهادي خان توخی ۱۰ کاله، ۱۰ میاشتې او ۱۰ ورځې
٦. مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی ۱۰ کاله، ۱۰میاشتې او ۱۰ ورځې
۷. محمد انور خان اڅکزی تقریباً ۴کاله او ٦ میاشتې
۸. مرحوم قاضي عبدالصمد خان تقریباً ۴ کاله ٦ میاشتې
۹. مرحوم م. یوسف خان حضرت مجددي ۴کاله ٦ میاشتې
۱۰. غلام جیلاني خان الکوزی ۴ کاله ٦ میاشتې
۱۱. محمد علم خان بځرکی تقریباً ۴ کاله ٦ میاشتې
۱۲. حاجي محمد حسین خان ۱ کال ٦ میاشتې
۱۳. مرحوم حاجي خدایدوست خان اووه کاله او هم په هغه محبس کښې وفات سو، دده جنازه ملګرو کندهار ته ورسوله.

دلته دا خبره باید په ډېر تأسف سره اظهار کړم چې زموږ مرکزي ملګري یعنې د کابل ملګري چې زموږ سره په کلوکلو اشنایان وو او د یوې مفکورې خاوندان وو، زموږ د ټول حبس په دوران کښې یې حتی په یوه وچ سلام هم مفتخر نه کړو. تر ټولو شیرینه داده کله چې د حبس څخه خوشي سولو او د الوتکې د نشتوالي له امله څو ورځې په کابل کښې پاته سولو. بیا مو هم د یوه مخ لاندی لیدلی په داسې حال کښې چې د غیر حزبي خلکو له خوا ګنې مېلمستیاوې راکړلې سوې. وروسته تر یوه ډېر وخته کله چې مې اتفاقاً د کابل په راډیو استیشن کښې قیام الدین خان خادم ولیده تر حال او احوال وروسته یې راته وویل چې "په بې ایمانانو کښې به هم درجه وي که یه؟"



د شاه محمود خان د حکومت په اوایلو کښې چې دی صدراعظم ؤ خلکو ته د قلم او بیان د یوې اندازې آزادۍ وعده سوې وه چې په دغه وعده، غیر رسمي احزاب او ملي اخبارونه نشر سول، چې لومړی د ویښ ځلمیانو حزب، وروسته د وطن حزب او د محمودي د خلق حزب جوړ سو. د ویښ ځلمیانو اخبار د انګار اخبار او د اولس اخبار وو، د حزب وطن اخبار د وطن اخبار ؤ او د محمودي د خلق حزب د ندای خلق اخبار په نامه په نشر پیل وکړ، خو:

"خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود"

خو په ۱۳۳۰ –۱۳۳۱ کال کښې دولت پر خپله وعده وفا ونه کړه او په ډېر شدت سره یې یو ملي سیاسي اختناق پیل کړ. څوک چې په احزابو کښې شامل وو، هغه یې ټول زندانو ته ولېږل او ملي اخبارونه یې مصادره کړل، انګار اخبار په ۱۳۳۸هـ ش کال د حوت پر ۲۸مه په نشر شروع او تر ۱٦ ګڼو وروسته په ۱۳۳۰ کال کښې مصادره سو. د ویښ ځلمیانو د حزب څخه د محمد رسول خان پښتون په شمول ۱۲نفره، د وطن څخه د ښاغلي غبار په شمول یوولس تنه او د محمودي د حزب خلق څخه شپږ کسه بندیان سول، چې ټول ۲۸ تنه په یوه زندان کښې بندیان وو. څرنګه چې خلکو د آزادۍ او دیموکراسۍ سره زیاته مینه درلوده، د حکومت ددې اقدام څخه ناامید او مایوسه سول. د ویښ ځلمیانو د مرکزي کمیټې ځینې غړي په کابل کښې تطمیع سوه، قیام الدین خان خادم د اصلاح اخبار مدیر سو، الفت صاحب د پښتو ټولنې عمومي مدیر سو نور محمد تره کی د عمومي اژانس مدیر سو چې وروسته بیا په امریکا کښې مطبوعاتي آتشه مقرر سو، عبدالرؤف بېنوا د مطبوعاتي آتشه په توګه په ډیلي کښې مقرر سو.

په دې وخت کښې چې ویښ ځلمیان ځینې تطمیع او ځینې بندیخانو ته ولاړل د پاتې ویښو ځلمیانو رهبري استاد رشاد پر اوږو

واخیسته، چې تر پخوا یې زیات په شدت او جدت مبارزه شروع کړه. خپلو حزبي مجلسو ته یې دوام ورکړ، حزب رشاد صاحب د کندهار د ښار له خوا پارلمان ته کاندید کړ، څرنګه چې عبدالغني خان ګردیزي د کندهار نائب الحکومه او عسکري قوماندان د ویښ ځلمیانو تر ټولو لوی مخالف ؤ په تېره بیا د رشاد صاحب سخت مخالف ؤ او دا هم ورته معلومه وه چې رشاد صاحب په هېڅ ډول نه تطمیع کېږي، نو یې دده په مقابل کښې د هېڅ ډول دسیسې او مخالفت څخه ډډه او دریغ نه کاوه. د انتخاباتو په دوران کښې یې د عسکري فرقې څخه نظامیان په ملکي او ملي کالیو کښې د لباس په تغییر سره د کندهار ښاروالي ته حاضر کړه چې د حکومت ټاکلی او د رشاد صاحب حریف حاجي عبدالغفور خروټي ته غیر قانوني رایه ورکړي، چې په دې سره هم کارو نه سو نو یې په دې بهانه چې رشاد صاحب د عسکري کولو په عوض معلمي قبوله کړې ده. نو دی یې حربي لښتي ته د معلم په صفت کابل ته تبدیل کړ. په دې اثنا کښې د کندهار ملګرو په زیاته بیا خواخوږي صاحب، استاد شاکر صاحب او استاد رشاد صاحب کافي تکالیف وګالل چې د قدر وړ او نه هېرېدونکي دي. ښاغلی غلام حسن خان صافي وروسته تر دوو کلو چې راخلاص سو، څرنګه چې یې محیطي اوضاع مطالعه کړه، د ټولو حزبو فعالیت قطع سوی ؤ او مشهور کسان ټول په زندانونو کښې وو او هم د کابل د ویښ ځلمیانو مرکزي کمیټه چې صافي صاحب هم په هغه کښې شامل ؤ، ټول په رسمي کارو اخته.وو نو دی هم په ۱۳۳۳ کښې په پېښور کښې جنرل کونسل مقرر سو.

اوس به بېرته خپلې سوانح ته راسم، په ۱۳۳٦ کال کښې د کندهار د لویو تجارانو له خوا د یوه نوي شرکت (د مېوې شرکت) په تاسیس کېدو سره د عمومي مدیر په حیث مقرر سوم او په ۱۳۴۵ ل کال کښې مې د هغه دندې څخه استعفا وکړه او هم په ۱۳۴۵ کښې په کابل کښې د یو شمېر سابقه ویښ ځلمیانو په ذریعه د مرحوم



میوندوال صاحب سره اشنا سولو، د یوه پخواني ملګري په ټینګار چې باید د جمعیت په توګه د میوندوال د مساوات سره همکاري وکړو، په دې موضوع کښې څو ورځې مذاکرې او مجلسونه وسوه، ځینې ملګري د میوندوال سره د ملګرې مخالف وو، خو په نتیجه کښې موافقې رایې ډېرې سوې او موږ په جمعیت کښې شامل سولو خو په دې شرط که کوم وخت د مساوات اخبار په نشراتو او یا په نورو حزبي امورو کښې خودسري پېښه سي، نو موږ ته د انفکاک حق حاصل دی چې په ډله ییزه توګه د جمعیت څخه راووځو او په یوه بله جریده کښې خپل اعلان وکړو، خو بالاخره دغه سې پېښه سوه په ۱۳۴۸ ل کال کښې د سابقه دارانو ملګرو لسو تنو خپله استعفا ورته وړاندې کړه.

په ۱۳۵٦ ل کال کښې د پښتون شرکت د رئیس ښاغلي احمد موسی خان په وړاندیز او په تصویب د شرکت د عمومي مجلس د نظار آمر په حیث مقرر سوم.

مدیر غلام جیلاني

# د ويښ ځلميانو جمعيت

ددغه پورته عنوان لاندې ښاغلي غلام محی الدين زرملوال د ۱۹۸۷م کال د اګست پر ۲۷مه په دري ژبه يو پامفلټ نشر کړی دی. دلته زه د هغه مطلوب ټکی راوړم چې ددې غورځنګ مفاهيم يو څه نور واضح سي. پاتې دې نه وې چې دا پامفلټ په لسو مخونو کښې "د افغانستان د مسلمانو مهاجرينو د سازمان" له خوا نشر سوی دی.

بخرکی

۱۹،۹،۹۳



## د ښاغلي زرملوال د اجمالي نظر څخه اختصاري نظر:

په افغانستان کښې تر مشروطه خواهانو وروسته چې د ملي حقوقو له پاره کومه مبارزه سوې ده هم دغه جمعيت (د ويښ ځلميانو) تر ټولو لويه مبارزه کړې ده او هم تر ټولو لوی جمعيت بلل کېدای سي. دا چې وطن فروش نور محمد تره کي ځان د ويښ ځلميانو د رهبرانو څخه اعلان کړی دی او ځانته يې په دې وسيله قدرت کسب کاوه ډېره ناوړه خبره ده.

زرملوال صاحب ليکي چې زما د پامفلټ څخه دوې موضوعګانې روښانه کېږي ;

I - د تره کي او ببنوا ارتجاعي او ضد ملي ماهيت.

II - او بل دا چې د ويښ ځلميانو اکثريت ريښتيني او پاک مبارزين وو، چې د خپل هېواد د آزادۍ او استقلال له پاره يې مبارزه کوله.

ځينې کسان ددې تحريک د بدنامه کېدو له پاره ډول ډول الزامات وربانديې تپي. مثلاً:

ځينې دا تحريک روس پلوه معرفي کوي، چې دا محض يو الزام تراشي، ارتجاعي او ببرته پاته ذهنيت دی، چې د حقيقت سره هيڅ سمون نه لري. ځينې بيا وايي چې ددې غورځنګ بنسټ داؤد خان اېښی دی. په داسې حال کښې چې داؤد خان د دې تحريک د شنډېدو له پاره "کلوب ملي" تحريک شروع کړ. دا دواړه تهمتونه د ځلميانو د تحريک د بدنامه کېدو په خاطر پروپېګنډه کېږي، چې هيڅ حقيقت نه لري.

زموږ د هېواد افغانستان اولس، د استبدادي حکومتو پر ضد د پخوا څخه مبارزې کړې دي. د سيد جمال الدين افغاني روشنفکرانه غورځنګ د ۱۸۶۳ع کال په شاوخوا کښې چلېده. دغه

رنګه د مشروطه خواهانو جمعیت په ۱۹۰۳ع کال د افغان اولس د حقوقو د لاس ته راوړلو مبارزه وکړه. او ښه ډېر شمېر مبارزین بندیان او هم شهیدان سول.

دغه رنګه د ویښ ځلمیانو غورځنګ د ۱۹۴۵ع کال څخه په حرکت راځي ددې تحریک عوامل دوه شیان دي:

لومړی: په هېواد کښې اجتماعي او اداري فساد، اقتصادي رکود او پر ځای ولاړه او ټولنیزه بې عدالتي او داسې نور.

دوهم: د مشروطه خواهانو د قربانیو درس و چې د ویښ ځلمیانو منورینو ته په میراث کښې پاتې و.

تر ټولو دمخه دغو کسانو د ویښ ځلمیانو په تحریک پیل وکړ:

له کندهار او فراه څخه: عبدالحی حبیبي، عبدالروف بېنوا، فیض محمد انګار، محمد رسول خان پښتون، عبدالشکور رشاد، محمد ابراهیم خواخوږی او عبدالرزاق فراهي.

له ننګرهار څخه: ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین او غلام حسن صافي.

له غزني څخه: نور محمد تره کی.

له پکتیا څخه: نیک محمد پکتیانی او غلام محی الدین زرملوال چې هغه وخت یې تخلص روښان و.

پاته دې نه وي چې دغه ټول کسان پښتانه، پښتو ویونکي او د هېواد د کلیوالو څخه وو. ددې له پاره چې د ویښ ځلمیانو په باره کښې د هېواد د روشنفکرانو خیالات معلوم کړي نو په ۱۹۴۷ع کال کښې د اقتراح په ډول دا موضوع خلکو او روشنفکرانو ته وړاندې سوه. او تقریبا د هېواد ټولو اهل نظر خلکو د خپلو خپلو خیالاتو اظهار وکړ. دا اظهار نظر د یوه مستقل کتاب په ډول د ویښ ځلمیانو په نامه نشر سو، البته دا کتاب د کابل د مجلې د ۲۱۱ او ۲۱۲ ګڼو پر ځای خپور سو.



ددې کتاب په نشرېدو ویښ ځلمیانو وکولای سوای چې د رسېدلو او د هېواد د پوهو خلکو د نظر په مرسته او هم تش په نامه دیموکراسي چې د صدراعظم شاه محمود خان له خوا اعلان سوې وه، خپل مرام د هېواد د بهبود په خاطر مخ په وړاندې بوزي. پر دې مرام باندې علاوه پر هغه چې د مخه ذکر سول دغه خلک هم ویښ ځملیانو ته راغلل لکه قاضي بهرام خان د کندهار، عبدالهادي توخی د کندهار، غلام جیلاني الکوزی د مخابراتو مدیر د کندهار، محمد انور خان اڅکزی د کندهار، محمد علم بځرکی، نور احمد شاکر، سید شمس الدین مجروح، د سترې محکمې غړی مولانا عبیدالله صافی، محمد موسی شفیق، ګل شاه صافی د جلال اباد ښاروال، د عقلي او عصبي ناروغیو پروفیسر ډاکټر علي احمد، ببرک ځاځی او په سوونو دغسې خلک شامل سول، چې متاسفانه نور مې اوس نه دي په یاد.

د ویښ ځلمیانو تحریک په ډېر سرعت مخ په وړاندې روان سو. په ۱۹۵۰ع کښې ځلمیانو تصمیم ونیو چې لومړی باید د مرام او حقایقو د خپرېدو(نشراتو) له پاره دوې جریدې خپرې سي. نو یې د "انګار" او "ولس" په نامه د دوو جریدو امتیاز لاس ته راوړ چې د دواړو جریدو امتیاز د ویښ ځلیمانو د مرکزي کمیټې له غړو سره و د انګار اخبار لومړی شماره په ۱۳۲۹ل کال د حوت د میاشتې په ۹ نېټه (۱۹۵۰ع کال) خپره سوه، چې ټوله شپاړس شمارې نشر سوې چې بیا دا جریده مصادره سوه. خو د "ولس" جریده یو څه وخت نوره هم خپره او بیا دا هم مصادره سوه.

دولت چې د ویښ ځلمیانو پرمختګ وارخطا کړی و او نه یې غوښتل چې د ملت د حقوقو د غصبېدو څخه خپلې منګولې وکاږي، نو یې لومړی کوښښ وکړ چې د ویښ ځلمیانو د تحریک ځینو خلکو ته د استعانت او امتیاز لاس ور اوږد کړي. تر ټولو لومړی نور محمد تره کي او بېنوا د حکومت دا لاس ورمچ کړ او ملي حقوقو ته یې

شا وروګرځوله. دواړو په دواړو لاسو د سیاست څخه خپله "توبه نامه" او هم د ویښ ځلمیانو د جمعیت څخه د استعفا کولو په صورت کښې حکومت ته ورکړه. شاه محمود خان د وخت صدراعظم ددې په بدل کښې نور محمد تره کی په واشنګټن کښې او عبدالروف بېنوا یې په ډیلي کښې مقرر کړل، چې په یوه ورځ د دواړو عکسونه د کلنی په یوه مخ کښې نشر سوي دي. او هم دغه رنګه ځینې نورو کسانو هم د ځلمیانو رسمي سسته کړه او لویو لویو دولتي عهدو ته ورسېدل. کله چې دولت موفق سو او یو شمېر خلک یې تطمیع کړل نو پاته سر سخته کسان لکه عبدالهادي توخی، غلام جیلاني خان، محمد رسول پښتون، قاضي بهرام، فیض محمد انګار، محمد انور خان اڅکزی، محمد علم بڅرکی او ځینې نور کندهاري شخصیتونه چې ټوله د قدر وړ او د ویښ ځلمیانو د سنګر سر سخته مبارزین وو، زندانیان کړل؛ چې په دې جمله کښې عبدالهادي خان توخی، محمد رسول خان پښتون، قاضي بهرام خان او څو تنه نور کندهاریان تر لسو لسو کلو ډېر د کابل په دهمزنګ کښې په ډېرو مشکلو حالاتو کښې بندیان وو. انګار او محمد علم بڅرکی د پینځو- پینځو کلو په حدودو کښې بندیان وو.

له یوه پلوه د جمعیت ډېر برجسته شخصیتونه بندیان سول او له بله طرفه د ځینې سست عنصرو ملګرو تطمیع کېدل او هم د داود خان د صدارت د لسو کلو توره دوره سبب سوه چې د ویښ ځلمیانو جمعیت د فعالیت څخه ولوېږي.

په ډېره درناوي



یادونه: دا ضروري نه ده چې زه دې د زرملوال صاحب له ټولو خبرو سره موافق یم. دلته د دوی نظر راوړل دا معنی لري چې د ویښ ځلمیانو پر موضوع همه جانبه نظر ښکاره سي. کومې هغه خبرې چې ماته معلومات نشته او زه یې نه تائیدوم هغه دا دي:

ښاغلی عبدالحی حبیبي، محمد رسول خان پښتون، استاد عبدالشکور رشاد، محمد ابراهیم خان خواخوږی، عبدالرزاق فراهي صاحب او هم نېک محمد خان پکتیاني او غلام محی الدین زرملوال صاحب په موسسینو کښې نه وو شامل. البته د جمعیت غښتلي او د افتخار وړ ملګري وو.

او بل زموږ بند (انګار صاحب او محمد علم بڅرکی) پینځه کاله نه و بلکې څلور څلور کاله و.

دغه رنګه غواړم چې د نور محمد تره کي په باب څه ووایم:

د نورمحمد تره کي موضوع د ویښ ځلمیتوب له نقطه نظره قابل د تشریح او سپړنې ده. زه ځان ته دا حق ورکوم چې پر ده باندې تبصره وکړم. ځکه چې زه او دی سره صمیمي وو او ما تر ډېرو خلکو دی ښه پېژانده. دی دمخه تر هغه چې ملي خاین سي او د خلق کمونست ګوند غوره کړي یو عادي روشنفکره انسان و، البته حزبي کمزوري یې درلودې، چې ددې کمزورۍ اثار زموږ په ځینو نورو تکړه ملګرو کښې هم وو. مثلا تره کی هم د ویښ ځلمو د مصیبت په وخت کښې رتبه قبوله او ځان یې وژغوره، د یوه ځلمي په حیث ده ته هم دغه جرم تکیه دی. خو د ملي خاین په جرم دی هغه وخت محکوم سو چې د ویښ ځلمیتوب څخه وایستل سو. یعنی د ۱۹۶۴ع کال راهیسته چې د خواخوږي صاحب په کور کې تر څو پرله پسې مجلسونه وروسته ویښ ځلمیانو او ده رخصت سره واخیست او دی رسما د سوسیالستي افکارو په درلودلو سره د حزب څخه ګوښه تصور سو. ځکه نو ویښ ځلمیان دده د افراطي نظریاتو

چې تر ۱۹٦۴ وروسته پښې سوي دي څه مسوولیت نه لري. دا یو ناوړه تهمت دی چې د تره کي په راډیکال او افراطي اعمالو هغه سپین سپېڅلي دین دوسته پښتانه ځلمیان، چې رګړګئیې د وطن دوستۍ نمایندګي کوله متهم کړي.



## ښاغلی غلام دستګیر خان پوپل

یو د هغو ویښو ځلمیانو څخه شمېرل کېږي چې د دوی فداکاري، مېړانه او ټینګښت د ځلمیانو د افتخاراتو څخه دی. د دوی ذکر علاوه پر هغه چې، په کتاب کښې موجود دی، مدیر صاحب غلام جیلاني خان هم په خپله بیانیه کښې کړی دی. دوی په ۱۹۹۳ع کال کوټې ته تشریف راوړی و، ما خواهش ځنې وکړ چې د خپل ژوند لنډیز راته ولیکي. دی سره له دې چې څه ناروغه و، زما خبره یې ومنله دا دی د دوی د ژوندون لنډیز په خپله د دوی په قلم چې د فارسي څخه ما په پښتو راواړاوه وړاندې کوم.

* * *

زه غلام دستګیر پوپل د محمد عظیم خان پوپلزي زوی یم. زما زوکړه د کابل په ښار کښې سوې او د زوکړې نېټه مې د ۱۳۲۷ق[1] کال د روژې ۲۷ کابل دی. تحصیلات مې له دیارلس کلنۍ څخه پیل کړي دي. څرنګه چې په کندهار کښې دا مهال ښوونځیو وجود نه درلود ځکه مې نو د کندهار په "شاه جامع" کښې لوست کاوه او کله چې مکتبونه شروع سول لومړی "شعله ماه" ښوونځی و چې وروسته هغه ته شالمار مکتب وویل سو" داخل سوم، وروسته بیا بل ښوونځی جوړ سو هغه د "ګنج مکتب" و. زه د ابتدائي تحصیلاتو د سر ته رسولو په خاطر د تلګراف په مکتب کښې داخل کړل سوم. چې دا ښوونځی د دوو کلونو په موده کښې پای ته ورسېد، چې وروسته مې نو په رسمي توګه په کندهار او سپین بولدک کښې خپله دا دنده پیل کړه نور نو څرنګه چې مې په کندهار او کابل کښې مختلف ماموریتونه سر ته رسولي دي د هغو لنډیز په لاندې توګه دی:

۱ - ۱۳۲۷ هجري قمري مساوي دی په ۱۲۸۸ هجري شمسي او ۱۹۰۹ عیسوي. بخرکی.

لومړی په کندهار کښې د تلګراف د منتظم په حیث مقرر سوم. بیا وروسته چې مې کومه دنده درلوده هغه د معابرو ماموریت و، دغه رنګه د تلګراف د لاین د تمدید مامور وم. څرنګه چې په دې وخت کښې کورنی اغتشاش (سقاوي) راغله نو مسایل ټول سره ګډوډ سول. تر سقاوي وروسته د فواید عامې معاون سوم، بیا تر دې دندې وروسته د "پخت مصالح" مدیر مقرر سوم، د مرستون معاون سوم، دغه رنګه هم په کندهار کښې د فواید عامې عمومي مدیر مقرر سوم.

او په کابل کښې مې چې کومې دندې اجرا کړې دي، هغه په دې ډول دي:

په عظمي صدارت کښې د باغاتو مامور وم. بیا د کرنې په وزارت کښې د نسل ګېرۍ معاون مقرر سوم. بیا د مسلخ د تصدي امر، بیا د پلان مدیر، بیا د بګرام د ارتباط مدیر وم. دغه رنګه مې په وزارت فواید عامه کښې د تعمیراتو د مدیر په حیث کار کړی دی او هم د وزیر صاحب محمد ګل خان په معیت کښې د مستوفیت مامور وم، چې دا دنده مې په مزار شریف کښې سر ته رسولې ده. او هم د عرایضو مامور سوی یم. په کندهار کښې مې د پښتون شرکت له خوا په چمن سوېلي پښتونخوا کښې د وارداتو د مامور دنده اجرا کړې ده. دغه رنګه په کندهار کښې د وارداتو مامو وم او هغه ماموریتونه چې غیر رسمي وو عبارت دي د وچې مېوې له تجارت څخه، موټر داري او د کورو خرڅلاو. دا و زما هغه رسمي، نیم رسمي او غیر رسمي مشاغل چې مې ذکر کړل. که څه هم نومړو دندو رسمي او وظیفوي اړخ درلود، خو سره له دې د ملي منفعت څخه بې برخې نه وه.

څرنګه چې له یو وخت څخه د یوې داسې هیلې د سرته رسېدو په هڅه کښې وم چې په ډاګه او نبغ ډول د ملت خدمت سرته ورسوم دا دنده ما ته تر هر څه مقدسه ښکارېده. دا دنده عبارت وه په ویښ ځلمیانو کښې زما شمولیت. دا حزب د کندهار د یو شمېر



روشنفکرانو له خوا پیل سوی و او کوښښ یې درلود چې په مشترک هاند ملي سیاسي حقوق د ملت د ښېګنې لپاره لاس ته راوړي څرنګه چې له یو وخت څخه لا دا هیله زما په زړه کښې موجوده وه، نو کله چې زه په کابل کښې د مسلخ امر وم د ښاغلي ښېنوا او محمد رسول پښتون له خوا په ۱۳۲۵هـ ش کال دې حزب ته دعوت سوم ما دا مقدس مرام مطالعه کړ او د یوې لنډې مذاکرې څخه وروسته مې د منلو وړ وګرځېد، ددې حزب مرام په هغه وخت کښې ډېرې ملي تشیاوې ډکولې نو ځکه مې مرام بې چون او چرا ورسره لاسلیک کړ او هر ډول قربانۍ ته چمتو سوم. پخوا په افغانستان کښې ملي سیاست کول له سر سره لوبې کول وو، خو ما دا سودا منلې او ورته چمتو سوم، له بده مرغه د ملګرو د فعالیت په جریان کښې له کندهار څخه یو شمېر وتلي غړي کابل ته بندیان راوستل سول او د سیاسي مجرمانو نوم یې پرې کښېښود، دوی لومړی د کابل په ولایت او بیا د دهمزنګ په جېل کښې په کلونو کلونو بندیان وساتل سول، ما د دوی د بندیګرۍ په وخت کښې ضروري سامان او لوازم ورته برابرول چې د دې خبرې اعتراف ډېر محترم ملګري غلام جیلاني خان او هم غلام حسن خان صافي پخپلو بیوګرافیو کښې کړې دی، که څه هم ما دا دنده د خپل ملي او وجداني احساس په خاطر کړې ده، خو بیا هم د دوی د قدردانۍ او حسن نظر څخه ممنون یم. د خپلو ملګرو ددې چوپړ په وخت کښې که څه هم زه رسمي مامور وم او په دا ډول کارو کښې د یوه رسمي مامور دلچسپي او مشغولیت د برطرفۍ او موقوفي سبب کېده، خو زه افتخار کوم چې ما ملي مصالح تر رسمي وظیفې مقدم ګڼل.

دوهمه ملي دنده چې زه پرې ویاړم هغه د "مترقي دیموکرات" په جمعیت کښې زما شمولیت دی. کله چې شهید محمد هاشم میوندوال صدراعظم و یو جمعیت یې د "مترقي دیموکرات" په نامه پیل کړ، چې په دې کښې د هېواد ترقي خواه

ځوانان له هرې خوا شامل سول او يو شمېر پخوانيو ويښ ځلميانو هم پکښې شرکت وکړ. "البته کندهاري ويښ ځلميانو" چې زه هم په دې جمله کښې دې جمعيت ته ورداخل سوم، خو متاسفانه د کندهاري ويښ ځلميانو او د مترقي ديموکراتيک جمعيت تر منځ ځينې اختلافات پيدا سول، ددې اختلافاتو په وجه يو شمېر ځلميان د جمعيت څخه ووتل، خو ښاغلی محمد علم بڅرکی چې د جمعيت منشي و، نجيم آريا، عبدالغني خان مرحوم د مساوات اخبار مدير چې ددې جمعيت ارکان و، هاشم تره کی، عبدالاحد عارض، شريف ايوبي، ياسين مايل او زه په جمعيت کښې پاته سولو. څرنګه چې زموږ له پاره د انفکاک وجوهات نه وو ځکه نو موږ وفاداره او پايداره پاته سولو او ان تر دې جده چې زموږ ملګريو د نور محمد تره کي په وخت کښې هم خپلې جمعيتي سرګرمۍ ته دوام ورکړ او تره کی مجبور سو چې موږ په کابل کښې موجود ملګري د څه مودې لپاره د پل چرخي په زندان کښې وساتي. دا خبره بايد ووايم چې د ملي هيلو په خاطر بنديګري افتخار دی خو د شخصي منفعت او يا مالي او نور اخلاقي جرمو په خاطر بندي کېده د شرم او عار سبب دی.

دا څو کرښې مې ښاغلي محمد علم بڅرکي ته چې د جمعيت د برجسته اعضاو څخه دی. د پاکستان په کوټه کښې په لنډ وخت او تلوار وليکلې که زما يادښتونه راسره موجود وای نو به مې په جزئياتو او کلياتو دا دوه جمعيته لکه ويښ ځلميان او مترقي ديموکراټ جمعيت په تفصيل ليکلي وای، چې يوه مفصله تاريخچه ځنې جوړه سوې وای؛ اوس في الحال په دغه اکتفا کوم.

په درناوی

غلام دستګر پوپل

۷۱-دلو-۱۵



## محمد ابراهيم خواخوږی

محمد ابراهيم خواخوږی د درمحمد زوی د ۱۹۲۰ع کال د فبروري پر ۲۸مه د کندهار ولايت په ماله جات کښې وزيږېد.

مرحوم خواخوږی په ۱۹۲٦ کال ښوونځي ته شامل او د متوسطه دورې له فراغت وروسته د لوړو زده کړو له پاره دارالمعلمين ته شامل سو. او په ۱۹۳۸ کال کښې فارغ او د حبيبيې په عالي لېسه کښې د ښوونکي په حيث مقرر سو. دده لومړنی شعر په ۱۹۳۴ کال په کندهار کښې د طلوع افغان په ورځپاڼه کښې خپور سو. مرحوم خواخوږی په ۱۹۴٦ع کال کښې د کندهار د کوکران د ليليې ښوونځي د ښوونکي او تدريسي امر په حيث وټاکل سو. په ۱۹۴۸ع کال کښې د کندهار د احمد شاه بابا په لېسه کښې د مدير په حيث مقرر سو.

مرحوم خواخوږی د ويښ ځليمانو په سياسي مبارزه او غورځنګ کښې د فعال ګډون په اساس د ۱۹۵۰ع کال په اکتوبر کښې د دولت له خوا ونيول سو او زنداني سو. له زندان نه وروسته يې په شخصي کارو شروع وکړه او په ۱۹۵٦ کال کښې يې مرحوم جبرا کابل ته واستاوه، هلته په پښتو ټولنه کښې د مسلکي غړي په حيث مقرر سو.

په ۱۹۵۷ع کال کښې د افغانستان راډيو د نشرياتي رياست د مراقبت د څانګې د مدير په حيث او بيا د حبيبيې په عالي لېسه کښې د پښتو د استاد په حيث تعين سو. په ۱۹۵۹ع کال د راډيو افغانستان د رياست د معاون او په استقلال لېسه کښې د تاريخ د ښوونکي په حيث مقرر سو. په ۱۹٦۰ع کال يې د پوهنې ننداري د رياست د معاون په حيث او د نادرېې په لېسه کښې د تاريخ د ښوونکي په حيث

خپلې دندې ته ادامه ورکړه. په ۱۹۶۳ع کال کښې د مطبوعاتو د وزارت د ادبياتو د عمومي مدير په حيث تعين سو. په ۱۹۶۶ کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کتاب خپرولو موسسې د رئيس په حيث وټاکل سو.

مرحوم محمد ابراهيم خواخوږی په ۱۹۶۶ع کال کښې د محمد هاشم ميوندوال سره په مترقي ديموکراتيک حزب کښې خپل سياسي فعاليت ته ادامه ورکړه. په ۱۹۶۷ع د افغانستان د عامه کتابخانو د رئيس په حيث او په ۱۹۷۱ع کال د افغانستان د اکاډمۍ د پښتو د تقويې او انکشاف د رئيس په حيث مقرر سو او په ۱۹۷۳ع کال تقاعد ته سوق سو. مرحوم خواخوږی په ۱۹۹۲ع کال د اکتوبر په ۲۴ نېټه د هغې مريضۍ له امله چې ورپېښه وه په کابل کښې وفات سو.

ارواښاد خواخوږی په ۱۹۴۲ کال د تعليم او تربيې مسلکي کورس او په ۱۹۶۲ کال د ژورنالستانو کورس موفقانه سرته ورساوه، په کال ۱۹۶۱ د افغان شوروي د دوستۍ ټولنې غړی او په ۱۹۶۳ کال د افغان او چين د دوستۍ ټولنې غړی او په کال ۱۹۶۹ په افغانستان کښې د يونسکو د ملي کميسيون د غړي په حيث انتخاب سو.

مرحوم په ډېرو بين المللي سيمينارونو کښې برخه اخيستې وه او په ۱۹۳۶ کښې يې د پښتو او له درجه جايزه او په کال ۱۹۵۹ کښې يې د رحمان بابا جايزه په شعر کښې وړې وه.

ده پاکستان، ايران، بنګله دېش، هند، ترکيې، جرمني، انګلستان، سعودي عربستان، سويډن، ناروې، لبنان، فدرالي روسيې، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ګرجستان، چين، اذربايجان، قزاقستان ارمنستان ته سفرونه کړي دي.

له مرحوم خواخوږي څخه دا اثار پاته سوي دي:

۱- د مينې وږمه (د اشعارو ټولګه)، ۲- حکايت نه دی حقيقت او درد دی، ۳- يوه ژړوونکې منظره، ۴- مرغلره او نورخان، ۵- شين خالی او ګلالی، ۶- د ګوستاولوبون لنډې خبرې، ۷- دوه ځواني مړګمينان، ۸- د اشعارو دوهمه مجموعه او ۹- د اشعارو دريمه ټولګه.



يادونه: د مرحوم خواخوږي صاحب پورته سوانح د وفا له اوونيزې څخه واخيستل سوه، دا اخبار د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا د پروفيسر عبدالرسول امين او د سرمحقق زلمي هېوادمل، ميرزا محمد کونړی او پير محمد کاروان پېښور- پښتونخوا له خوا نشرېږي.

محمد علم بخرکی

وفا ۱۹۹۳ جنوري - ۷

د ارواښاد خواخوږي په باب ښاغلي پوهاند عبدالشکور رشاد "آبا وفا خواخوږی" تر عنوان لاندې يوه مرثيه ويلې ده.

د خواخوږي صاحب په باره کښې رشاد صاحب داسې فرمايلي دي:

## آبا وفا خواخوږی

ای فرشتې د پاکې مينې په رشتيا خواخوږی
څلی د صدق و د اخلاص و د صفا خواخوږی
اې په تيارو کښې د ځلمو د لارې بلې شمعې
اې په مزلو کښې د زړو د لاس عصا خواخوږی
د وطن مينه ستا د وينې په هر څاڅکي کښې وه
او د ځلمو د ويښ تابه بانګ درا خواخوږی
ستا د وفا ودزناوي ته ککرۍ وې کړې
ځای دې نيولی ؤ په زړه کښې د هر چا خواخوږی

تا په کومک کښې د ببوزلو تمام عمر کړ تېر
دا تخلص هر څوک مني چې وړ و ستا خواخوږی
اروا دې ښاده وه او قبر دې ستا روڼ وي همېش
پر تا دې اوري رحمتونه د الله خواخوږی
"د جنت[1] زړه" دې ستا نصيب کړی په خپل فضل الله
رتبې دې لوړې لره خدا ابا وفا خواخوږی
د مرينې ورځ دې شپږويشتمه د دوهمې خور ده
دوه چې ترې کم کړې کال يې دی "ای با صفا[2] خواخوږی"

## مولوي بهرام خان اڅکزی

د افغانستان په تېره بيا د کندهار په سياسي تاريخ کښې ښاغلی مولوي بهرام خان او حاجي محمد انور خان اڅکزی د شلم قرن په لومړۍ پنځوس کلنه موده کښې د قدر وړ ونډه (حصه) درلودلې ده. خصوصا د سقاوي په خانه جنګي کښې. او هم د هېواد په سياسي نهضتونو کښې دوی دواړه اوړه پر اوږه د ويښ ځلميانو په تحريک کښې کار کړی دی. که وويل سي چې دوی دواړه ددې تحريک روح روان وو، مبالغه به نه وي. مولوي صاحب بهرام خان په ۱۸۹۰ کښې زېږېدلی او په ۱۹۷۵ کښې په کندهار کښې وفات سوی دی. دوی د سپين بولدک په ولسوالۍ کښې د "موله يد" يا (موليد) په کلي کښې لومړنۍ زده کړه کړې ده. وروسته بيا د نور تحصيل له پاره ډيلي (هندوستان) ته تللی دی او هلته يې د فلسفې او منطقو ډګري تر لاسه کړې ده او هم په فقه کښې يې ښه معلومات درلودل.

دوی د افغانستان په سياسي مصايبو کښې ځان نه دی ژغورلې او هر وار يې د خپل سر په سودا ګډون پکښې کړی دی. کله چې په

1 - (د جنت زړه= ن = ۵۰) + (ابا وفا خواخوږی=۱۳۲۱)=۱۳۷۱ل.
2 - ای با صفا خواخوږی= ۱۴۱۵) — ۲=۱۴۱۳هـ ق.



هېواد کښې د سقاوي په نامه داخلي خانه جنګي جاري وه دوی ځان ونه سپماوه او هم د ويښ ځلميانو په پاڅون کښې.

په سقاوي کښې دوی او نور اڅکزي مشران، د غازي امان الله خان په طرفدارۍ راپورته سول او د کافي مبارزې وروسته دوی موفق سول چې د کندهار تر ښاره ځانونه راورسوي. کله چې دوی کندهار فتح کړ، د کندهار نورو اقوامو هم د دوی ملاتړ وکړ، د کندهار د ښار دروازې خلاصې سوې، سقاويانو ماته وکړه، په دې وخت کښې دی د کندهار د عدليې قاضي و. څرنګه چې دا وخت د ګډوډۍ وخت و او پر شکست خورده وطنوالو(سقاويانو) باندې هر ځای ظلم کېده نو بوازيني سړی دی و چې په سلهاو سقاويانو ته يې نجات ورکړ او سقاويانو هم تقريبا ده ته پناه راوړې وه، ده به سقاويان د اعتمادي اڅکزو په لاس د کلات پر لور لېږل او هلته به يې په غرو او رغو کښې خوشي کول او اڅکزو به بېرته ده ته سند راوړی.

خو کله چې غازي محمد نادر خان بيعت ترلاسه کړ، نو کندهار هم مقاومت ونه کړ او خپل بيعت يې ور ولېږه.

مولوي صاحب خلکو ته تدريس هم کاوه، لومړی دوی د کندهار په خرقه شريفه کښې درس ورکاوه، بيا په خپل ابايي جومات کښې چې د کور د څنګه يې واقع و، خلکو ته درس ورکاوه دی په مذهبي امورو او سياسي چارو کښې د خپل وخت يو رسا شخصيت و.

څرنګه چې زما د دوی سره ناسته ولاړه ډېره وه، نو ځان ته دا حق ورکوم، چې د دوی پر طبع هم ورغږېږم.

دی په طبيعت کښې متين ثابت قدمه او د "يوي خولې[1]" سړی و د وطن سره يې ډېره مينه لرله، د هېواد په هره ښه خبره او ترقۍ ډېر خوشالېده او په بدو يې هم ډېره خوا بدېدله، دی يو

1 - "د يوې خولې سړی" پښتو اصطلاح، ثابت قدم.

ديموکراټ سړی وُ او هم دغه وجه وه چې دوی عملاً په ۱۹۴۶ کښې د ويښ ځلميانو په تحريک کښې فعاله برخه واخيستله. په دې وخت کښې دی په کابل کښې د مرافعې قاضي هم وُ. دوی د خپل جاه وجلال هيڅ لحاظ ونه ساته.او په ملي سياسي چوپړ کښې د پروانې په شان ورګډ سو. کله چې په سر کښې د ۱۹۵۲ع کال کښې ويښ ځلميان جوپې- جوپې بنديان کېدل، نو دی هم ګرفتار کړل سو. دوی يوولس (۱۱) کاله بند وګاله او په ۱۹۶۳ع کال کښې د کابل د "دهمزنګ" د بنديخانې څخه راووت، چې صحت يې کافي له لاسه ورکړی وُ. نور نو د دوی سياسي نقش په هم دغه ځای پای ته رسېږي.

په درناوي



## حاجي محمد انور خان اڅکزی

حاجي محمد انور خان اڅکزی په ۱۸۷٦ع کښې زېږېدلی او په ۱۹۷۱ع کښې وفات سو. د دوی زېږند ځای د پښتونستان ګلستان کلی وُ. په هم دغه کلو کښې انګرېزانو د پښتين سيمه د افغانستان څخه جدا کړه او د ګلستان خانان په دې خبره د انګرېزانو سره سخت مخالف سول.

څنګه چې د ګلستان خانان د غازي عبدالله خان اڅکزي تر غزا وروسته د انګرېزانو سره په مخالفت کښې وو. په دې مخالف ماحول او کورنۍ کښې د محمد انور خان روزنه وسوله او يو انقلابي ذهنيت يې پيدا کړ، چې دا انقلابي ذهنيت دده تر ژونده پورې ورسره وُ.

ابتدائي تعليم يې هم هلته په ګلستان کښې تر منځنۍ دورې پورې سرته ورساوه سرکاري کار يې نه دی کړی، په کښت وکر يې ګوزاره وه.

په ۱۹۱۵ کښې چې غازي امان الله خان د استقلال اعلان وکړ. دی ددغه اعلان په تائيد کابل او کندهار ته ولاړ، چې د افغاني پلان سره سم په جهاد کښې برخه واخلي خو سردار عبدالقدوس خان ورته وويل، چې اوس د افغانستان په شرقي سرحداتو کښې د جنرال محمد نادر خان په توسط د انګرېزانو سره مذاکرات شروع دي، که دا مذاکرات ناکام سول، نو به تاسو د "توبې" څخه پر پښين حمله وکړئ او انګرېزان به دلې په ځان اخته کړئ، چې پر کندهار حمله ونه کړای سي. نو دده هم دغسې وکړل خو هغه روغه سرته ورسېده.

په ۱۹۲۸ کښې کله چې د انګرېزانو په دسيسه د غازي امان الله خان او افغانستان پر ضد د سقاو په ذريعه داخلي شورش روان و، دده له انګرېزي حکومت نه بغاوت وکړ او د ملا خير محمد او ځينو نورو

ملګرو په مرسته يې د چمن څخه يوه ميمه او پېرنګی (انګريزه ښځه او انګرېز) ريګستان ته وتښتول چې بيا د افغاني حکومت په وساطت او هدايت هغه يرغمل سوي کسان بېرته انګرېزانو ته سالم او ثابت وروسپارل سول او پر ده باندې په غياب کښې انګرېزانو مقدمه وچلوله. په سقاوی کښې دی او مولوي بهرام خان اڅکزی، سره د يو شمېر نورو قومي مشرانو د غازي امان الله خان په حمايت په جګړه بوخت سول، خو دښمن يې د کندهاره وايست. په دې وخت کښې غازي محمد نادر خان کابل فتح او خطبه يې د ځان په نامه وويله بيعت يې لاس ته راوړ نو د کندهار مبارزينو هم خپل بيعت ورولېږه او اعليحضرت محمد نادر خان دی "ملکي فرقه مشر" مقرر کړ.

په ۱۹۴٦ع کښې چې د ويښ ځلميانو غورځنګ (تحريک) سر راپورته کاوه ده يې ملګري وکړه او په ۱۹۵۲ع کښې چې د ويښ ځلميانو ګرفتاری کېدلې دی هم د څلورو (۴) کلو په بند د کابل په دهمزنګ کښې بندي سو. کله چې د بنده راووت صحت يې خراب سوی و او د خپل ژوند اخيرنی شپې او ورځې يې تېرولې. خو په ۱۹۷۱ کښې په کندهار کښې وفات سو.



## د هغو ويښ ځلميانو نومونه
## چې
## زما په يادښت کښې راغلي دي

الف:

آغا محمد خان رحماني.

آغا محمد خان کرزی.

احمد جان خان طبيب.

ارسلان خان سليمي.

ب:

ببرک ځاځی.

برهان الدين کاکا.

بهرام خان مولوي اڅکزی.

پ:

پير محمد د حاجي لعل محمد زوی.

پير محمد خان د معروف بارکزی.

ح:
حکیم جي د کابل بازار طبیب.

خ:
خدایدوست حاجي بارکزی.

د:
دین محمد خان د کندهار.

ش:
شمس الدین مجروح (دی بیا وروسته اغلبا په ۱۹۵۰ کال کښې د داود خان ملي کلوب ته ولاړ).
شېر احمد جان.
شېر محمد شعشعی.

ص:
صداقت صاحب.
صدیق الله رشتین.

ظ:
ظهورالله همدرد.

ع:
عبدالباري اشنا.
عبدالباري مولانا.
عبدالحی حبیبي، پوهاند (دی که څه هم رسمي غړی نه و خو افتخاري و).



عبدالخالق واسعي.
عبدالرحمن.
عبدالرحیم د میرزا عبیدالله خان زوی.
عبدالرزاق فراهي.
عبدالرسول پښتون والي.
عبدالروف بېنوا.
عبدالسلام خان معروف.
عبدالشکور رشاد، پوهاند.
عبدالصمد خان قاضي.
عبدالعزیز خاورې.
عبدالغفار فراهي.
عبدالغفور ویاند.
عبدالغني خان میوندي.
عبدالواحد د عبدالرحمن خان زوی.
عبدالواحد مامور کاکړ.
عبدالوهاب اغا سید.
عبدالهادي هادي.
عبیدالله صافی د سترې محکمې غړی.
عبیدالله مولوي.
عزیز الدین د کندهار د ملي بانک مدیر.
علي احمد ډاکټر د عقلي او عصبي پروفیسر.
علي محمد شینواري.

غ:
غلام نبي خان کاموي د مرافعې رئیس.
غلام جیلاني خان مدیر الکوزی.
غلام حسن خان صافي.

غلام دستګير خان پوپل.
غلام دستګير خان د کندهار د معارف سرليکونکی.
غلام قادر د ارغنداو.
غلام محی الدين اڅکزی تلګرافي.
غلام محی الدين زرملوال.

ف:
فتح محمد خان ختګر.
فضل محمد وکيل کندهار (د ترافيکو مدير).
فيض محمد انګار.

ق:
قاضي محمد قاضي.
قيام الدين خادم.

ګ
ګلبدين ساعت ساز، کندهار.
ګل پاچا الفت.
ګل شاه خان صافی، ننګرهار.

ل:
لعل محمد خان حاجي.
لعل محمد خان کاکړ.

م:
محمد ابراهيم خواخوږی (دده مفصله سوانح او هم د رشاد صاحب مرثيه په دې کتاب کښې کتلای سئ.).



محمد اصف خان پاسپاس.
محمد انور خان توخی د قلات.
محمد انور خان رئيس.
محمد حسين خان حاجي.
محمد حسين ريدي.
محمد دين ژواک.
محمد رحيم الهام.
محمد رسول پښتون درملتون.
محمد رسول خان پښتون.
محمد رسول مسلم.
محمد طاهر صافي.
محمد عثمان نماينده.
محمد علم بڅرکی.
محمد علي جان استاد، کندهار.
محمد عمر اغا سيد ډربور.
محمد عمر اغا سيد چې اعليحضرت محمد ظاهر شاه ته يې د ځلمو غوښتنليک وړاندې کړ.
محمد نعيم خان بابی.
محمد يوسف اغا حضرت مجددي، مړينه اغلبا ۱۹۹۶ په کليفورنيا کښې.
محمودي صاحب ډاکتر (چې دوی په ۱۳۲۸ کښې کله چې کندهار ته تشريف راوړی و په دې تحريک کښې لاسليک کړی دی).
موسی شفيق چې بيا صدراعظم سو.
ميرا جان سيال کوډاخېل مومند.
محمد عمر خان ميوندي شېراغا.
محمد انور خان حاجي اڅکزی، کندهار.

ن:

نظر محمد اخک.

ننګرهاری صاحب.

نور احمد برېخي ډاکټر.

نور احمد شاکر.

نورالحق خان کندهاري.

نور محمد تره کی.

نور محمد خان نماینده پوپلزی.

نیک محمد پکتیاني.



# د لیکوال لنډ ژوند لیک

زه محمد علم بڅرکی په ۱۹۲۱ع کښې زېږېدلی او په ۲۰۰۰ع کال کښې لا ژوندی یم. ابتدایي تعلیم مې د کندهار د احمد شاهي لیسې څخه کړی دی. وروسته بیا د کابل د طب په پوهنځي کښې داخل شوم خو د طب مسلک ته مې د خپل طبعي میل په اساس دوام ورنه کړ، وروسته بیا د کندهار د مجلې مدیر، بیا د کندهار د مطبعې مدیر وم. د کندهار په مجله کښې د خپل وخت ډېر انقلابي، علمي او ادبي مضامین چاپ شوي دي، چې د کندهار د صحافت په تاریخ کښې ځانګړی ځای لري.

د وېښ ځلمیانو د سیاسي غورځنګ په وخت کښې د کندهار د ځلمو د حزب منشي وم. په دې دوران کښې په وار وارو فرار شوی یم. څو د وېښ ځلمیانو په عمومي بندیګرۍ کښې څلور کاله د کندهار په عسکري چوڼۍ کښې بندي وم.

په ۱۹٦۵ع کښې ولسي جرګې ته کاندید شوم، خو د مرکزي حکومت په نمایندګۍ زابلي صاحب کندهارته راغی او زه یې د روښنفکرۍ په ګناه محکوم کړم، د کندهار بلدیې خانان او مشایخ یې زما په مقابل کښې وپارول او زه ناکامه شوم، زما ملګري د وخت روښنفکران وو، زابلي صاحب د پیسو او د ماموریت د رتبو راکولو ډېر پېشنهادونه راته وکړه، خو ما ملي چوپړ ته ترجیح ورکړه هغه مې ونه منل. او سلطنتي قدرت ته مې سر ټیټ نه کړ.

په ۱۹۷۲ع کښې زه، ښاغلي پوهاند حبیبي صاحب او عبدالصمد ویسا صاحب په یوه مکتوب د موسی شفیق صدر اعظم په وخت کښې نامطلوبه کسان وبلل شولو او تقاعد مو وکړ.

په ۱۹۸۰ع کښې چې کمونیستي دوره پیل سوه ما هجرت وکړ.

کوم کتابونه مې چې ليکلي او چاپ شوي دي، دا دي:

۱- روسي يرغل پر افغانستان باندې.

۲- افغانستان مې حکمران پارټي (په اردو ژبه).

نوټ: د پورته دوو کتابو موضوعات سره جلا دي.

۳- تاج: دا د رابندرنات ټيګور د "مکتب" کتاب څخه په پښتو ترجمه ده.

۴- د خان صاحب محمد ايوب خان سوانح – په پښتو باندې.

۵- طلسم عمل کتاب – په پښتو ترجمه، او په طلوع افغان اخبار کښې نشر شوی دی.

۶- د هګل فلسفه: په پښتو ترجمه، او په طلوع افغان کښې نشر شوی دی.

۷- د کندهار مجله ۵ کاله وچلېده او ډېر مترقي مضامين پکښې ليکل شوي دي.

۸- په کوټه کښې د ګهيځ د مجلې مدير وم.

**ناچاپ شوي کتابونه چې راته پراته دي:**

۱- د حاجي محمد انور خان سوانح.

۲- غربي افکار او نظريات: د انګرېزۍ څخه ترجمه.

۳- متلونه.

۴- (The Cold and Book) ترجمه ده په پښتو – پراتمې موضوع.


۵- د ښځو تاريخ د قبل التاريخ څخه بيا تر نن پورې، خپله ليکنه.

۶- تورې پېښې، خپله ليکنه.

۷- د پښتو هغه لغات چې د ښارو څخه وتلي په صحراو کښې يې ځای نيولی دی، د ۲۰۰۰ شا اوخوا لغات.

۸- ببيلو ګرافي د "الف" څخه تر "ی" پورې، څلور جلده.

۹- کرونو لوژي، د قبل التاريخ څخه تر نن پورې، پنځه جلده.



محمد علم بحرکی

افغانی کلتوری تولنه - نیدرلیند